UN VOLUNTEERS

د اطلاعاتو او کلتور وزارت

د ځوانانو چارو معینیت

UNDP

Empowered lives.
Resilient nations.

# د مناظري لارښود

## چمتو کوونکی:

### په افغانستان کې د جنډر برابرۍ، ودې او پراختیا پروژه

EGEMA (Enhancing Gender Equality and Mainstreaming in Afghanistan)

د ۲۰۱۸ کال د اپریل میاشت

## د موضوعاتو لړلیک


سريزه: ........ ۹
لومړی خپرکی ........ ۱۱
مناظره ........ ۱۱
مناظره څه ته وايي؟ ........ ۱۲
.۱,۱. د مناظرې ډولونه: ........ ۱٦
سياسي مناظره: ........ ۱٦
پارلماني مناظره: ........ ۱۷
**.۲,۱. د کارل پاپر چوکاټ په پام کې نيولو سره د مناظرې ترسره کول: ........ ۱۷**
.۱,۲,۱. قواعد او مقررات: ........ ۱۷
.۲,۲,۱. د ويناوالو مسووليتونه: ........ ۱۹
**لومړي موافق ويناوال (الف ۱): ........ ۱۹**
لومړی (۰۱) مخالف ويناوال: ........ ۲۰
**دويم موافق ويناوال(الف ۲): ........ ۲۰**
دويم مخالف (۰۲) ويناوال: ........ ۲۱
درېيم موافق ويناول (الف ۳): ........ ۲۱
درېيم (۰۳) مخالف ويناوال: ........ ۲۲
**A. د لومړي (الف۱) موافقو او لومړي (۰۱) مخالفو ويناوالو له خوا رغانده ويناوې: ........ ۲۲**
د دويم (الف ۱) موافق او دويم (۰۲) مخالف ويناوال لهخوا مخالفې ( پراختيا ورکوونکې) ويناوې: ........ ۲۲
د درېيم (الف۳ ) ويناوال او درېيم (۰۳) مخالف ويناوال لهخوا د پای ويناوې: ........ ۲۳
.۳,۲,۱. د مناظرې موضوعاتو/بحثونه: ........ ۲۳
**.۴,۲,۱. کليدي کلمې: ........ ۲۴**
کليدي کلمې بايد لاندې ځانګړني ولري: ........ ۲۴
.۵,۲,۱. معيارونه: ........ ۲۴
معيارونه بايد لاندې ځانګړنې ولري: ........ ۲۴
.٦,۲,۱. استدلال او د هغه جوړښت: ........ ۲۵
.۷,۲,۱. د موافق ټيم قضيه (موافقه قضيه): ........ ۲٦
.۸,۲,۱. د مخالف ټيم قضيه (مخالفه قضيه): ........ ۲۷
.۹,۲,۱. د نظر اختلاف ستراتيژی: ........ ۲۸

ځنګه کولی شو یو مخالف دریځ خپل کړو؟ .................. ۲۸
تګلاره / د نظر اختلاف: .................. ۲۹
دویمه کچه د معیاري ارزښتونو له پرتلې څخه عبارت ده. مخالف اړخ کولی شي هغه انتخاب کړي. .................. ۲۹
درېیمه کچه: .................. ۳۰
څلورمه کچه: .................. ۳۲
۱،۲،۱۰. د ثانوي رول لوبوونکیو دندې: .................. ۳۳
**۱،۲،۱۱. متقابلې پوښتنې:** .................. ۳۴
۱،۳. د امریکا متحده ایالتونو پارلماني مناظره: .................. ۳۵
۱،۳،۱. د پارلماني مناظرې رولونه: په دې اړه لنډه تبصره: .................. ۳۵
د هر ټیم رول: .................. ۳۸
د چمتووالي له پاره وخت: .................. ۳۸
۱،۳،۲. د مناظرې د ویناوالو مسوولیتونه: .................. ۳۸
لومړی وزیر .................. ۳۸
داپوزیسیون رهبر: .................. ۳۸
د پارلمان غړی: .................. ۳۹
د اپوزیسیون غړی: .................. ۳۹
داپوزیسیون رهبر: .................. ۳۹
لومړی وزیر: .................. ۳۹
۱،۳،۳. د قضیې چمتو کول: .................. ۴۱
تسلسل: .................. ۴۱
عدالت: .................. ۴۲
وضاحت: .................. ۴۴
تکرار/تضاعف: .................. ۴۵
د تعریف له اړخه، په واقعیت کې تکرار/ تضاعف یوه سمه جمله ده. .................. ۴۵
د قضیې مطالعې د چمتووالي لپاره نور وړاندېزونه په لاندې ډول دي: .................. ۴۵
*۱،۳،۴. د قضیو ډولونه:* .................. ۴۶
الهام ښنوونکې/هڅوونکې قضیه: .................. ۴۶
فلسفی (ارزښتناکه) قضیه: .................. ۴۶
لاندې یې څو بېلګې وړاندې کېږي: .................. ۴۷
پر وخت متمرکزه قضیه: .................. ۴۷
۱،۳،۵. رغانده ویناوې .................. ۴۸

د لومړي وزير رغانده وینا:.......................................................................................... ٤٨
د اپوزيسيون د رهبر رغانده وینا:.................................................................................. ٤٩
د پارلمان د غړي رغانده وینا: ..................................................................................... ٥٠
د اپوزيسيون غړي رغانده وینا:..................................................................................... ٥١
او بالاخره يو مهم قاضی:............................................................................................. ٥٢
د نظر اختلاف:........................................................................................................ ٥٢
ستراتيژي:............................................................................................................. ٥٤
۱،۳،۷. د اطلاعاتو ټکي:................................................................................................ ٥٦
۱،۳،۸.  اعتراضات:....................................................................................................... ٥٧
د وړاندې کولو چوکاټ په اړه اعتراض:.............................................................................. ٥٧
له نظم څخه سرغړونه په لاندې حالتونو کې رامنځته کېږي:...................................................... ٥٨
شخصي اعتراض:...................................................................................................... ٥٨
۱،۴. د انګلستان پارلمان مناظره:...................................................................................... ٥٩
موضوع: ............................................................................................................... ٦٠
چمتووالی:.............................................................................................................. ٦٠
د اطلاعاتو / پوښتنو ټکي: ........................................................................................... ٦١
د وینا زماني محدوديت:.............................................................................................. ٦٢
قضاوت: ............................................................................................................... ٦٢
**۱،۴،۲. تعریفونه:**...................................................................................................... ٦٣
تعریف باید لاندې ځانګړني ولري: ................................................................................... ٦٣
د تعریف بدلون: ....................................................................................................... ٦٤
د تعریف بدلولو بهیر ارزونه:.......................................................................................... ٦٤
۱،۴،۳. قضیه: .......................................................................................................... ٦٥
د قضیې تعریف ....................................................................................................... ٦٥
د قضیې عناصر: ...................................................................................................... ٦٥
د قضیې ارزونه:........................................................................................................ ٦٦
۱،۴،۴. سبک:........................................................................................................... ٦٧
د سبک تعریف: ....................................................................................................... ٦٧
د وینا وړاندې کولو سبک:............................................................................................ ٦٧
د سبک عناصر:......................................................................................................... ٦٧
د  جوړښت عناصر: ................................................................................................... ٦٨

د سبک ارزونه:........................................................................................................ ٦٩
۵,۱. د معما لوبه ........................................................................................................ ٦٩
۱,۵,۱ د معما لوبې چوکاټ........................................................................................ ٦٩
د ستونزې دوران: ........................................................................................................ ۷۱
د ستونزې رامنځته کېدل:........................................................................................ ۷۳
د پروژې دوره: ........................................................................................................ ۷۵
د لوبې بهیر په اړه اعتراض:........................................................................................ ۷۷
شخصي اعتراض - د سیال شخصي زیان:........................................................................ ۷۷
۲,۵,۱. د پروژې جوړښت:........................................................................................ ۷۸
دویم څپرکی ........................................................................................................ ۸۰
د قضایی چلند اساسات........................................................................................ ۸۰
**۱,۲. د قضایی چلند اساسات: ........................................................................................ ۸۱**
د قاضیانو مسوولیتونه:........................................................................................ ۸۱
یو قاضی باید د دندو ترسره کولو لهپاره لاندې موارد په پام کې ونیسي: ........................ ۸۱
**د هغې مناظرې په اړه قاضیانو ته سپارښتنې چې د کارل پاپر چوکاټ په پام کې نیولو سره ترسره کېږي:........................................................................................ ۸۲**
۱,۳,۲. د قضاوتمعیارونه:........................................................................................ ۸۲
**۲. وضاحت:........................................................................................ ۸۲**
**۳. جوړښت:........................................................................................ ۸۲**
**۲,۳,۲ د تصمیم نیونې سبکونه:........................................................................................ ۸۳**
تعادل رامنځته او ګټوونکی مشخص کړئ:........................................................................ ۸۴
۳,۳,۲. د نمرو د فورمونو ډکول:........................................................................................ ۸۴
۴,۳,۲. د کارل پاپر مناظرې په چوکاټ کې د نمرو د فورمې بېلګه: ........................................ ۸۴
کوډونه: ........................................................................................................ ۸۷
**۴,۲. د آمریکا متحده ایالتونو پارلماني مناظرې په اړه د قاضیانو سپارښتنې: ........................ ۸۸**
۱,۴,۲. د قضاوت معیارونه ........................................................................................ ۸۸
استدلال او تحلیل: ........................................................................................ ۸۸
محتویات:........................................................................................................ ۸۸
د نظر اختلاف/ د قضیې ردول: ........................................................................ ۸۹
تنظیم: ........................................................................................................ ۸۹
سبک او څرګندول: ........................................................................................ ۸۹

مناسبه شوخي: ........................................ ۸۹
پوښتنې: ........................................ ۸۹
گروپي کار: ........................................ ۹۰
۲،۴،۲. د ويناوالو نمرې: ........................................ ۹۰
په لاندې برخه کې د ويناوالو د نمرو ستندرډ مقياس وړاندې شوی دی: ........................................ ۹۰
د قاضی پروتوکل: ........................................ ۹۲
د مناظرو پروتوکول: ........................................ ۹٤
**۵،۲. قاضيانو ته د انگلستان پارلماني مناظرې په اړه سپارښتنې: ........................................ ۹٤**
۱،۵،۲. د ويناوالو د ارزونې سيستم: ........................................ ۹٤
۲،۵،۲. د ويناوالو شفاهي ارزونه ........................................ ۹۵
٦،۲. کارپوهانو ته د معما لوبې په اړه سپارښتنې: ........................................ ۹٦
۱،٦،۲. د ستونزې دورې په اړه قضاوت: ........................................ ۹۷
**۲،٦،۲. د پروژې دورې په اړه قضاوت: ........................................ ۹۸**
د پروژې دورې په اړه د قضاوت لارښود: ........................................ ۹۸
د پروژو ارزونه: ........................................ ۹۸
د ويناوالو ارزونه: ........................................ ۹۹
**د پروژې په دوره کې د مباحثاتو پروتوکول: ........................................ ۱۰۰**
**د پروژې دورې د پايلو پروتوکول: ........................................ ۱۰۰**
۳،٦،۲. د پروژې د ارزونې معيارونه: ........................................ ۱۰۲
د نمرو ورکولو معيارونه: ........................................ ۱۰۳
جزئياتو ته د نمرو ورکول: ........................................ ۱۰٤
اعتبار ته د نمرو ورکول: ........................................ ۱۰۵
اغېزناکتيا/کارندەتوب ته د نمرو ورکول: ........................................ ۱۰۷
۴،٦،۲. د وينا ارزونې معيارونه: ........................................ ۱۰۸
درېيم څپرکی ........................................ ۱۱۰
روزنيز فعاليتونه ........................................ ۱۱۰
۱ - د گډونوالو گمارنه ........................................ ۱۱۱
۲. د ادارې ملاتړ ترلاسه کول: ........................................ ۱۱۱
۲،۳. په پوهنتونونو کې د مناظرې ټيمونه: ........................................ ۱۱۲
۳،۳ د مناظرې او د هغې د جوړښت په اړه روزنه: ........................................ ۱۱۳
۴،۳. د مناظرې روزونکيو لەپاره لوبې او تمرينونه: ........................................ ۱۱۳

۱،۴،۳. د روزنې پیل: بلدتیا: ........................................................ ۱۱۳
۱. لوبه "واورین توپ": ........................................................ ۱۱۳
۲. د " څوک وموميځ چې ..." لوبه: ........................................................ ۱۱۴
۳. " د ځان ضفت وکړئ" لوبه: ........................................................ ۱۱۴
۴. "د ټايپ چيني يي ماشين " لوبه: ........................................................ ۱۱۴
۵. د زيپ – زپ – زوپ يا (ZIP-ZAP-ZUP) لوبه: ........................................................ ۱۱۵
٦. د "ورته / په فرد پورې منحصره" لوبه: ........................................................ ۱۱۵
۲،۴،۳. اصلي برخه/بدنه: ........................................................ ۱۱٦
۲. د"ټايتانک" بيړۍ: ........................................................ ۱۱۷
۳. "وچه بيديا": ........................................................ ۱۱۷
۴. " تر ټولو کم ارزښته څيزونه": ........................................................ ۱۱۷
۳،۴،۳ د ويناوو او غوږ نيولو مهارتونو د پراختيا په اړه تمرينونه: ........................................................ ۱۱۷
د استاد لوبه: ........................................................ ۱۱۸
د هغو معتبرو اخذليکونو لړليک چې ورنه استفاده شوې ده: ........................................................ ۱۴۰
لومړۍ ضميمه ........................................................ ۱۴۱
**۱. د مناظرې موضوعاتو لړليک:** ........................................................ ۱۴۱
**د کارل پاپر مناظرې موضوعاتو لړليک:** ........................................................ ۱۴۱
د پارلماني مناظرو د موضوعګانو لړليک: ........................................................ ۱۴۳
په معما لوبه کې د شاملو موضوعګانو لړليک: ........................................................ ۱۴۴
دويمه ضميمه ........................................................ ۱۴۵
**۱. د مناظرې بين المللي بنسټونه:** ........................................................ ۱۴۵
د امريکا متحده ايالتونو د پارلماني مناظرو ټولنه يا (APDA): ........................................................ ۱۴۵
د متقابل آزمايښت مناظرې ټولنه يا (CEDA): ........................................................ ۱۴٦
د کالجونو ترمنځ د مناظرو ترسره کولو لهپاره د کاناډا پوهنتونو ټولنه يا (CUSID): ........................................................ ۱۴٦
د پارلماني مناظرو ملي ټولنه يا (NPDA): ........................................................ ۱۴۷
درېيمه ضميمه ........................................................ ۱۴۸
د مناظرې ترسره کولو بين المللي تورنمنټونه: ........................................................ ۱۴۸
د کارل پاپر مناظرې چوکاټ: ........................................................ ۱۴۸
په انګلستان کې پارلماني مناظرې: ........................................................ ۱۴۸
د امريکا متحده ايالتونو پارلماني مناظرې: ........................................................ ۱۴۹
**د معما لوبه:** ........................................................ ۱۵۰

**څلورمه ضمیمه**........................................................................................................................ ۱۵۱
د مناظرو ترسره کوونکي اکاډمۍ او ښوونځي:............................................................................ ۱۵۱
**پنځمه ضمیمه**........................................................................................................................ ۱۵۲
**٤. فوق العاده ویناوې( پخوانۍ و اوسنۍ):** ................................................................................ ۱۵۲
د سقراط وروستۍ وینا:................................................................................................................ ۱۵۲
میلیت: ....................................................................................................................................... ۱۵٤
**مارتین لوتر کنگ "زه یو خیال لرم":**.......................................................................................... ۱٦٤
تریسا مور ................................................................................................................................ ۱٦۹
ستیف جابز:.................................................................................................................................. ۱۷۳
**"وړی پاتې کیدل، په واقعیت کې احقمانه ژوند کول دي"** ............................................................ ۱۷۳
زما دربیم داستان د مرگ په اړه دی.............................................................................................. ۱۷٦
بیل گیتس: ................................................................................................................................. ۱۷۹
**شپږمه ضمیمه** ...................................................................................................................... ۱۹۰
د مناظرې مصطلحات:................................................................................................................. ۱۹۰

## سریزه:

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیایی پروګرام (UNDP) په ۲۰۱٦ کال کې «**په افغانستان کې د جنډر برابرۍ د ودي او پراختیا پروژه یا** EGEMA (Enhancing Gender Equality and Mainstreaming in Afghanistan) » **تر سرلیک** لاندې دوه کلنه پروژه پیل کړه. د « ځان‌بسیاینې درک» مسألې په شمول د جنډر برابرۍ او ښځو د د ارتقاءپه برخو کې د دولت د یوزیات شمېر ژمنو د پیاوړتیا اصل ته په پام سره، د دی هدف لاس‌ته راوړلو کی به د ښځو چارو وزارت ملاتړ او پیاوړتیا شامله وي، چې په واقعیت کې د افغان ښځو د سیاسي، ټولنیزو، قانوني، حقوقي او مدني لاسته‌راوړنو د چټکتیا په برخه کې د پالیسي جوړونی او څارنی ی رول لري. دغه چاره به د مستقیم تخنیکي ملاتړ چمتو کولو له لارې د یاد وزارت د سازماني وړتیا لوړوني او له نورو اړوندو وزارتونو سره د ګډو پروژو پلي کولو لامل شي چې د ښځو چارو وزارت به په کې د همغږۍ کوونکی رول ولوبوي. د پروژې یو له څلور ګونو برخو څخه چی د ټولنیز چلند د بدلونونو پر موډل تمرکز کوي څو د نابرابرۍ یو اساسي لامل ته چې د سنتي ارزښتونو او دودونو څخه سرچینه اخلي، رسیدنه وکړي. د یادې پروژۍملاتړد ملګرو ملتونو د رضاکارو ټیمونو له خوا کېږي او یو له فعالیتونو څخه یې په عامه ځایونو کې د جنډر برابرۍ او ښځو حقونو په اړه د مناظرې جوړول دي. د دې لپـــاره چې وکولی شو یاده مناظره په اغېزناکه توګه په لار واچوو او ښې پایلې ورڅخه ترلاسه کړو، دا دی د مناظرې تنظیموونکو ، ګډونوالو او رهبري پلاوي ته یاد لارښود وړاندې کوو.

دغه لارښود په پرمخ تللیو هېوادونو کی لکه د امریکا متحده ایالتونو او انګلستان په پارلمانونو کې د مناظرې د ډولونه، د مناظرې ترسره کولو لپـــاره د اړتیا وړ مهارتونه، د هغو قالبونه او په ساده او مشهورو مناظرو کې د قاضیانو او روزونکو د فعالیتونو او اساساتو په اړه توضیحات وړاندې کوي. همدارنګه یاد لارښود نویو او بې تجربې مناظره کوونکو او د مناظرې کلپونو تنظیموونک و ته د مناظرې د ډولونو په اړه یوه ټولیزه مطالعه وړاندې کوي، د محصل د ګمارنې له‌پاره مفکورې چټکوي او روزونکـــوسره به د یو روزنیز پلان په چمتو کولو او د تمرینونو په غوراوي کې مرسته وکړي. له دې سربېره به یاد لارښود د مناظرو پروګرامونو د راتلوونکو قاضیانو له پاره د مأخذ سرچینه واوسي. مناظره په واقعیت کې د ورځنیو موضوعاتو په اړه د دوو اړخونو ترمنځ د تنظیم شویو او جوړښتي مفکورو له تبادلې څخه عبارت ده. د مناظره کوونکو د بحثونو هدف دا دی څو درېیم‌ګړی ته د خپل استدلال د سوالي په اړه قناعت ورکړي، نه یوبل ته.

د رضاکارانو پروګرام د ملګرو ملتونو یو سازمان دی،چې رضاکارانه فعالیتونه پیاوړي کوي، څو په ټوله نړۍ کې له سولې او پرمختیا څخه ملاتړ وکړي. رضاکارانه فعالیتونه کولی شي د پرمختیا په روحیه او ماهیت کې

د بدلون لامل شي او په دې توګه په ټولیز ډول ټولنې او رضاکار ته ګټه ورسوي. د ملګرو ملتونو سازمان د رضاکارانو پروګرام د نړۍ په کچه د رضاکارانه فعالیتونو د ترسره کولو له پاره د حق غوښتنې په موخه د پرمختیایي پروګرامونو په طرحه کې د هغوی د شاملولو له پاره د شریکیانو د هڅولو او بالاخره د سولې او پرمختګ په موخه د رضاکارانو د انسجام په برخه کې د پام وړ رول لوبوي.

په ډېری کلتورونو او پخوانیو دودونو کې رضاکارانه فعالیتونه د ټولنې په مشارکتي او ملاتړو پروګرامونو کې ژورې ریښې لري، د دغه اصل په پام کې نیولو سره، د ملګرو ملتونو سازمان له خپلو ملګرو، کورپه بنسټونو او ځایي ټولنو سره اوږه په اوږه د سولې په ټینګښت او پرمختګ په ډېری رضاکارانه فعالیتونو کې ونډه اخلي.

د ملګرو ملتونو رضاکاران په ټولو ورسپارل شویو دندو کې د خپلو اقداماتو او چلند له لارې رضاکارانه فعالیتونه ترویج او پیاوړي کوي. په رضاکارانه فعالیتونو کې ښکیلتیا کولی شي، په مثبته او اغېزناکه توګه د ځایي ټولنو په اړه د هغوی درک لاپیایه کړي. هغه وخت چې دوی د رضاکار په توګه په ملګرو ملتونو سازمان کې تیروي، د دې لامل کېږي چې لازیات معنوي امتیازات او لاسته راوړنې ولري.

د ملګرو ملتونو سازمان د رضاکارانو پروګرام په افغانستان کې د **جنډر برابرۍ د ودې او پراختیا پروژې** یــــا EGEMA (Enhancing Gender Equality and Mainstreaming in Afghanistan) ځانګه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو چارو معینیت لپــاره لازم ملاتړ چمتو کوي؛ څو په هېواد کې د رضاکارانو شبکې مدیریت او رهبرۍ مسوولیت پر غاړه واخلي. یاد رضاکاران د جنډر برابرۍ په شمول د یو زیات شمېر مسائلو په اړه له ټولنې سره مباحثې کوي. له همدې امله هغوی اړتیا لري څو د مباحثاتو په ځانګړې توګه د مناظرو د رهبرۍ څرنګوالي په اړه وروزل شي چې حتی کیدی شي هغه په ښوونځیو کې ترسره کړي. په ډیموکراټیکو ټولنو کې مناظره د سیالو ګروپونو ترمنځ مباحثو کې اساسي فعالیت ګڼل کېږي، څو وکولی شي د هغو پر بنسټ خپلو ستونزو ته رسیدنه وکړي، د نورو نظریو ته درناوی ولري او بالاخره یادو ستونزو ته منطقي حل لارې ومومي.

د مناظرې لارښود چې د ملګرو ملتونو سازمان پر ختیایي پروګرام یا (UNDP) له خوا په ازبکستان هېواد کې چمتو شوی، له کوچنیو بدلونو سره د افغانستان له شته شرایطو سره برابر شوی دی. تمه ده چې یاد لارښود د رضاکارانو له شبکو سره مرسته وکړي څو د ښځو حقونو په اړه په خپل چلند او سلوکو کې د مثبتو بدلونونو په راوستو سره له ټولنې سره خپلو اړیکو/ پوهاوی کې د پام وړ ښه‌والی راولي.

# لومڕی خێرکی

# مناظره

## مناظره څه ته وايي؟

مناظره په حقيقت کې د خلکو مخاطب ګرځول او يوه مستقيمه شفاهي مباحثه يا سيالۍ ده چې په ترڅ کې يې د دوو يا زياتو کسانو ترمنځ استدلال کېږي. يوه رسمي مناظره دوه اړخونه لري: يو لوری د يوې مسألې يا حل لارې د ملاتړي او بل يې د مخالف په توګه. دغه ډول مناظره عموماً د هغو قاعدو پر بنسټ ترسره کېږي چې له مخکې نه ورباندې هوکړه شوې وي. ښايي د مناظرې په اړه قضاوت هم وشي څو ګټوونکی لوری اعلان شي. له مناظرې څخه استفاده چې په هره بڼه وي، په ډيموکراټيکو او ولسواکو ټولنو کې عموميت لري څو د ټولنې داخلي مسائل او ستونزې تشخيص او حل او فصل شي. په عامه بنسټونو، ټولنو او ځايي ارګانونو کې تصميم نيونې عموماً د مباحثې او مناظرې له لارې ترسره کېږي. په حقيقت کې د دوو يا زياتو کسانو ترمنځ د يو حل لارې په اړه مباحثه د مناظرې يو ډول ګڼل کېږي چې ښايي د رسمي قواعدو پر مټ رهبري او يا هم رهبري نه‌شي. ښايي په مناظره کې د بحث وړ موضوع د يادې موضوع پورې اړوندو ترلاسه شويو پوهو، مهارتونو او ارزښتونو پر مټ رهبري شي.



د مناظرې هدف په دې اړه يوې بې پرې لوري ( قضاوت‌کوونکي، کارپوهان او خلک) ته قناعت ورکول دي چې د يوې ځانګړې موضوع په اړه مو موقف او دريځ څرنګه چې ستاسو په استدلال کې څرګندېږي، د مقابل لوري د دريځ او استدلال په پرتله پياوړی دی. د مناظرې مخينه له پخواني يونان څخه پيلېږي، هغه څه چې د ډيموکراسۍ مهم عنصر ګڼل کېږي. د آتن ښاريانو به د وړاندېز شويو قوانينو د نيمګړتياوو او ښېګڼو په اړه مناظره کوله او پيروانو يې دا زده کول چې د ستونزو په اړه بحث او استدلال وکړي او له بېلابېلو اړخونو څخه يې تحليل کړي څو وکولی شي هغه په ښه توګه درک کړي.

د پنځلسمې پيړۍ په وروستيو کې په پوهنتونونو کې زده‌کړې په لکچر بڼه وې، استادانو به د پخوانيو پوهانو او روحانيونو خپرونې او تحميلي تأليفات لوستل او د هغو په اړه به يې تبصرې کولې او د موضوع‌ګانو تيوري او فلسفي پوښتنو په اړه يې مناظرې تنظيمولې څو استادان په کې رول ولوبوي. په ځنې برخو کې به محصلانو هم په‌کې برخه اخستلې.

په سر کې مناظرو د امريکا متحده ايالتونو پوهنتونونو ته لار ومونده، د نولسمې پيړۍ په نيمايي کې مناظرې د ختيځو، مزکزي او لويديزو سواحلو اوکاليفورنيا ايالتونو کې ترسره کيدې. يناوالو به خپلې يناوې له

سیالۍ مخکې چمتو کولې او د خپلو مخاطبانو  پر وړاندې به یې خبرې کولې، خو د مناظرې په اړه قضاوت له پاره هیڅ څرګند معیار نه وو موجود. د  ۱۹۲۰کال په لومړۍ لسیزه کې مناظرې په هم مهاله توګه په څو امریکایي پوهنتونونو کې ترسره شوې او د محصلینو ځای په تدریجي ډول قاضیانو خپل کړ. د ۱۹٦۰ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په ترڅ کې د جان آف کینیدي او ریچارډ نیکسون ترمنځ لومړنۍ تلویزیوني مناظرې د ملت پام ځان ته ور واړاوو.

نن ورځ کابو د نړۍ په هر ګوټ کې مناظره عمومیت لري چې د یو زیات شمېر هېوادونو د ښوونځیو او پوهنتونونو په پروګرامونو کې د مناظرې بېلابېل ډولونه کتلی شئ. اوس په ښه توګه درک شوې چې مناظره کولی شي مهارتونو ته پراختیا ورکړي، لکه؛ عامه ویناوې، ژور فکر، د یو مشخص وضیعیت د توضیح له پاره له تجزیې او تحلیل څخه استفاده، د  یو کس له دریځ څخه قانع کوونکي دفاع، منطقي استدلال او بالاخره د ستونزو د  حل له پاره یو خلاقانه تګلاره. اوس مهال د امریکا متحده ایالتونو او اروپا په کابو ټولو پوهنتونونو کې د مناظرې کلپونه موجود دي.

د مناظرې د عمومي ژبې په مطالعې سره به د دې وړتیا ومومئ څو د مناظرې نړۍ قواعد په آسانۍ سره درک کړئ،  موږ اړ یو څو له هغو قوانینو څخه اطاعت او پیروي وکړو چې د مناظرې طرزالعملونو په توګه تصویب شوي  او په درېو اصولو ولاړ دي، چې له هغو څخه هر ډول سرغړونه د قاضیانو له خوا تر ځارنې لاندې نیول کېږي. لومړی اصل له روزنې څخه عبارت دی؛ مناظره داسې یو فعالیت ګڼل کېږي، چې کولی شي ستاسو د پوهاوي کچه لوړه کړي او په عین حال کې به درته یوه ښه سرګرمي او بوختیا وي. د دغه اصل پر اساس د مناظرې په اړه لومړنی استدلال له زده‌کړې څخه عبارت دی. په بل عبارت: دا مهمه نه ده چې بریالي واوسئ، خو باید پوهه ترلاسه کړئ، ځکه چې د پوهې ترلاسه کول تر ډېره اصلي بریا ګڼل کېږي.

دویم اصل له صداقت او ریښتنولۍ څخه عبارت دی، ریښتنولي باید د هر هغه کار اساس وي چې په مناظره کې ترسره کېږي. مناظره عموماً د انسانانو د لوړو ګټو د ټینګښت او تأمین له پاره ترسره کېږي. موږ تل غواړو څو په حقیقت پوه شو. آیا سیاسي اصلاحاتو ته اړتیا لرو؟ آیا موږ به نورو سیارو ته سفر وکړو؟ او آیا په نورو سیارو کې د ژوند کولو امکانات شته؟ دا ټول هغه مسائل دي چې په تیر، راتلوونکي او حال کې د حقایقو له لټون سره تړاو لري. یوازنۍ لار چې کولی شو پر مټ یې حقایق ومومو، د  هغو پوښتنو له ځوابولو څخه عبارت ده چې د انسان د پلټوونکي مغز پر مټ مطرحه کېږي.
درېیم اصل له درناوي څخه عبارت دی، مناظره عموماْ پر ګډونوالو تمرکز نه لري او هغوی باید له یوبل سره د نه هوکړې له امله تحقیر او سپک نشي. مناظره عموماْ له مفکورو څخه زېږنده پایلو او بالاخره ټولنې ته د

یادو مفکورو په ګټورتیا پورې اړه لري. د مفکورو ترمنځ د ترینګلتیا پر مهال، یوازینۍ د منلو وړ وسیله له مشروع او مجاز بحث او استدلال څخه عبارت ده. په بل عبارت، یو کس کولی شي د بل پر ملاتړو شواهدو او د استدلال پر مشروعیت او اړیکو «برید وکړي» نه پر مقابل لوري، ځکه چې دغه ډول موارد باید د هغوی له شخصیتونو څخه بیل وي.

په پای کې ویلی شو چې سیستماټیک تمرین ته اړتیا ده، څرنګه چې وايي: « تر هغه چې لامده نه‌شئ هیڅکله لامبل نشئ زده‌کولی» له همدې امله لازمه ده چې د مناظرې په کلپونو کې غړیتوب ترلاسه کړئ ( د دې له‌پاره چې پوه شئ څنګه وپوهېږئ، دغه کار ترسره کړئ، په مهربانۍ سره د دغه لارښود اړوندې برخې ته مراجعه وکړئ) په اوونۍ کې یو درې ساعته درسي ساعت چې د مناظرې له جبري تمرین څخه برخمن دی، د مناظرې مهارتونو د ودې له پاره لازمي شرط ګڼل کېږي. په همدې توګه باید د خپل ښار د مناظرې په ټورنمنټونو کې فعاله ونډه واخلئ ( دا کیدی شي د روزنیزو او دولتي بنسټونو او حتی د فعالو ځوانانو د ګروپونو له خوا ترسره شي) همدارنګه کولی شئ د مناظرې په بین المللي ټورنمټونو کې ګډون وکړئ چې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې ترسره کېږي؛ په دې ځینې د اړتیا وړ معلومات په دغه لارښود کې وړاندې شوي دي.

په مناظره کې د ګډون وړتیا ترلاسه کول به مو د ژوند له پاره ګټور وي، ځکه چې دغه روزنیز مهارتونه دي چې درسره مرسته کولی شي څو په خپلو مسلکي او روزنیزو فعالیتونو کې لازیاتې بریاوې ترلاسه کړئ. څرنګه چې ورنه یادونه وشوه، ژور فکر په حقیقت کې داسې وړتیا ده چې پر اساس یې کولی شئ خپل افکار او مفکورې طرحه، تشخیص، اصلاح او تحلیل کړئ. د مناظرې تر ټولو عمده عنصر له ژور فکر څخه عبارت دی، تاسو د ژورې مطالعې له‌پاره له ژور فکر څخه استفاده کوئ. له ژور فکر پرته هیڅکله نشئ کولی یوې قضیې ته شکل ورکړئ او یا د مقابل لوري استدلال د جوړښتي نیوکې په چوکاټ کې تر برید لاندې راولئ. اړتیا لرئ څو د تحلیلي مفکورو او د نړۍ ریښتنو پیښو ترمنځ منطقي تړاو وګورئ. باید د دې وړتیا ولرئ چې د مقابل لوري د منطقي استدلال مسیر تشخیص او د هغه له معقولو استدلالونو څخه څارنه وکړئ. هیڅکله به له یو ژور فکر پرته په یوه عالي مناظره کې بریالي نشو. که څه هم دا ډېره ستونزمنه ده څو د دې څرنګوالی تشریح کړو او یا هم له لکچر څخه په استفادې سره ژور فکر تدریس کړو. یوازې دومره کولی شئ چې هغه د فعالیت، استدلالونو، جوړښتي بحثونو او د مقابل لوري استدلالونو ته په غوږ نیولو سره زده‌کړه ترلاسه کړئ. که چېرې خپل زیات وخت مناظرې ته ځانګړی کړئ، ډېر ژر به یې مثبته پایله وګورئ.

**د مخالفو لید لورو پر وړاندې د خونديتوب اخلاق:** د مناظرې روزنې یو تخنیک له دې څخه عبارت دی څو له ګډونوالو وغواړئ چې د جاري مسألې په اړه له دواړو اړخونو څخه خبرې وکړي. لکه، کولی شئ چې د یوې مشخصې قضیې په اړه لومړی « د هغې په اړه» او وروسته « د هغې په مخالفت» خبرې وکړئ. د عینې موضوع په پلوی د خبرو وړتیا او همدارنګه د هغې مخالف دریځ نیولو سره به هیڅ کله محافظه کاره ونه ګڼل شئ. په دې اړه ډېر قانع کوونکي دلایل شته چې ولې کولی شو څو له زده‌کوونکو وغواړو چې د عین موضوع په اړه هم د « ښیګڼو» او هم د « نیمګړتیاوو» په اړه بحث وکړي. د دغه استدلال د وړاندېز رد او ښه بحث کولی شي د هغه موقف یا دریځ پر وړاندې چې غواړئ ورنه دفاع وکړئ، معکوسې پایلې ولري. ځکه چې د پراختیا په برخه کې ژور فکر مو استدلالونه تر سیوري لاندې راولي. د یو مخالف دریځ په ساتلو سره په مناظره کې د ګډون یو بل دلیل د ښو معنوي عادتونو پراختیا ده، د بېلګې په ډول؛ تر هغه چې ټول استدلالونه وانه وریدل شي، باید خپله مفکوره څرګنده نه کړو، دا به په واقعیت کې پاتې راتلل وي چې د بېلابېلو نظریاتو له په پام کې نیولو او د مقابل لوري د نظر له اوریدو پرته د یوې مهمې مسألې په اړه نتیجه ګیري وکړو.

**د یوې مناظرې ترسره کولو لپـــاره د اړتیا وړ مهارتونه:** په مناظره کې د ګډون وړتیا ترلاسه کول به مو د ژوند له پاره ګټوره وي، ځکه چې دا روزنیز مهارتونه دي چې درسره مرسته کولی شئ څو په روزنیزو او مسلکي فعالیتونو کې لازیاتې بریاوې ترلاسه کړئ. تاسو د یوې بریالۍ مناظرې ترسره کولو له پاره لاندې مهارتونو ته اړتیا لرئ: ژور فکر څرنګه چې د هغه په اړه بحث وشو، په واقعیت کې داسې وړتیا ده چې پر بنسټ یې کولی شئ خپل افکار او مفکورې طرحه، تشخیص، اصلاح او  تحلیل کړئ. د مناظرې تر ټولو عمده عنصر ژور فکر دی. ژور فکر له بېلابېلو اړخونو څخه د ارزښت وړ دی، که چېرې د مناظرې له‌پاره یوه موضوع لرئ، باید د ژورې مطالعې له پاره یې له ژور فکر څخه استفاده وکړئ، له ژور فکر پرته هیڅکله نشئ کولی یوې قضیې ته شکل ورکړئ او یا د مقابل لوري پر استدلال د جوړښتي  نیوکې په قالب کې برید وکړئ. اړ یاست څو د تخیلي مفکورو او د واقعي نړۍ د پیښو ترمنځ منطقي تړاو وګورئ.

**د ژور فکر تر څنګ د څېړنې مهارتونو ته هم اړتیا ده.** له استدلال او بحثونو څخه د استفادې پر مهال، کولی شئ د اړتیا وړ شواهدو او مدارکو پر متن له هغو څخه ملاتړ وکړئ. په ډېرې مواردو کې دا له یو ساده مثال سره یو ساده منطق ښکاري، که څه هم عموماً درنه غوښتنه کوي چې له یو زیات شمېر سرچینو څخه په استفادې( ورځپاڼې، کتابونه، مرکې او الکترونیکي شبکې) ثابت شوی مدارک وړاندې کړئ. سازماني مهارتونه دې ته له پام پرته چې تاسو خبرې کوئ یا څه لیکئ او بالاخره هغه تګلاره چې تاسو یې پر متن

خپل د اړتیا وړ توکي تنظیموئ، په مستقیم ډول ستاسو د پیام پر اغېزناکتیا اغېز لري. د یادو توکو د تنظیم له پاره بېلابېلې تګلارې شته دی، دا به ستاسو له پاره ډېر ارزښت ولري چې یوازې یوه تګلاره غوره او یې کاروئ. د غوږ نیولو مهارتونه، ستر کسان تل ښه غوږ نیوونکي هم دي، د یوې مناظرې په ترڅ کې، که چېرې په ځیر سره د مقابل لوري ویناوو ته غوږ و نه نیسئ او یا هم د هغوی د استدلال کرښې درک نه کړئ، هیڅکله نشئ کولی د هغوی بحث او استدلال ناسم ثابت کړئ. له دغه حقیقت سره سره چې مناظره یو شفاهي فعالیت دی، خو دا د مناظره کوونکي له پاره ډېر مهمه ده چې یادداشت ونیسي او هرڅه مستند کړي. دغه چاره د دې لامل کېږي چې مناظره کوونکي دسپلین مراعات او هغوی دې ته اړ کړي چې د مقابل لوري پر وینا تمرکز وکړي او په دې توګه د خپلې مناظرې عمده برخې ذهن ته وسپاري. مناظره کوونکي کولی شي چې د اختصاراتو سیسټم او یا په ځان پورې منحصر سمبولونه رامنځته کړي څو ورسره مرسته وکړي چې په سمدستي توګه د مقابل لوري خبرې یادداشت او هغه استدلالونه چې له زیات ارزښت څخه برخمن دي، نښه او مشخص کړي.

### ۱،۱. د مناظرې ډولونه:

مناظره زیات شمېر ډولونه لری چې کولی شو هغه ترسره کړو. هر ډول یې ځانګړی مسیر لري، چې باید تعقیب شي. **د مناظرې عمده برخې په لاندې ډول دي:**

**د لینکلن – دوګلاس مناظره:** دغه ډول مناظره د هغې مشهورې مناظرې پر اساس تشکیل شوې چې د ابراهام لینکلن او ستیفین دوګال ترمنځ ترسره شوې وه. دا په واقعیت کې د ارزښتونو په اړه یوه مناظره وه چې ګډونوال پر ارزښتونو تمرکز کاوو، البته دې ته په پام سره چې هغه مخالف نظرونه چې مخکې د موضوع په اړه وړاندې شوي (« د بېلګې په ډول: په عدلي او قضایي سیسټم کې د جنایي قضیو په اړه مجازات د بیار غونی په پرتله له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دي» او یا فرهنګي تنوع د یو معمول او دودیز فرهنګ په پرتله ډېر ارزښت لري») مناظره کوونکي « د موضوع د اساسي اصولو « په اړه» او یا یې « پر وړاندې» په مباحثې او استدلال سره د خپل عملي دریځ د اړخونو په اړه له خبرو څخه ډډه کوي.

**سیاسي مناظره:** دغه ډول مناظرې پر سیاسي مسایلو تمرکز کوي، د بېلګې په ډول ( « دولت باید د تنباکو ټول اشتهارات منع اعلان کړي» او یا « کډوالي باید په کافي کچه را کمه شي») هغه ټیم چې د موضوع په ملاتړ استدلال کوي، یو ځانګړی پلان لري څو د هغه پر بنسټ، د پام وړ پایلې ترلاسه کړي او هڅه کوي څو دا ثابته کړي چې د هغوی پلان د نورو هغو په پرتله ډېر اغېزناک دی.

**پارلماني مناظره:** دغه ډول مناظرې عموماً د هغو اصولو پر بنسټ ترسره کېږي چې د انګلستان په پارلمان کې يې بنسټ اېښودل شوی دی. يو ټيم له دولت او بل هغه له اپوزسيون څخه استازيتوب کوي. د شورا رييس د قضاوت کوونکي په توګه عمل کوي او د فعاليتونو بهير کنټرولوي. ټول ګډونوال مکلف دي چې هغه ته د « ښاغلی رييس» يا « اغلې رييسې» خطاب وکړي. هر ټيم دوه غړي لري. د دولتي ټيم لومړنی دنده دا ده څو هغه اصطلاحات تعريف کړي چې په بحث وړ موضوع کې کارول شوي دی. بايد د بحث وړ موضوع د وړاندې شويو تعريفونو ترمنځ منطقي تړاو موجود وي. ګډونوال کولی شې کوچنيو ملاحظاتو ته په پام سره د هغو په اړه مداخله وکړي، البته د مقابل لوري د ځينو اجراآتو په اړه د اعتراضونو او نيوکو په شمول.

### ۲،۱. د کارل پاپر چوکاټ په پام کې نيولو سره د مناظرې ترسره کول:

**۱،۲،۱. قواعد او مقررات:** دغه مناظره د لينکلن ـ دوګلاس مناظرو يو ترکيب وړاندې کوي. عموماً مناظره د دوو ټيمونو ترمنځ ترسره کېږي ( هر ټيم درې غړي لري) او د دې لپـــاره چې په يوه ځانګړې موضوع کې د نظر له اختلاف څخه دفاع وکړي، محدود وخت ور ته ځانګړی کېږي. د مناظرې لپـــاره چمتووالي کې د قضيې اړوند اضافي توکيو پېژندل شامل دي څو ګډونوال وکولی شي هغه په کره توګه ولولي، د موافقو او مخالفو بحثونو لهپاره لازم چمتووالی ونيسي او په دې ترتيب سره وکولی شي په ياده مناظره کې له خپل دريځ څخه په مشروع بڼه دفاع وکړي.

د هغې مناظرې موخه چې د کارل پاپر په چوکاټ کې ترسره کېږي، دا ده څو زدهکوونکي هم د ستونزو او هم د ممکنو حللارو د پلانجوړونې په بحثونو کې ښکيل کړي، نه دا چې يوازې د موضوع په اړه بحث کې ګډون ولري. په دغه ډول مناظره کې عموماً دوه ټيمونه چې هغه مخالف او موافق دي، قضاوت کوونکي پلاوی او هغه کس چې وخت کنټرولوي ( دغه کس عموماً د هر ويناوال د وينا وخت کنټرولوي) ګډون کوي. هر ټيم درې ويناوال لري او هر ويناوال يوازې يو ځل په ټاکل شوي وخت کې وينا کولی شي. له دې سربېره، دغه مناظره د « متقابلو پوښتنو» څلور دورې لري چې په لاندې ډول ترسره کېږي:

| | |
|---|---|
| لومړی مخالف ویناول(۰۱) | لومړی موافق ویناول(الف۱) |
| دویم مخالف ویناول(۰۲) | دویم موافق ویناول(الف۲) |
| دویم مخالف ویناول(۰۳) | درېیم موافق ویناول(الف۳) |

څرنگه چې په شکل کې لیدل کېږي، دوه « متقاطع کرښې» شته چې د متقابلو پوښتنو مفهوم وړاندې کوي، درېیم ویناوال د لومړي هغه له لورې تر پوښتنې لاندې راځي، له هغه وروسته هغوی په وار سره دویم مخالف ویناوال تر پوښتنې لاندې نیسي. هره متقابله پوښتنه درې دقیقې وخت نیسي.

| د ټولو لوبو مهال وېش په دغه جدول کې وړاندې شوی دی | | | |
|---|---|---|---|
| الف ۱ | ٦ دقیقې | ۰۱ د الف۲ پروړاندې | ۳ دقیقې |
| ۰۳ د الف ۱ پر وړاندې | ۳ دقیقې | ۰۲ | ۵ دقیقې |
| ۰۱ | ٦ دقیقې | الف ۱ د ۰۲ پر وړاندې | ۳ دقیقې |
| الف ۳ د ۰۱پروړاندې | ۳ دقیقې | الف ۳ | ۵ دقیقې |
| الف ۲ | ۵ دقیقې | ۰۳ | ۵ دقیقې |

هر ټیم ۸ دقیقې اضافي وخت لري څو وینا او د متقابل لوري پوښتنو ته چمتووالی ونیسي. د ټیم غړي له ټاکل شوي وخت څخه د اغېزناکې استفادې په اړه له یوبل سره په ګډه پرېکړه کوي او هغه کس ته چې وخت کنټرولوي، خبر ورکوي. هغوی باید قواعدو ته ژمنتیا وښیي او هیڅکله باید په یوه وخت کې له دوو دقیقو څخه زیاتې خبرې ونه‌کړي.

له هغه وروسته کیدی شي د دغې مناظرې د مختصر چوکاټ په پام کې نیولو سره روزنیز پروګرامونه او سیمه‌ییزې لوبې ( ښاري او محلي) ترسره شي.

### ۲،۲،۱. د ویناوالو مسوولیتونه:



#### لومړي موافق ویناوال (الف ۱):

- گدونوالو ته هرکلی او د ټیم غړیو معرفي؛
- د موضوع اعلان او د مناظرې دریځ او اړېکې؛
- د کلیدي ټکو د تعریفونو وړاندې کول؛
- د معیارونو په اړه د معلوماتو او د هغو د ارزښتونو وړاندې کول؛
- د "SESC " سیسټم په اړه د استدلال وړاندې کول( په مهربانۍ سره ٦،٢،١ برخې ته مراجعه وکړئ)؛
- د « موږ متقابلو پوښتنو ته چمتووالی لرو» کلمو په کارولو سره د وینا پای ته رسول؛ او
- د دویم او درېیم (۰۳ او ۰۲ ) مخالفو ویناوالو له خوا مطرحه شویو پوښتنو ته د ځوابونو وړاندې کول.

**لومړی (۰۱) مخالف ويناوال:**

- گدونوالو ته هرکلی او د ټيم د غړيو معرفي؛
- د موضوع اعلان او د مناظرې دريځ او اړيکې؛
- د کليدي ټکو د تعريفونو وړاندې کول، که چېرې الف۱ ويناوال د موجه دلايلو له امله له هغو څخه برسيره تير شوی وی؛
- د معيارونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول او د موافق ټيم له معيارونو سره د هغو پرته؛
- د "SESC " سيسټم په اړه استدلال؛
- د « موږ متقابلو پوښتنو ته چمتووالی لرو» کلمو په کارولو سره د وينا پايته رسول؛ او
- د دويمو او درېيم (الف ۳ او الف ۲) موافقو ويناوالو لهخوا مطرحه شويو پوښتنو ته د ځوابونو وړاندې کول.

**دويم موافق ويناوال(الف ۲):**

- گدونوالو ته هرکلی او د ټيم غړيو معرفي؛
- د نظر اختلاف ( په مهربانۍ سره ۱،۲، ۱۰ برخې ته مراجعه وکړئ)؛
- د معيارونو پرتله؛
- د هغوی د استدلال د ارزښت وړاندې کول؛
- په نوي استدلال کې نه ور گډيدل، خو د شته استدلال لهپاره د لازم ملاتړ چمتو کول؛
- د متقابلو پوښتنو نتيجه گيري؛
- د « موږ متقابلو پوښتنو ته چمتووالی لرو» کلمو په کارولو سره د وينا پايته رسول؛ او
- د لومړي مخالف (۰۱ ) ويناوال لهخوا مطرحه شويو پوښتنو ته د ځوابونو وړاندې کول.

**دویم مخالف (۰۲)ویناوال:**

- گدونوالو ته هرکلی او د ټیم غړیو معرفي؛
- د نظر اختلاف؛
- د معیارونو پرته؛
- د هغوی د استدلال د ارزښت وړاندې کول؛
- په نوي استدلال کې نه ور ګډیدل، خو د شته استدلال لهپاره د لازم ملاتړ چمتو کول؛
- د متقابلو پوښتنو نتیجه ګیري؛
- د « موږ متقابلو پوښتنو ته چمتووالی لرو» کلمو په کارولو سره د وینا پایته رسول؛ او
- مطرحه شویو پوښتنو ته د ځوابونو وړاندې کول.

**دریېیم موافقویناول (الف ۳):**

- گدونوالو ته هرکلی او د ټیم غړیو معرفي؛
- نتیجه ګیري او تر ټولو د عمده تریڼګلتیاوو یادداشت؛
- د معیارونو پرتله؛
- په دې اړه تفصیلي معلومات چې ولې مو استدلال د مخالفانو هغه په پرتله ډېر ارزښت لري ( د هغو استدلالونو په اړه مو د لازیات ملاتړ چمتو کول چې د مخالفانو د استدلال په پرتله کمزوری ښکاري)؛
- پایته رسول ( په مهربانۍ سره ۷.۱،۲ برخې ته مراجعه وکړئ)؛
- د « موږ متقابلو پوښتنو ته چمتووالی لرو» کلمو په کارولو سره د وینا پایته رسول؛ او
- له لومړي مخالف (۰۱ ) ویناوال څخه د پوښتنو مطرحه کول.

**دریېیم (۰۳) مخالف ویناوال:**




- گدونوالو ته هرکلی او د ټیم غړیو معرفي؛
- نتیجه ګیري او تر ټولو د عمده ترینګلتیاوو یادداشت؛
- د معیارونو پرتله؛
- په دې اړه تفصیلي معلومات چې ولې مو استدلال د مخالفانو هغه په پرتله ډېر ارزښت لري ( د هغو استدلالونو په اړه مو د لازیات ملاتړ چمتو کول چې د مخالفانو د استدلال په پرتله کمزوری ښکاري)؛
- پایته رسول ( په مهربانۍ سره ۷.۱,۲ برخې ته مراجعه وکړئ)؛
- د « پر همدې دلیل له ښاغلیو قاضیانو څخه غواړو چې زموږ د ټیم په اړه خپل نظر څرګند کړي» کلمو په کارولو سره د وینا پایته رسول؛ او
- د لومړي (۰۱ ) موافق ویناوال څخه د پوښتنو مطرحه کول.

د کارل پاپر په مناظره کې عموماً درې ډوله اجراآت ( د ویناوالو ویناوې) موجود دي:

**A. د لومړي (الف۱) موافقو او لومړي (۰۱) مخالفو ویناوالو له خوا رغانده ویناوې:**

استدلالونه وړاندې کېږي او پر مخ ځي، موافق لوری د قضیې په اړه یوه اساسي سریزه وړاندې کوي ( په مهربانۍ سره ۱,۲,۷ برخې ته مراجعه وکړئ) چې د یادې دورې جوړښت به مشخص کړي. مخالف لوری د موافق لوري پر وړاندې د نظر اختلاف وړاندې کوي او خپله قضیه معرفي کوي. ټول استدلالونه باید د دغو دوو ویناوو په ترځ کې وړاندې شي.

**A. د دویم (الف ۱) موافق او دویم (۰۲) مخالف ویناوال لهخوا مخالفې ( پراختیا ورکوونکې) ویناوې:**

په دغه ډول ویناوو کې به د مقابل لوري استدلالونه رد کړئ او د هغوي له « برید» وروسته به د خپل استدلال سیستم د هغه ځایناستی کړئ. دلته د جزئیاتو وړاندې کول مهم رول لوبوي، دا ډېر ارزښت لري چې د مقابل لوري د استدلال پر وړاندې ځواب ووایئ او په دې اړه تبصره وکړئ چې هغوی څنګه کولی شي له بېلابېلو

زاويو څخه له قضيې نه دفاع وکړي او يا هم هغه وننګوي. عموماً په دغه ډول ويناوو کې نويو استدلالونو ته اجازه نه ورکول کېږي. ګډونوال اړ دي څو شته استدلالونو ته په لازياتو مدارکو او دلايلو سره پراختيا ورکړي.

**B. د درېيم (الف۳ ) ويناوال او درېيم (۰۳) مخالف ويناوال لهخوا د پای ويناوې:**

په دغه ډول ويناوو کې بايد د دريځونو په اړه د نظر اساسي اختلافونو ته پاملرنه وشي. يادې ويناوې عموماً مناظرې نتيجه ګيري کوي. د دغه کار ترسره کولو لهپاره درېيم (الف۳ ) مخالف ويناوال او درېيم (۰۳) مخالف ويناوال مکلف دي څو داسې انځور کړي چې غواړي خپلو ملګرو ته په دې اړه چې مناظره څنګه ترسره شوه، د قوت ټکي يې کوم دي او بالاخره دا چې ولی د هغوی استدلالونه بريالي وو، معلومات وړاندې کړي. په دغه ډول ويناوو کې هيڅکله بايد نوي استدلالونه مطرحه نهشي.

### ۳،۲،۱. د مناظرې موضوعاتو/بحثونه:

هره مناظره له يوې مشخصې موضوع سره پيلېږي چې کلمې يې بايد د يوې بيانيه جملې په بڼه وي ( نه د يوې سوالي يا ندايي په بڼه)د بېلګې په ډول، «د اعدام سزاء د توجيه وړ ده» ( خو نه « آيا بايد د اعدام سزاء ولرو؟» او يا « کلوننګ د زيان په پرتله ډېرې ګټې لري» ( او نه دا چې « کلوننګ ګټور دی» ) له هغه وروسته د پام وړ ټيمونه د يادې جملې په ملاتړ استدلال او بحثونه کوي او يا هم په متقابل ډول دغه ادعا ردوي. دا يوازې يوه موضوع ده، خو د يادو ټيمونو دريځ د هغه په اړه توپير لري. د موافق ټيم دريځ په هغو کلمو سره چې په ياده موضوع کې منعکس شوی، جوړجاړی ښيي، خو د مخالف ټيم دريځ په کره توګه د هغه مخالف دی. د بېلګې په ډول، که چېرې د مناظرې موضوع « د غير اخلاقي پديدې اشتهارات» وي، په هغه صورت کې به د بيانيې دريځ په موضوع کې له منعکس شويو کلمو سره جوړجاړی ولري او د مخالف ټيم دريځ به « اشتهارات غير اخلاقي پديده نهده» وي.

د مناظرې د يوې ښې موضوع کيفيت:

- وضاحت: موضوع بايد څرګنده وي.
- اړوندوالی : موضوع بايد له معاصرو مسايلو سره همغږې ولري.
- مباحثه: بايد د تودې او نوې موضوع په اړه ترسره شي.
- تعادل: هر لوری بايد د دې وړتيا ولري چې د موضوع د « ملاتړ» او « مخالفت» په اړه مساوي استدلالونه وړاندې کړي.

### ۴,۲,۱. کليدي کلمې:

کليدی کلمې له هغو اصطلاحگانو څخه عبارت دي چې د موضوع طرحې ته اړينې وي او د دې لهپاره چې د لوبې حدود او پرمختيا مشخصه کړي، تعريف ته اړتيا لري. د کليدي کلمو تعريفونه له کورنيو او بهرنيو، مترادفاتو او داسې نورو قاموسونو څخه غوره شوي چې بايد له سرچينې څخه يې يادونه وشي.

**کليدي کلمې بايد لاندې ځانګړني ولري:**

- پـه صراحت سره څرګندې شوي وي: تعريفونه بايد واضح وي.
- قانع کوونکي وي: تعريفونه بايد په افراطي او تفريطي بڼه تعبير او تفسير نهشي.
- مناسبې وي: که چېرې لازمه وي، څو کلمې په بېلابېلو طريقو سره تعبير شي، اړ ياست څو دا ثابته کړئ چې تعريف مو تر ټولو اړوند دی.

د کليدي کلمو تعريف بايد د وينا په پيل کې وړاندې شي. کلمې کيدی شي د بېلابېلو عبارتونو پر مټ پيياوړي شي، لکه: « د خپل دريځ په اړه د استدلالونونو له وړاندې کولو مخکې غواړو چې اثباتيه تعريفونه وړاندې کړو» او يا « د دې لهپاره چې زموږ موافق دريځ په سمه توګه درک شي، غواړو چې اثباتيه تعريفونه وړاندې کړو»

### ۵,۲,۱. معيارونه:

د کارل پاپر مناظرې د يوې برخې په توګه، معيار د يو ارزښت په توګه ګڼل کېږي چې د نظر وړ ټيم لهخوا يې ملاتړ وشي او يا هم د هدفي پايلو په توګه وګڼل شي چې د نظر وړ ټيم هغوی ته د لاسرسي غوښتوونکي وي.

**معيارونه بايد لاندې ځانګړني ولري:**

- **د لاسرسي وړ وي:** ادعا کوونکی ټيم بايد د غوره شويو معيارونو په پام کې نيولو سره، د اړوندې موضوع په اړه د خپل دريځ سموالی ثابت کړي.
- **ټينګ وي:** يو ګونګ او ناڅرګند معيار هيڅکله نهشي کولی ستاسو استدلالونو ته لوری وټاکي، له همدې امله دا به قضاوتکوونکي ته ستونزمنه وي چې فکر وکړي، آيا ستاسو مطرحه شوې قضيه کولی شي اعلان شوي هدف ته ورسېږي کنه!

- **اړوند واوسي:** معيارونه عموماً د مطرحه شوې قضيې او د هغې د موضوع ترمنځ د يوې اړيکې رول لوبوي. له همدې امله بايد د موضوع پر ارزونه باندې تمرکز وکړي، نه دا چې د داسې بحثونو لامل شي چې دومره ارزښت نهلري او يا هم داسې ټکيو ته اشاره وشي چې دومره اړوند نهدي.
- **مطلوب واوسي:** دا چې ادعا كوونكى ټيم له خپلو معيارونو څخه دفاع كوي، له همدې امله بايد په مثبته توگه طرحه شي.

د دې لهپاره چې د يو كس شخصي مفكوره له بشپړ مشروعيت څخه برخمنه واوسي، بايد سپارښتنه وشي چې د سياستوالو، فيلسوفانو او نورو تيوريسنانو نظريو او ليدلورو او د دې ترڅنگ له خپلو موازي نظريو، پرتلو او استدلالونو څخه استفاده وكړي. د معيارونو بېلگې: سالم نسل، ټوله ټولنه، د ژوندانه كچې لوړول، د ښځو له حقونو څخه ساتنه او داسې نور.

### ۱,۲,٦. استدلال او د هغه جوړښت:

كه چېرې له هرې جملې سره موافق يا مخالف واوسئ، نو په هغه صورت كې له ځانه وپوښتئ چې ولې دغه جمله سمه يا ناسمه ده، يو زيات شمېر دلايل شته چې كولى شئ د بل چا د قانع كولو او د خپل دريځ د ملاتړ لهپاره يې وړاندې كړئ. دغه ډول دلايلو ته استدلال وايي. د كارل پاپر په مناظره كې استدلالونه د (SESC) سيستم پر بنسټ رامنځته كېږي، راځئ هغه په تفصيلي بڼه وړاندې كړو:

**بيانيه:** بيانيه بايد يوه بشپړه جمله واوسي چې له ۹ كلمو څخه زياته نهوي، عموماً « د ولې ..؟» پوښتنې پر وړاندې د ځواب د پايلې په توگه وي.

**د استدلال توضيح:** دا په واقعيت كې د استدلال شوې جوړښت برخه ده او عمومي اصطلاحگانې د هغه شكل نيونه بربنډوي.

**له استدلال څخه ملاتړ:** د ملاتړ يو زيات شمېر ډولونه شته چې په لاندې ډول دي:

١. د عمومي پوهې موضوعگانې.
٢. د موضوع په اړه احصائې.
٣. په دې برخه كې د كارپوهانو نظريې او ليدلورې.
٤. هغه دلايل چې دغه منطقي پروسې د علل او معلول تر منځ د فرضيې، تشبهې او اړيكې په توگه رامنځته كېږي.

**فرض کول په واقعیت کې د استدلال یوه طریقه ده « که هغه عمومي وي او که انفرادي»**

د بېلګې په توګه: هر چا چې « ویاړلی دیپلوم» تر لاسه کړی وي، په دې معنې ده چې له پوهنتون څخه په «لوړو» نمبرو څخه فارغ شوی دی. پېتر دغه « ویاړلی ډیپلوم» لري. له همدې امله ویلی شو چې نوموړی په « لوړو نمرو» سره فارغ شوی دی.

**تشبه په واقعیت کې د پدیدو، څېزونو او مفکورو ترمنځ اړېکو کې له ځینو ورتهوالي څخه عبارت ده.**

« د قضاوتکوونکیو فعالیتونه د جراحانو له هغو سره پرتله کولی شو. د خلکو ژوند د هغوی پر پرېکړې پورې تړلی دی. که چېرې یو جراح تیروتنه وکړي، نو موږ نه شو کولی د طبابت پر دستګاه بندیزونه ولګوو. له همدې امله نه شو کولی د قضاوت ټول سیستمونه د یو قضاوت کوونکي د تیروتنې له امله له پامه وغورځوو»

**د علل او معلول ترمنځ اړېکه په واقعیت کې د هغو څېزونو ترمنځ له داخلي اړېکې څخه عبارت ده چې پیښېږي او هغه څه چې د هغه د پیښیدو لامل ګرځي.**

« په X حوزه کې کابو هیڅ وربښت نهشته، له همدې امله ځایي خلک چترۍ ته اړتیا نهلري»

**د استدلال نتیجهګیري:**

په دې برخه کې ویناوال د استدلال پر بیانیې چې په منطقي ډول د زیاتو توضیحاتو پرمټ تعقیبېږي، بیاځلي ټینګار او بیاځلي ورنه ملاتړ کوي.

**۱,۲,۷. د موافق ټیم قضیه (موافقه قضیه):**

د کارل پاپر په مناظره کې باید د دوو مفاهیمو« قضیې» او « فکري کربښې» ترمنځ توپیر وشي، د موافق ټیم قضیې تعریف لاندې موارد رانغاړي:

موافقه قضیه د لومړني موافق ویناوال لهخوا وړاندې کېږي، د موافق ټیم فکري کربښه په واقعیت کې د مناظرې په ترڅ کې د ټولو ویناوالو له ویناوو څخه عبارت ده چې په هغو کې د لومړي، دویم او درېیم ( الف۱+ الف+ الف ۳) موافقو ویناوالو ویناوې شاملې دي.

د مناظرې په ترڅ کې ادعا کوونکی لوری باید لاندې پوښتنې ځواب کړي، څو د موضوع په اړه خپل دریځ په روښانه توګه توجیه کړي:

- موږ ولې له مضمون سره موافق یو؟
- له موضوع څخه د ملاتړ لهپاره کوم ډول پیاوړې موضوع مطرحه کولی شو؟
- په موضوع پورې اړوند عمده مسائل کوم دي؟
- هغه عمده ستونزې چې کیدی شي په پام وړ موضوع کې رامنځته شي، کومې دي او په دې برخه څه کې ډول مثالونه شته دي؟
- په دې اړه د مخالف لوري استدلال څه دی؟

موافق اړخ، په داسې حال کې چې دغه پوښتنې ځوابوي، په دې پیل کوي څو د یوې څرګندې قضیې رامنځته کولو لهپاره چې له ستراتیژیک اړخ څخه توجیه کیدی شي، حرکت وکړي.




**۸،۲،۱. د مخالف ټیم قضیه (مخالفه قضیه):**


د مخالف ټیم په قضیه کې لاندې موارد شامل دي: منفي قضیه د لومړني مخالف ویناوال له خوا وړاندې کېږي، خو دا د هغه یوازینۍ دنده نه ده. دا چې د مخالفت عمده هدف له موافق لوري سره د نظر اختلاف دی، لومړی(۰۱) مخالف ویناوال سربېره پر دې چې یوه قضیه وړاندې کوي، له موافق او مثبت استدلال سره د نظر په اختلاف کې هم ونډه اخلي. د مخالف ټیم په فکري کرښه کې د لومړي، دویمو، درېیمو (۰۱، ۰۲ او ۰۳ ) مخالفو ویناوالو ویناوې شاملې دي.

### ۹،۲،۱. د نظر اختلاف ستراتیژۍ:

ستراتیژۍ په واقعیت کې له یو کاري پلان څخه عبارت ده چې د تمې وړ پایلو ته د لاسرسي په موخه چمتو کېږي. د نظر اختلاف د هغو مواردو په اړه له ځواب څخه عبارت دی چې د مقابل ټیم له لوري وړاندې کېږي. دا په واقعیت کې د مناظرې هسته جوړوي او د مفکورو، طرحو، اصولو، حقایقو او لیدلورو تناقض په مستقیم ډول وړاندې کوي.

### څنګه کولی شو یو مخالف دریځ خپل کړو؟

- کله چې د مسألې له ارزښت څخه سترګې پټې او د وړاندېز شوې مفکورې له جزئیاتو سره چلند وکړو او همدارنګه یې ټولو جوړښتي عناصرو ته ځواب وړاندې کړو.
- ثابت قدمه واوسئ؛ د صراحت په پام کې نیولو سره د مخالفو مفکورو پر طرحو پیل وکړئ او له یو ټکي نه بل هغه ته ورشئ.
- د هر ډول فکر پر وړاندې په کره توګه ځواب وړاندې کړئ.
- د مفکورو پرتله درسره مرسته کوي څو وښیئ چې په دغه مناظره کې مو مفکورې زیات ارزښت لري.



***تګلاره / د نظر اختلاف:***

***لومړی کچه د کلیدي کلمو له تعریف سره د نظر له اختلاف څخه عبارت ده.*** په هغه صورت کې چې له کلیدي کلمو سره د نظر اختلاف موجود وي، لازمه ده څو لاندې موارد وړاندې شي:

- ④ په دې اړه دلایل چې د مقابل لوري دریځ ناسم وګڼل شي.
- ④ د طرحو/ مفاهیمو لهپاره ځایناستي تعریفونه.
- ④ د مقابل لوري له عمده پایلو سره د نظر اختلاف لهپاره دلایل.

په دې برخه کې له داسې تګلارو څخه یادونه شوې چې د دې په اثبات کې درسره مرسته کوي چې ستاسو استدلالونه د وړاندې شویو تعریفونو په پام کې نیولو سره قانع کوونکي دي.

- ④ تعریفونه د یوې ځانګړې برخې له کارپوهانو څخه ترلاسه کېږي.
- ④ تعریفونه د هغو د مفاهیمو او معناوو چوکاټ په پام کې نیولو سره رامنځته کېږي، په هغو کې دننه د جلا کلمو پر بنسټ ( د واحد مفهوم پر مټ تعریف شوي، د ارزښتونو ټولګه د کلمو په طرحه کې په پام کې نه دي نیول شوي، لکه؛ د « اعدام سزاء» به په ټولیز ډول تعریف شي)
- ④ یاد تعریف د طرحه شوې موضوع له محتویاتو سره جوړجاړی لري.
- ④ تعریف د غیر موجه محدودیتونو او یا د وړاندې شویو مفاهیمو د محتویاتو له پرمختیا څخه برخمن نهدی.

که چېرې بشپړ باور ونهلرئ، چې آیا هغه تعریفونه چې د موافق ټیم لهخوا وړاندې شوي، د باور وړ نهدي، ښه به وي چې هغوی ومنئ او د نظر اختلاف له بلې تګلارې څخه استفاده وکړئ.

***دویمه کچه د معیاري ارزښتونو له پرتلې څخه عبارت ده. مخالف اړخ کولی شي هغه انتخاب کړي.***

لومړی دا چې هغوی کولی شي د موافق لوري یو معیار لېرې کړي، خو د دې لهپاره چې د ځان لهپاره یې وکاروئ. د بېلګې په ډول؛ که چېرې « اوړی د ژمي په پرتله ښه ده» موضوع وي، موافق ټیم کولی شي د هغې د لاښې توجیه لهپاره د « روغتیا» معیار وکاروي:« موږ په اوړي کې له یخنۍ وهلو څخه ساتل کېږو» او په همدې ترتیب سره مخالف ټیم کولی شي همدغه معیار په بل ډول سره وکاروي: « موږ په ژمي کې د ناروغیو او لمر وهلو څخه ساتل کېږو».

دویم دا چې هغوی نه‌شي کولی، د موافق ټیم معیار ومني او پر ځای یې خپل معیار وړاندې کړي، د بېلګې په ډول، د موافق ټیم معیار د « اعدام سزاء د توجیه وړ نه‌ده» موضوع له‌پاره کیدی شي « عامه خوندیتوب» عبارت وي او په همدې ترتیب سره د مخالف ټیم معیار کیدی شي دا وي چې « د انسان ژوند پر ټولو نورو څیزونو لوړوالی لري»

ښه ده چې د مخالف اړخ معیارونه ونه منل شي، د دغه کار ترسره کولو له‌پاره به اړتیا ولرئ څو د هغه کمزوري ټکي مشخص کړي چې په لاندې ډول ترسره کیدی شي:

- ④ معیار د موضوع په پوښښ کې مرسته نه‌کوي.
- ④ معیار د کلمو له اړخه ګونګ دی.
- ④ یاد معیار په سمه توګه نه‌دی چمتو شوی.
- ④ یاد معیار په واقعیت کې یو مناسب هدف نه‌دی.

د بېلګې په ډول؛ که چېرې مناظره د ملګرو ملتونو سازمان اغېزناکتیا ته ځانګړې شوي وي، ادعا کوونکی اړخ باید د خپل هدف د سرلیکونو پر بنسټ دغه معیار په پام کې ونیسي:« د توکمي نښتو مخنیوی» مخالف اړخ کولی شي ځواب ورکړي چې د بین المللي کنفرانس پای په واقعیت کې یو مناسب هدف نه‌دی او پر ځای یې« د لاښې ګډې همکارۍ او مرستې» عبارت د مناسب معیار په توګه وړاندې کړي.

د هغه معیار په ردولو سره چې موافق اړخ له لوري مطرحه شوی، باید له خپل دریځ او هدف څخه ملاتړ وکړئ او تر څنګ یې خپل ځایناستی معیار توجیه کړئ.

**درېیمه کچه** د استدلالونو پر وړاندې د نظر له اختلاف څخه عبارت ده. د دغه کار له‌پاره لازمه ده څو د مقابل لوري د استدلالونو ترمنځ توپیر وشي او د هغو جزئیاتو پر وړاندې د ځوابوینې څرنګوالی په سمه توګه درک کړي. په دې برخه کې له یو لړ ستراتیژیو څخه یادونه شوې چې کولی شئ ورنه استفاده وکړئ:

- ④ له استدلالونو سره د نظر اختلاف په یو ډول سره په مستقیمه توګه له ردولو څخه عبارت دی. دلته کلیدي عبارت له: نه، زه موافق نه‌یم دی، د بېلګې په ډول: « د اعدام سزاء د توجیه وړده، ځکه چې عدالت ټینګوي» ـ « نه، د اعدام سزاء نه شو توجیه کولی، ځکه چې د ناسم قضاوت امکان د دې لامل کیدی شي چې یو بې ګناه کس په ناعادلانه ډول زیان ووینې)
- ④ له هغو استدلالونو څخه استفاده وکړئ چې زیات وزن لري، دلته کلیدي عبارت دا دی: حتی که ستاسو خبره سمه هم وي، نو ... لومړی شمېره مثال: که چېرې موافق اړخ د ملګرو ملتونو د سولې

ټينګښت هڅې تر نيوکو لاندې ونيسي او استدلال وکړي چې سوله ساتي ځوانونه ډېر لګښت غواړي، مخالف لوري کولی شي اعتراض وکړي؛ دا چې سوله ساتي ځواکونه د خلکو ژوند ژغوري، له همدې امله ويلی شو چې د دغو ټولو لګښتونو ارزښت لري. په ډېری مواردو کې به مخالف لوری له دغو استدلالونو څخه د خپلې قضيې د ملاتړ لەپاره استفاده وکړي. دويمه شمېره مثال: د اعدام سزاء د توجيه وړ ده، ځکه چې عدالت تأمينوي. ـ حتی که د اعدام سزاوې عدالت هم ټينګ کړي، نه شو کولی هغه توجيه کړو، ځکه چې دلته تر ټولو لوړ ارزښت د انسان ژوند دی.

④ کيدی شي استدلالونه متناقض او د نه پايښت وړ وي، د بېلګې په ډول: موافق لوری کولی شي دا څرګنده کړي چې چاپيريال ساتنه د اقتصادي ودې په پرتله ډېر ارزښت لري او په دې ترتيب د يو استدلال په ترڅ کې له ټيکنالوژيکي بدلونونو څخه نيوکه وي، په داسې حال کې په بل مورد کې د لمريزې انرژۍ له استفادې څخه ملاتړ کوي ( هغه څه چې له ټيکنالوژۍ او اقتصادي ودې سره نېږدې اړيکې لري)

④ مخالف لوری کولی شي په مخالفو استدلالونو سره منطقي تناقض وړاندې کړي، په لاندې برخه کې به د منطقي تناقض عمده ډولونو ته کتنه وشي:

١. د نه پايښت وړ استدلالونه، موضوعګانې او معيارونه چې د ادعا کوونکي لوري لەخوا مطرحه کېږي.

٢. د نه توجيه وړعمومي مسائ، د بېلګې په ډول: موټر څلور ټايرونه لري، له همدې امله هره هغه واسطه چې څلور ټايرونه لري، په حقيقت کې يو موټر دی.

٣. په شخصيت کې ګډ شوي ناسم پوهاوي، د بېلګې په ډول؛ زما مالټه خوښېږي، نو له دې کبله بايد د هر چا خوښه شي.

٤. هغه ناسم پوهاوی چې د علل او معلول ترمنځ اړيکو څخه له انکار سره مترافق دی. د بېلګې په ډول: که چېرې ورښت وشي، په دې معنې ده چې منی پيل شوی دی.

**ځلورمه کچه** له شواهدو/ مدارکو او ملاتړ څخه عبارت ده. مخالف اړخ، ښايي داسې پوښتنې مطرحه کړي « آيا کولی شئ د دغې بيانيې په اړه بشپړ توضيحات وړاندې کړئ؟» آيا مدارک او شواهد په واک کې لرئ څو له وړاندې شويو بېلګو او مثالونو څخه ملاتړ وکړئ؟ او بالاخره څنګه کولی شئ پر نقل شوې سرچينې باور ولرئ؟»

د دې لهپاره چې له دا وړ ننګونو څخه خوندي واوسئ، له لاندې تيروتنو څخه ډډه وکړئ:

- نه شو کولی استدلالونه او بحثونه له ګونګو شواهدو او مدارکو څخه په استفادې سره په قناعت وړ توګه تأييد کړو.
- که چېرې د قانع کوونکيو استدلالونو او شواهدو پراخه ټولګه موجوده وي، په هغه صورت کې ښايي استدلالونه او شواهد/ مدارک له يوبل سره ورته والی ونهلري.
- په استدلالونو کې تيروتنې هم کيدی شي.

په ټوله کې کولی شئ د نظر اختلاف د اغېزناکو ستراتيژيو ترلاس لاندې نيولو کې له لاندې لارښودونو څخه پيروي وکړئ:

- په مهربانۍ سره څرګندې، لنډې او قناعت ښوونکي خبرې وکړئ.
- هغه استدلالونه له لاسه مه ورکوئ چې له اساسي مفکورو سره په مخالفت کې دي.
- هغه استدلال تشخيص کړئ چې تاسو به يې له پامه وغورځوئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې د هغه سرچينه مو درک کړې ده.
- پوښتنې ځواب ګړئ: څه شی له پامه غورځول شوي؟ په کومې طريقې سره؟ ولې په دې طريقې سره، ولې په يوه بله طريقه نه؟ څه به پيښ شي؟
- د نظر بريالي اختلاف لهپاره، بايد ټولو هغو مسائلو ته چې د مخالف اړخ لهخوا وړاندې کېږي، په ځير سره غوړ ونيسئ او يادداشت يې کړئ.

**د مستندولو ( یادداشت نیولو) له پاره سپارښتنې:**

*د مستندولو لهپاره ډېرې طریقې شته چې عمده یې په لاندې ډول وړاندې کېږي:*

۱. د کاغذ له یوې لویې پاڼې څخه استفاده وکړئ څو د دې وړتیا ولرئ چې ټول استدلالونه یادداشت کړئ.

۲. یاده پاڼه پر ٦ برخو وویشئ چې هره برخه یې په یو ویناوال پورې اړونده وی او د نظر وړ معلومات په کې یادداشت کړئ.

۳. په ځیر سره غوږ ونیسئ او هڅه وکړئ، څومره چې کولی شئ له اختصاراتو څخه په استفادې سره یادداست ونیسئ.

٤. دواړه قضییې د تسلسل په پام کې  نیولو سره ولیکئ.

٥. کله چې غواړئ له یو ټکي سره د نظر اختلاف وښیئ، یاد استدلال یادداشت او خپله احتمالي نیوکه په مناسبه ستن کې د استدلالونو ترڅنګ درج کړئ.

٦. د  ویناوالو طرحې یادداشت کړئ. دغه چاره درسره مرسته کولی شي څو  په آسانی سره یادو استدلالونو ته مراجعه وکړئ.

٧. کره غوږ نیولو ته دوام ورکړئ او انفرادي استدلالونه څرنګه چې وړاندې شوي، وارزوئ.

## ۱،۲،۱۰. د ثانوي رول لوبوونکـو دندې:

د مناظرې په ترسره کولو کې د ثانوي رول لوبوونکیو نقش ډېر ارزښت لري. که چېرې لومړی رول لوبوونکی په ځانګړې توګه لومړی موافق لوری چې په واقعیت کې عموماً د « یو چمتووالي نیوونکي» له ماهیت څخه برخمن دی، داسې معلومات وړاندې کړي چې اړوند ټیم یې هغه د مناظرې لهپاره د چمتووالي په مهال راټول کړي دي، په هغه صورت کې ثانوي رول لوبوونکی « د لومړی کرښې سرتیری» ګڼل کېږي. که چېرې لومړني رول لوبوونکي په نمونهیي توګه وینا کوي او یاده برخه په بېلابېلو دریځونو کې د ترینګلتیا رامنځته کولو لهپاره تعریفوي، په هغه صورت کې ثانوي رول لوبوونکي یادې ترینګلتیاوې په پام کې نیسي. د  ثانوي رول لوبونـکي دنده د مخالف لوري له استدلالونو سره د نظر له اختلاف او یا د « تمې وړ نظر اختلافونو» رامنځته کول دي.

د نظر اختلاف په واقعیت کې یوازې له انفرادي استدلالونو سره مخالفت نه، بلکې « د اختلافونو رد» په ټول بهیر کې د استدلالونو د ټولو کربنو په اړه بیاکتنه ده چې مخالف لوري د ټیم په شخصي قضیه کې له هغه نه مخکې شوې دي. له همدې امله کله چې وغواړئ یو د نظر اختلاف له دننه څخه تعریف کړئ، هغه د « اختلاف رد» ګڼلی شو.

**د نظر اختلافونو د مطرحه کولو پړاوونه:**

1. *خپل اصلي استدلال بیاځلي تکرار کړئ.*
2. *د مخالف « برید» درياد کړئ ( لکه هغه د نظر اختلاف چې هغوی یې د مطرحه کولو هود لري.*
3. *د مخالف اړخ د اعتراضونو پر وړاندې د نظر اختلاف وښیئ.*
4. *پایله به دا وي چې په دې توګه به مو پر قضیه د هغوی ټول بریدونه په شدیده توګه کمزوري شي.*

*کله چې د نظر اختلاف رامنځته شي، دې ته به اړتیا وي چې د یو کس استدلال په لازیاتو شواهدو او مدارکو سره بیاځلي پیاوړی کړئ.*

### ۱۱،۲،۱. متقابلې پوښتنې:

د نظر وړ پوښتنو د هدفونو په پام کې نیولو سره، هغه په څو برخو کې ډلبندي کولی شو:

هغه پوښتنې چې د مخالف اړخ دریځ مشخص او څرګندوي ـ کولی شئ له مخالف اړخ څخه وغواړي څو خپل استدلال، معیار او کلیدي کلمې تکرار کړي.

④ د هغو مدارکو او شواهدو د کیفیت په اړه پوښتنې چې ستاسو مخالف اړخ یې وړاندې کوي ـ کولی شئ د هغې سرچینې په اړه چې یاد مدارک ورڅخه ترلاسه شوي، وپوښتئ او یا هم نور مدارک وغواړئ څو یې مشروعیت تأیید شي.

- « په دام کې اچولو پوښتنې» چې په هغو کې یو لړ پوښتنې شاملې دي چې بالاخره د دې لامل کېږي څو مو مخالف لورى خپل کمزورى دريځ درک کړي. د بېلگې په ډول؛ كه چېرې اړتيا ولرئ چې له درد پرته / آسانه مړينې قانوني كولو اړتيا ثابته كړئ، كولى شئ د لاندې پوښتنو سلسله چمتو كړئ:
- آيا دا ممكنه ده چې سرطان په وروستيو پړاوونو كې معالجه كړئ؟ ( نه)
- آيا كولى شئ هغه دردونه چې خلك يې تجربه كوي، له سرطان يا زجرت سره پرتله كړئ؟ ( هو)
- آيا بايد خلكو ته اجازه ورنه كړل شي څو له درد پرته/ آسانه مرگ څخه چې كولى شي له وس پورته دردونو ته د پاى ټكى كېږدي، استفاده وكړي؟ او داسې نور.

له هغه وروسته، په راتلوونكي پوښتنه كې ستاسو ټيم نتيجه‌گيري كوي چې له درد پرته/ آسانه مرگ يوه انساني تگلاره ده چې ستاسو د مخالف اړخ له‌خوا وړاندې شوي ځوابونو پر متن تائيدېږي چې په خپلو ځوابونو سره ستاسو له دريځ څخه ملاتړ كوي.

- د تېر پېژندنې په موخه د مخالف اړخ د خونديتوب پاليسى كربښې « تحقيقي پوښتنې»، د بېلگې په ډول: تاسو له روسيې څخه ملاتړ كوي. « آيا روسيه يوازينى هېواد دى چې په هغه كې د اعدام سزاء د جرم د مخنيوي لامل كېږي؟ آيا په كوم بل هېواد كې هم داسې ده؟» ـ له همدې امله تاسو پر خپل مخالف اړخ فوق العاده « فشار» راوړئ څو اضافي ملاتړ چمتو كړئ.

اړتيا ده څو د مخالفو ويناوالو له متقابلو پوښتنو څخه نتيجه گيري وشي، له هغه پرته به دا هيڅ ارزښت ونه‌لري چې پوښتنې تر كومه حده په زړه پورې دي او قضاوت كوونكي به هم ورته هيڅ ارزښت ورنه كړي.



## ۳,۱. د امريكا متحده ايالتونو پارلماني مناظره:

### ۱,۳,۱. د پارلماني مناظرې رولونه: په دې اړه لنډه تبصره:

پارلماني مناظره له هغه چوكاټ څخه عبارت ده چې محصلين د لوړو زده كړو پر مهال ورته ډېره ليوالتيا لري او د ټولې نړۍ په پوهنتونونو كې كارول كېږي. پارلماني مناظره له مشترک المنافع يا ټولگټو هېوادونو ( انگلستان، كاناډا، استراليا او داسې نور) څخه سرچينه اخلي او د امريكا متحده ايالتونه هم په دې برخه كې ډېر شهرت لري. يوازې انگليسي ژبي هېوادونه نه، بلكې نورو هېوادونه

هم په پارلماني مناظرو کې ګډون کوي. د دغې ادعا ثبوت په نړیواله اتلولۍ کې د نړۍ اوو لویو وچو څخه د ۴۰ هېوادونو ګډون دی چې په ۱۹۹۸ کال کې د یونان په آتن ښار کې ترسره شوه.

د پارلماني مناظرو ښیګڼې د لوړو زده‌کړو محصلانو له‌پاره دا دي چې له ډېر انعطاف وړ چوکاټونو څخه برخمنې دي او په ځینو مواردو کې له نیمګړتیاوو هم خالي نه وي. هغه محصلان چې کمې تجربې لري، مناظره ستونزمنوي او ډېره جوړښتي یا سازمان شوې یې ګڼي.

**په امریکا متحده ایالتونو کې پارلماني مناظرې د استدلالونو بحثونو، تفریح او شفاهي وړتیا په برخه کې له یوې سیالۍ څخه عبارت دي چې په یو خیالي پارلمان کې ترسره کېږي. دوه ټیمونه چې یو یې دولت او بل یې اپوزسیون/ مخالف وي، په هر یو کې یې دوه تنه لوبغاړي وي، داسې حل‌لارې تر بحث لاندې نیسي چې د راتلوونکې په پام کې نیولو سره وړاندې کېږي.**

د بېلګې په توګه؛ د کارل پاپر چوکاټ. که چېرې محصلان وغواړي چې پارلماني مناظره د یوې واحدې پیښې په توګه تجربه کړي، باید یو تجربه لرونکی روزونکی ورسره کار وکړي. هغه اړتیا لري څو داسې ترلاسه کړې چې انعطاف منل هیڅ کله د مناظرې کیفیت د ضایع کیدو لامل نه‌ګرځي.

په امریکا متحده ایالتونو کې پارلماني مناظرې د استدلالونو بحثونو، تفریح او شفاهي وړتیا په برخه کې له یوې سیالۍ څخه عبارت دي چې په یو خیالي پارلمان کې ترسره کېږي. دوه ټیمونه چې یو یې دولت او بل یې اپوزسیون/ مخالف وي او هر یو یې دوه تنه لوبغاړي لري، داسې حل‌لارې تر بحث لاندې نیسي چې د راتلوونکې په پام کې نیولو سره وړاندې کېږي. د هرې دورې له‌پاره د همغې دورې نوې حل‌لارې غوره کېږي. د مناظرې بهیر د پارلمان د رییس له لوري چې په خپله یو قاضی دی، اراده. که چېرې قضیه داسې وي چې د دورې قضاوت د یو زیات شمېر قضاوت کوونکیو له‌خوا وشي، په هغه صورت کې یې یو د پارلمان د رییس په توګه ټاکل کېږي.

په پارلماني مناظرو کې د ټيمونو نومونه او د ويناوو تنظيم په لاندې ډول دي:

| ټيمونه | | |
|---|---|---|
| اپوزيسيون | په مقابل کې | پارلمان |
| د اپوزيسون رهبر | | لومړی وزير |
| د اپوزيسيون غړی | | د پارلمان غړی |

۱. لومړی وزير ـ رغنده وينا ( ۷ دقيقې)؛
۲. د ايوزسيون رهبر ـ رغنده وينا ( ۸ دقيقې)؛
۳. د پارلمان غړی ـ رغنده وينا ( ۸ دقيقې)؛
٤. د اپوزسيون غړی ـ رغنده وينا ( ۸ دقيقې)؛
٥. د اپوزسيون رهبر ـ ملاتړې وينا ( ۸ دقيقې)؛ او
٦. لومړی وزير ـ ملاتړې وينا ( ۵ دقيقې).

دغه ډول مناظرو کې ډېره پاملرنه چټک او ژور فکر، منطقي استدلال او تحليل ته کېږي، نه يوې تفصيلي څېړنې او ارزونې او شواهدو او مدارکو ته ( څرنگه چې په کارل پاپر مناظره کې ترسره کېږي). له همدې امله د مناظرې په دوره کې له هر ډول مستندو شويو شواهدو او تحريري سرچينو څخه استفاده منع ده. دغه چاره د چټک تفکر د پراختيا او دا چې د لوبې کومه موضوع کيدی شي د مناظرې له پيله ۱۵ ـ ۲۰ دقيقې مخکې څرگنده شي، لامل کېږي ( په ځينو مواردو کې مناظره کوونکي د لوبې لوری درککوي داسې چې د لوبې موضوع به وړاندې کړي)

**د هر ټیم رول:**

ټیمونه موضوعګانې تر بحث لاندې نیسي، موضوع باید د ګډونوالو د لیوالتیا وړ ستونزو په اړه یوه بحث پاروونکې بیانه وي، دولت کولی شي د موضوع له « پراخې» نسخې څخه ساتنه وکړي او یا هم هغه د انفرادي قضیې په توګه تجربه کوي. که چېرې دولت د بحث وړ موضوع پراختیا راکموي او په ځینو مواردو کې به ایوزسیون د دې وړتیا ولري څو د قضیې پر وړاندې په بشپړ ډول د نظر اختلاف وښیي. که چېرې دولت له دغو مقرراتو سره جوړجاړی ولري، اپوزسیون باید د هغې قضیې پر وړاندې چې د دولت لهخوا وړاندې کېږي، د نظر اختلاف وښیي یا په بل عبارت هغه رد کړي. د اپوزسیون شخصي قضیه د امکان وړ ده خو یوه اړینه چاره نه ګڼل کېږي.

**د چمتووالي لپــاره وخت:**

په رسمي توګه د چمتووالي وخت ځانګړی کېږي. دا په داسې حال کې ده چې قاضیان حق لري څو له هرې وینا مخکې یوه یا دوه دقیقې دمه اعلان کړي څو د قواعدو او هغه وخت پر وړاندې چې د چمتووالی له پاره ځانګړی شوي، ژمنتیا وښیي، خو د مناظرې ټولو ګډونوالو ته باید مساوي وخت ورکړل شي او د ټولو ټیمونو له پاره عین معیار عملي شي چې په ټورنمنټ کې ګډون کوي.

***۱،۳،۲ . د مناظرې د ویناوالو مسوولیتونه:***

ویناوال د مناظرې پر مهال لاندې مسوولیتونه لري:

***لومړی وزیر:***

- موضوع اعلانوي او هغه تشریح کوي؛
- ستونزمنه او څرګنده قضیه وړاندې کوي؛
- د پارلمان فلسفه وړاندې کوي؛ او
- د قضیې په اړه استدلال څخه ملاتړ کوي.

***داپوزیسیون رهبر:***

- د ایوزسیون فلسفه وړاندې کوي؛
- خپله ستراتیژي/ متقابله قضیه وړاندې کوي؛

- خپله فکري کړښه وړاندې کوي؛ او
- د لومړي وزیر استدلال له پامه غورځوي.

***د پارلمان غړی:***

- د پخوانیو ویناوالو د وړاندې کولو ښه ارزوي؛
- د اپوزسیون فکري کړښه تر پوښتنې لاندې راوي؛
- پیاوړې قضیه او د پارلمان فکري کړښه ساتي او یا یې رامنځته کوي؛ او
- نوي استدلالونه وړاندې کوي.

***د اپوزیسیون غړی:***

- خپله فلسفه مطالعه کوي؛
- نوي استدلالونه وړاندې کوي؛
- عمده تناقضات تحلیلوي؛
- د پارلمان غړي فکري خطر ردوي؛ او
- د پارلمان فشار تعریفوي.

***داپوزیسیون رهبر:***

- د کړکیچ عمده اړخونه تحلیلوي؛
- توضیحات د نویو مثالونو له لارې وړاندې کوي؛
- د نظر اختلافونه وړاندې کوي ( د پارلمان او د اوپوزسیون د فکري کړښې پرتله)؛
- نتیجه گیري کوي؛ او
- نوي استدلالونه منع کوي.

***لومړی وزیر:***

- مناظره را لنډوي؛
- د مناظرې شیبې/ عمده مفکورې توضیح کوي؛
- د نظر اختلافونه وړاندې کوي؛ او

- نتیجه ګیري کوي، نوي استدلالونه منع دي ( د نویو استدلالونو پر وړاندې ځوابونه د اپوزسیون له غړیو څخه سرچینه اخلي).

د اپوزیسیون ټول اجراآت په دغو کلمو سره پایته رسېږي:
"په مهربانۍ سره یې رد کړئ".

د پارلمان ټول اجراآت په دغو کلمو سره پایته رسېږي:
"په مهربانۍ سره یې رد کړئ".
Parlia-

مهمې شیبې به وي چې باید یادداشت یې کړئ:

- د لومړیو څلورو وړاندې کولو پر مهال د په پام کې نیولو لهپاره معلومات جایز دي: بې تجربې ویناوال د وروستیو شیبو ویناوو له لومړۍ دقیقې وروسته، د ویناوال له خوا یادداشت شوي معلومات یا مني یا یې ردوي. ویناول باید کم له کمه له خپل مقابل لوري دوه مورده معلومات ترلاسه کړي.
- د مناظرې پرمهال د اعتراضونو ترلاسه کول جائز دي، چې یوازې د یو ویناوال/ قضاوت کوونکي لهخوا منل کېږي یا ردېږي. د سرغړوونکي لهخواد توجیه لهپاره د اعتراض پرېکړه منع ده.
- د ټولې مناظرې په ترڅ کې، د اخلاقي ستدرډونو د سرغړونې پر وړاندې شخصي اعتراضونه جایز دي. دغه موارد ډېر کم لیدل کېږي.
- ټول معلوماتي او اعتراضي موارد باید لنډ وي، څکه چې ۱۵ ثانیې ورته ځانګړې شوې دي، دغه ټاکل شوي زماني محدودیتونو څخه سرغړونه د لیدلورو د انحراف لامل کېږي.
- له څلورو لومړنیو ترسره کونو وروسته، پارلماني ویناوال ( مخاطب) چې د دولت یا یې د اپوزسیون له خوا ملاتړ کېږي او یا هم په اصطلاح بې پریتوب غوره کوي او« د مخاطبانو ویناوو» ته اجازه ورکول کېږي. دا په مناظره کې د مخاطبانو ښکیلولو یوه ښه تګلاره ده، د پارلمان رییس باید په ستیژ کې د مداخلو کنټرول لهپاره پوښتنه وکړي چې آیا مخاطبان د دولت یا اپوزسیون په ملاتړ د خبرو غوښتوونکي دي؟سپارښتنه کېږي چې اجراآتو شمېر که د هر لوري لهخوا وي، باید مساوي واوسي. د ستیژ ویناوې باید لنډې وي ( هغه وخت چې سپارښتنه یې کېږي الی ۲ دقیقې دی) چې باید د قاضیانوله خوا په پام

کې ونه نیول شي.  لومړی وزیر او د اپوزسیون رهبر په خپلو وروستیو ویناوو کې نشي کولی له هغو مفکورو څخه چې د پارلمان د غړیو له لوري وړاندې کېږي، استفاده وکړي.

**۳،۳،۱. د قضیې چمتو کول:**

« د پام وړ موضوع» د یوې عمومي قاعدې په توګه د دورې له پیل ۱۵ دقیقې مخکې اعلانېږي. پارلماني مناظره عموماً د اصطلاحي تعریف له نظره د « قضیې د چمتووالي» په نوم یادېږي. له همدې امله د دولت اړخ ۱۰ ـ ۱۵ دقیقې وخت لري څو قضیه پلان او هغې ته د حل لارو موندولو په موخه په پیاوړیو، منطقي، الهام بښوونکیو او ارزښتناکو مباحثو سره غوټې ورکړي او دغه استدلالونه پر یوې وینا بدل کړي چې دا په واقعیت کې په خپل ذات کې د یو قضاوت کوونکي د قانع کولو وړتیا ده څو د هغوی په ګټه رأیه ورکړي.

د یوې قضیې د چمتووالي پر مهال، په موضوع کې شاملې هرې کلمې تعریف ته اړتیا نشته، د دولت اړخ باید د پام وړ موضوع عمومي مفاهیم وړاندې کړي، د موضوع په اړه هر ډول تعبیر د امکان وړ دی، البته یوازې په هغه صورت کې چې قضیه لاندې ځانګړنې ولري:

- د موضوع د عمومي مفاهیمو تسلسل مشخص کړي.
- دا په ګوته کړي چې آیا مناظره په دواړو اړخونو کې په کافي اندازه  عادلانه ده کنه؟
- دا مشخصه کړي چې آیا کافي وضاحت شته څو دواړو ټیمونه به څرګنده توګه هغه څه چې باید په اثبات یې ورسوي، درک کړي؟

**تسلسل:**

راځئ هغه څه ته چې د موضوع له عمومي مفهوم سره مطابقت (جوړجاړی) لري، یوه کره کتنه وکړو.

موضوع: « دغه مجلس د اعدام له سزاء څخه ملاتړ کوي» یاده موضوع به د دولت له دغې ادعا سره جوړجاړی ونلري چې څرګندوي « زموږ د نن ورځې قضیه دا ده، هغه کسان چې په پلازمینه کې ژوند کوي، باید مجازات شي» دا څرګنده ده چې« په واقعي توګه» د موضوع مفهوم نه وړاندې کوي. خو حتی موضوع په ظاهري توګه د اعدام سزاء انعطاف منل د دولت له پاره د  امکان وړ ګرځوي. دولت کولی شي یوه مناظره داسې پیل کړي: « هغه قضیه چې غواړو وربانديې بحث وکړو، له هغه واقعیت څخه عبارت ده چې پر هغو مجرمینو چې له یو څخه زیات قتلونه یې کړي وي، د اعدام سزاء اړینه ده» ، یا هم یاده قضیه په واقعیت کې دا برخې راونغاړي چې د اعدام سزاء باید پر ټولو قاتلانو او جنسي تیري کوونکیو تطبیق شي او یا دا چې

دولت کولی شي ووايي چې په يو فلسفي کچه د اعدام  له سزاء څخه ملاتړ کوي او هيڅکله د هيڅ جنايت کار لاسونه نه تړي چې بايد سزاء ورکړل شي. ټولې دغه قضيې د هغو ارزښت ته په پام سره له اړوندې موضوع سره جوړجاړی او ورته‌والی لري.

په همدې حال کې، ټوليزه موضوع دا ده چې دولت له ډېرو ځانګړنو څخه برخمن دی. د بېلګې په ډول، که چېرې موضوع دا وي چې « دغه مجلس له پرانستو پولو څخه ملاتړ کوي» نو د هغو د تعبير له‌پاره ډېر فرصتونه شته دي، ښايي قضيه داسې وي چې پولې بايد په بشپړ ډول د آزادې سوداګرۍ له‌پاره پرانستې وي. د دې له‌پاره چې کډوال وکولی شي په آزاده توګه له پولو تېر شي او يا هم ښايي دا واقعيت وښيي چې پولې د رسنيو  لکه بهرنيو ورځپاڼو، کتابونو او مجلو د آزاد پوښښ له‌پاره پرانستې واوسي، يا دا چې دولت کولی شي له يو فلسفي دريځ څخه ساتنه وکړي او يا دا حقيقت څرګند کړي چې د پولو پرانستل په ټوله کې د ټولنې له‌پاره د ژوند د نورو تګلارو رامنځته کولو په معنې دي. ټولې دغه قضيې د هغو ارزښتونو ته په پام سره له اړوندې موضوع سره جوړجاړی لري. دا څرګنده ده چې له درده پرته/ آسانه مرګ فضيه له پرانستو پولو سره ډېره کمه اړيکه لري، له  همدې امله د منلو وړ نه‌ده.

**عدالت:**

دولت بايد هغه قضيې وړاندې کړي چې معقول کسان کولی شي ورسره مخالفت وکړي. دا په دې معنې ده چې بايد له هر ډول ځانګړې پوهې يا حقيقت پالنې څخه ډډه وکړئ.

که چېرې د دولت قضيه د ځانګړې پوهې پر بنسټ ولاړه وي، چې د قضيې د نه منلو يا مخالفت له پاره لازمه ده، په هغه صورت کې ناعادلانه ګڼل کېږي. اپوزسيون داسې څرګندوي چې له هغو محصلانو څخه تشکيل شوی چې فوق العاده زده کړې لري او اړ دي څو د هغو قضيو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي چې په رسنيو کې په پراخه کچه خپرېږي. دا چې يوه موضوع عموماً له مخکې نه اعلانېږي، نو اپوزسيون څخه تمه کيدی شي څو هغې په اړه عمومي پوهه ولري. که چېرې دولت خپله قضيه د هغو معلوماتو پر بنسټ چمتو کړي وي چې له مخکې نه د اپوزسيون په واک کې ده، په زيات احتمال سره به د قضيې منلو او نه منلو له‌پاره کافي معلومات وړاندې کړي.

دا په دې معنې نه‌ده چې دولت هیڅکله نه‌شي کولی موضوع ته د قضیې د مطالعې بېلګو  پربنسټ شکل ورکړي چې په احتمالي توګه به اپوزسیون د هغې په اړه کافي معلومات ونه‌لري. د  بېلګې په ډول، « دغه مجلس له آزادۍ څخه ملاتړ کوي» موضوع په پام کې ونیسي، د دولت په اړه به دا منصفانه وي چې د قضیې په اړه ووایي چې د امیش قبیلې خلک باید دا صلاحیت ولري څو خپل اولادونه له ښوونځي څخه راوګرځوي» البته یوازې هغه وخت چې ایوزسیون ته د وضعیت په اړه کافي توضیحات ورکړي: د امیش قبیله ـ یوه سنتي قبیله ده چې د امریکا متحده ایالتونو په لېرې پرتو سیمو کې ژوند کوي او هغوی د نورو مواردو په څېر د ټېکنالوژۍ وده هم نه‌مني. هغوی په شدیده توګه مذهبي او په ځان پورې منحصر ژوندانه سبک ته بشپړه ژمنتیا لري. په همدې توګه یې له موټرو، برېښنا او داسې نورو څخه استفاده منع کړې ده. په لنډه توګه ویلی شو چې د هغوی مذهب او فرهنګ ور څخه غواړي چې له امریکایي ټولنې څخه منزوي واوسي؛ حتی په هغه صورت کې چې اپوزسیون د امیش قبیلې په اړه ډېر پوهاوی او معلومات ونه‌لري، لابه هم د دې امکان وي چې په دې اړه مناظره وکړي. البته په هغه صورت کې چې په دې اړه پېژندل شوي او یا حتی ډېر لومړني مقررات موجود وي. د نړۍ په کچه ډېری ستونزې: آیا دولت باید د مذهبي عقایدو پر بنسټ  هغو کسانو ته استثناء ومني چې غواړي د پوهنې له نظام څخه لېرې واوسي، په واقعیت کې هغه قضیه چې پر امیش قبیلې تمرکز لري، کیدی شی تصادفي واوسي. که چېرې دولت د قضیې مطالعې د چمتووالي په اړه د امیش قبیلې مشخصو بېلګې وړاندې کولو ته لیواله ونه اوسي، اپوزسیون کولی شي په هوساینې  سره په دې اړه مناظره رهبري کړي.

قضیه باید پر حقیقت پالنې تمرکز ونه‌لري  او یا هم یوه عمومي مفکوره واوسي. حقیقت پالنه داسې مورد دی چې هیڅکله نه‌شي کیدی د معقولو کسانو له لوري ومنل شي. موضوع بیاځلي وارزوئ « دغه مجلس له پرانستو پولو څخه ملاتړ کوي» ټولې هغه بېلګې چې پورته یې یادونه وشوه، په واقعیت کې حقیقت کې پالنه نه‌ګڼل کېږي، معقول کسان کولی شي د  دغه واقعیت پر وړاندې چې آزادې سوداګرۍ، آزادې کډوالۍ او د مفکورو آزادې تبادلې ته د اجازې ورکولو اړتیا شته، مخالفت کوي، خو دولت ته به دا منصفانه نه وي چې ادعا وکړي « زموږ د نن ورځې قضیه دا ده چې دولت باید بهرنیو هېوادونو ته د هېوادوالو سفر ته اجازه ورکړي» دغه موضوع په بشپړ ډول حقیقت لري. هیڅ معقول کس د هېواد پولې په بشپړ ډول نه بندوي، څو هیڅوک د سفر اجازه ونه‌لري. له همدې امله به له دغه لیدلوري سره د ایوزسیون مخالفت منصفانه نه‌وي، که چېرې د یو دولت په توګه یوه قضیه مطرحه کړئ او ونه توانیږئ، د هغې پر وړاندې یو واحد مخالفت انځور کړئ، په هغه صورت کې مو ښایي یوه حقیقت پالنه اختراع کړې وي. دلته د حقیقت پالنې ځینې

**حقیقت پالنه داسې مورد دی چې هیڅکله نه‌شي کیدی د معقولو کسانو له لوري ومنل شي.**

بېلګې تر بحث لاندې نیول کېږي: لکه تاسو به هیڅکله یو هستوي بمب له کوم دلیل پرته استعمال نه‌کړئ.
او یا د دې ویل چې له ماشومانو څخه ناوړه استفاده یو وړ او سم کار دی او  بالاخره په دې اړه د نظر څرګندول چې د آزادو رسنیو ممنوعیت ناممکنه دی او داسې نور.
دا د دولت مکلفیت دی چې د نظر وړ قضیه وړاندې کړي، څو معقول خلک په دې وتوانېږي چې ورڅخه ملاتړ وکړي او یا یې رد کړي. که چېرې دولت له قضیې نه داسې استفاده وکړي چې هغو ته لازیاتې ښیګڼې ور وبښي، په هغه صورت کې دا احتمال شته چې ډېری استدلالونه به بشپړ ډول څرګند شي. دغه چاره به ستونزمنه وي څو ثابته کړو چې یو وړ مناظره کوونکی یاستئ، البته په هغه صورت کې چې داسې یو دریځ ونیسئ چې دفاع ور څخه ډېره آسانه وي. که چېرې داسې وي چې له قضیې سره مخالفت ډېره ستونزمنه چاره وي، هغه مهال اپوزسیون کولی شي د څو استدلالونو په موندلو سره په ساده توګه د قضیې پر وړاندې د قاضی ملاتړ ترلاسه کړي.

**وضاحت:**

دولت باید په هره وینا کې خپل دریځ په روښانه توګه څرګند کړي. « دغه مجلس له پرانستو پولو څخه ملاتړ کوي» موضوع په پام کې ونیسئ. که چېرې دولت په روښانه توګه دا څرګنده کړي نه وي چې هوډ لري دا ثابته کړي چې اپوزسیون نه‌شي کولی دا درک کړي چې څنګه د دولت قضیه ونګوي، آیا حکومت دا استدلال کوي چې پولې د خلکو او سوداګرۍ پر مخ پرانستې وي؟ آیا داسې محدودیتونه شته چې د دولت له لوري وضع شوي وي؟ که چېرې اپوزسیون پوه نه شي چې له دولت نه دفاع کوي، په هغه صورت کې به دا وړتیا ونه لري چې یاده قضیه رد کړي. په دې اړه فکر وکړئ: اپوزسیون دېته لیواله دی چې د پولو پرانستل له پامه وغورځوي او استدلال وکړي چې باید پولې په بشپړ ډول تړلې نه‌وي، بلکې باید په دې برخه کې ځینې محدودیتونه وضع شي، که چېرې د هغې په تعقیب دولت اعلان وکړي چې « محدودیتونه» په څرګنده توګه د « پرانستې پولې» طرحه رانغاړي او کله چې دواړه اړخونه له یوې موضوع نه دفاع وکړي، نو دولت به د راتلوونکیو ویناوو د تنظیم پر مهال تل هڅه وکړي څو هغو ستونزو ته رسیدنه وکړي، چې د اپوزسیون له‌خوا یې یادونه شوې چې په دغه حالت کې مناظره لاپیچلې کېږي.

**تکرار/تضاعف:**

**د تعریف له اړخه، په واقعیت کې تکرار/ تضاعف یوه سمه جمله ده.**

د بېلګې په ډول، دولت وایي « کوکاکولا یو شی دی» له هغه وروسته لومړی وزیر« شی» د « خوږې ګازلروونکې نوشابې» په توګه تعریفوي. دغه ډول استدلال د تکرار/ تضاعب معنې او یا د قضاوت د منطق په توګه نومول شوی دی. بل مثال: دولت استدلال کوي چې« X سیاستوال اداري فساد نه زغمي» له هغه وروسته « X پالیسي» د یو سالم ذهن لروونکي کس په توګه ټاکي. چې له اخلاقي ستندرډونو څخه د انحراف په پرتله به مرګ ته ترجیح ورکړي. په دغه صورت کې اپوزسیون څرګندوي: « که هغه بدې وانه‌خلي، ټاکنې باېلې× خو د قضیې د تعریف پر بنسټ، دولت چې تر ټولو لوړ مقام لري، X پالیسي یو غوراوی او اخلاقي اصل نه‌ګڼي. له همدې امله دولت اپوزسیون منزوي کوي چې دا کار جواز نه‌لري.

**د قضیې مطالعې د چمتووالي لپاره نور وړاندېزونه په لاندې ډول دي:**

۱. تل پر داسې قضیې کار وکړئ چې وکولی شي له دواړو اړخونو څخه په قناعت بښوونکي بڼه ملاتړ وکړي. که چېرې لومړی وزیر حتی له لېرې واټن څخه پر هغه څه چې دولت یې وایي، باور ونلري، په هغه صورت کې به پر قاضی د هغه باور زیات شي.

۲. د قضیې د تصویب پر وړاندې « ننګونې»؛ د وینا دغه برخه د مناظرې شرایط ټاکي، له همدې امله د هر ډول شخړې یا کلیدي مفاهیمو / طرحو په تعریف کې ځیر واوسئ څو وروسته وکولی شي ورنه ملاتړ وکړئ.

۳. د حکومت کلیدي استدلالونه ډلبندي کړئ، خو ډېر یې مه پیچلي کوئ، لازمه نه‌ده چې هغه کلمه په کلمه ولیکئ: دا به یوازې د دې لامل شي چې لومړی وزیر وکولی شي هغه په مستقیم ډول د پاڼې له مخې ولولئ. د جلا استدلال او لنډو لیدلورو د وړاندې کولو له لارې، به لومړی وزیر د ښې وینا په برخه کې لازیاته آزادي ترلاسه کړي.

۴. د چمتووالي په ترڅ کې د وینا پای ته پراختیا ورکړئ. دا به هم بده نه‌وي چې د سوکه پیل په اړه فکر وکړئ.

### ۴،۳،۱. د قضیو ډولونه:

په پارلماني مناظرو کې عموماً د قضیو اصلي ډولونه کارول کېږي، په یقیني توګه دا یو ټولیز لړلیک نه‌دی: ځینې قضیې له هغو درېیو ګروپونو څخه چې دلته یې یادونه شوې، بهر دي. ډېری قضیې د څو ګروپونو عناصر رانغاړي. لکه له درد پرته / آسانه مرګ قضیې قانوني کول چې د سیاسي او فلسفي استدلالونو یو ترکیب دی.

**الهام ببښوونکې/هڅوونکې قضیه:**

یوه الهام ببښوونکې/ انګیزه ورکوونکې قضیه، په نړۍ کې هر ډول ستونزه تشخیصوي، هغې ته د رسیدنې له پاره یو کاري پلان تر لاس لاندې نیسي او داسې یو ټیم جوړوي چې د ملي شورا، مشرانو جرګې، ولسمشر، ملګرو ملتونو، OSCE او یا هرې بلې مرجعې/ بنسټ ( دا حتمي نه ده چې په دولت کې دننه وي) له‌خوا یې د تصویب له ارزښت څخه ساتنه وکړي، همدومره ارزښت لري چې قضیه یوه داسې ننګوونکې تګلاره رامنځته کړي چې په ځینو ټېټو کچو کې له ناوړه بدلونونو څخه مخنیوی کوي او هیڅکله به له قانون څخه استفاده ونه کړي. دلته د قضیې د مطالعې یوه بېلګه شته چې په هغې کې د ترینګلتیاوو کچه کابو صفر ته رسېږي:

- د ماري جوانا لېږد او استفاده باید قانوني شي.
- د ملګرو ملتونو سازمان باید جاپان هېواد ته په امنیت شورا کې یوه دایمي چوکۍ ځانګړې کړي.
- پر عمومي عایداتو مالیات باید لغو شي.
- جمهوري غوښتوونکی ګوند باید له خپل ملي پلاتفورم څخه د جنین سقط څخه مخالفت وباسي.

**فلسفی (ارزښتناکه) قضیه:**

دولت د لوبې په پیل کې د نظر وړ قضیې په وړاندې کولو سره له هر ډول فلسفي لیدلوري څخه ملاتړ کوي. د فلسفي قضیې مطالعې ته د پاملرنې هدف اصولي فلسفي نظر دی او مشخص اقدامات په کې شامل نه‌دي. فلسفي قضیه له هغې مناظرې سره تړلې ده چې د اخلاقي یا فلسفي مواردو په اړه د خپل لیدلوري د اثبات فرصت لري. په داسې حال کې چې د واقعي ژوندانه پیښې کیدی شي د فلسفي ارزښتونو ترمنځ په ترینګلیتاوو باندې پر عمده تمرکز سره د یوې فلسفي بیانیې د ملاتړ له‌پاره د استفادې وړ وګرځي.

**لاندې یې څو بېلګې وړاندې کېږي:**

- ④ د ارزښت آزادي د ارزښت د برابرۍ په پرتله ډېر ارزښت لري.
- ④ د اعدام سزاء یو غیر منصافه اقدام دی.
- ④ خیر غوښتوونکې ډیکټاټورۍ د حکومت تر ټولو ښه اقدام دی.
- ④ د یو بې ګناه انسان ژوند د لس‌هاوو نورو د ژغورنې له پاره واخلئ ـ له اخلاقي اړخه.

**پر وخت متمرکزه قضیه:**

دغه قضیه ویناوال د خلکو او څېړونو په یو شخصي او ګروپي دریځ کې ودروي، نه دا چې د دې په فکر کې واوسي چې ویناوال په حقیقت کې څوک دی. حکومتي ټیم هم کولی شي ویناوال په زماني مقطع کې له اوس څخه په توپیر لروونکې بڼه کې ودروي. قضیه باید د هغه کس له‌خوا چې د دولت له لوري ګمارل شوی، تر بحث لاندې ونیول شي او په ټاکل شوي وخت د هغه په اړه فکر وکړي. په لاندې برخه کې په زماني مقطع پورې متمرکزو قضیو څو بېلګې وړاندې کېږي:

- ④ تاسو ستر کشیش یاستئ، ژوند عادلانه کړئ.
- ④ تاسو بیل کلینتن یاستئ، د ۱۹۹٦ کال په ټاکنو کې بیاځلي ګډون وکړئ.
- ④ تاسو د ۱۹۴۵ کال هر ترومن یاستئ، پر هیروشیما اټمي بمب وکارئ.
- ④ تاسو لوک سکای واکر یاستئ، د ځواک تیارې خوا ته لاړ شئ.



کله چې وغوښتل شي څو زماني چوکاټ د مناظرې مطابق ترسره شي، « له زماني مقطعې سرغړونه» منع کېږي، ځرنګه چې مهالوېش غواړي باید په مناظره کې عدالت مراعات شي. دا په دې معنې ده چې د مناظرې ګډونوال نه‌شي کولی د داسې پیښو په اړه توضیحات ورکړي چې له ټاکل شوي مهالویش وروسته رامنځته شوي او همدارنګه نه‌شي کولی د هغه مهال له پوهو او تجربو څخه استفاده وکړي چې بشریت موجود نه وو او په همدې ترتیب نه شي کولی پر هغو لیدلورو ونښلي چې مناظره کوونکیو ته مشخص او څرګند شوې نه وي. د بېلګې په ډول، په یوه لوبه کې چې له زماني اړخه د ۱۹۳۰ کال د پیښو په اړه ترسره کېږي، که چېرې مناظره کوونکی د انګلستان د

لومړي وزير نويل چمبرلين پر ځای واوسئ ( « ادلف هيټلر»)  اپوزسيون نه شي کولی د دويمې نړيوالې جګړې زېږنده پيښو او يا د هيټلر جنايتونو ته اشاره وکړي چې د هوکړه ليک له لاسليک وروسته ترسره کېږي.

پر زماني مقطع متمرکزه قضيه کې ناکامي رامنځته کېږي چې د حکومت استدلالونه د « تاسو X ياستئ، له همدې امله به په يوې ځانګړې تګلارې سره عمل وکړئ» فرضيو تر شاه پټ وي. له همدې امله دا د زماني مقطعې يو تکرار/ تضاعف دی چې کيدی شي د مخالفت ښکارندوی وکړي. بله ستونزه هغه مهال رامنځته کېږي چې قاضی د يو ډېر مخرب کس په حد کې وي، د بېلګې په ډول « تاسو چارلز مانسون ياستئ، د X کار ترسره کړئ، نه د  مناظرې د تر ټولو ښې قضيې په توګه، په همدې  ترتيب سره له چارلز منسون څخه د نه وړاندې وينې  وړ کس په توګه، ډېر لېرې ښکاري چې د منطقي استدلال مناظره په غير منصفانه توګه د X په ګټه پايته ورسوي.

عموماً د تصميم نيونې پر مهال پر زماني مقطعې متمرکزې قضيې څخه استفادې په اړه ښه ده څو  کليدي (c) د فرضيې په توګه ومنئ: داسې مهواياست چې: « کانګرس ياستئ. د X کار ترسره کړئ» ښه به وي چې يوازې دومره وواياست چې کانګرس بايد د X کار  ترسره کړي».

### ۵،۳،۱. رغانده ويناوې:

### د لومړي وزير رغانده وينا:

لومړی وزير عموماً خپله وينا قضاوت کوونکيو او اپوزسيون ته په ښه راغلاست سره پيلوي، له هغه وروسته د مناظرې له‌پاره يوه موضوع اعلانوي.

> د دولت فلسفه په واقعيت کې يو ټوليز بنسټ دی، چې د دولت ټول جلا استدلالونه له يوبل سره نښلوي

لومړی وزير بايد د موضوع له اعلان وروسته، د يوې معينې قضيې د ځرګندو عبارتونو په وړاندې کولو سره مشخصه کړي چې دولت غواړي هغه تر بحث لاندې ونيسي. لومړی وزير بايد دا توضيح کړي چې د دولت قضيه څنګه له موضوع سره اړيکه لري. هغه همدارنګه بايد دا توضيح کړي چې د نظر وړ قضيې ارزونې له‌پاره څه شی په پام کې نيول شوي.

که قضيه « په کوزوو کې نظامي مداخلې» په اړه وي، لومړی وزير بايد هغه داسې توضيح کړي: څوک بايد ونډه په کې واخلي؟ آيا مداخله کوي، يوازې بايد داسې وي چې د يو لوري پلوي وکړي او يا له اوربند سره مرسته کړئ؟ مهمه دا ده چې ټول دغه جزئيات د لومړي وزير د وينا په پيل کې توضيح شي. له هغه پرته

ممکن اپورسیون د دولت قضیه په سمه توګه درک نه‌کړي او د هغې په اړه تیروتنه وکړي. د بېلګې په دول: دولت د ناټو مداخلې ته لیواله دی، په داسې حال کې چې هغه د ملګرو ملتونو سازمان د مداخلې غوښتنه کوي. که چېرې اپوزسیون باور وکړي چې د دولت قضیه دا یا هغه مفهوم وړاندې کوي او له هغه وروسته دولت په ناڅاپي توګه څرګندوي چې « دا بله معنې ورکوي» په هغه صورت کې به هر څه ډېر د تأسف وړ وي.

د لومړي وزیر له خوا د قضیې له وړاندې کولو وروسته عموماً د « دولت فلسفې» په څېر څېزونه ( لکه د کارل پاپر مناظرې معیارونه) صحنې ته راځي. د دولت فلسفه یوازې د یوې ګډې زمینې برابرول دي څو د دولت ټول انفرادي استدلالونه له یوبل سره ونښلول شي.

له هغه وروسته، لومړی وزیر د قضیې په اړه احتمالي استدلالونه وړاندې کوي. تر ټولو ښو ویناوو کې عموماً ۲ ـ ۵ استدلالونه وي هر عدد له پنځو څخه زیاتې ... په دې معنې ده چې هر استدلال له‌پاره کم وخت ځانګړی شوی چې په واقعیت کې د قضاوت کوونکیو د لار ورکې لامل کېږي. لومړی وزیر عموماً د استدلال لنډېز په یوه جمله کې بیانوي او له هغه وروسته توضیح ورکوي چې هغه ثابت او ورنه ملاتړ وکړي او ټول څېزونه پر هغو متمرکز کړي چې ګواکې د هغه استدلال سم دی.

له هغه وروسته باید لومړی وزیر نتیجه ګیري وکړي، په تر ټولو ښه حالت کې استدلال په یوې طریقې سره خلاصه کېږي څو وښیي چې په ټوله کې د هغه څه څخه چې وړاندې شول، ډېر مفهوم وړاندې کوي.

**د اپوزیسیون د رهبر رغانده وینا:**


په پارلماني مناظرو کې د اپوزسیون رول په واقعیت کې له قضیو سره د نظر اخلاف دی چې له دولت څخه استازیتوب کوي، سره له دې چې د قضیو دغه تسلسل د دې ښودنه کوي چې یو معقول کس نه‌شي کولی له هغه سره ښکاره مخالفت وکړي؛ سم داسې چې د دولت مسوولیت د دا وړ قضیو وړاندې کول دي. د اپوزسیون دنده هم په واقعیت کې له مطرحه شویو قضیو سره د نظر اختلاف دی یا په ډېره ساده ښه ویلی شو چې د هغوی دنده له یادې قضیې سره مخالفت دی. اپوزسیون نه‌شي کولی ځانګړې قضیې له پامه وغورځوي او په یوه تیوریکي او نظري کچه بحث وکړي. په همدې توګه هغوی نه شي کولی ادعا وکړي چې کولی شي یوې موضوع ته « تر ټولو ښه» او یا « تر ټولو مناسب» تعریف وړاندې کړي.

که چېرې د دولت قضیه د حقیقت پالنې وړاندې کوونکې وي ( هغه قضیه چې د هغه پر وړاندې معقول کسان مخالفت نه‌شي کولی) دغه چاره د دې لامل کېږي چې د اپوزسیون مخالفت راوپاروي او په یوه عادلانه

مناظره کې ګډون ته حاضر شي. د هغو موضوع ګانو بیاځلي تاکل ( هغه سرچینې چې « اصلاحي» ګڼل کېږي) چې د اپوزسیون لهخوا وړاندې کېږي، په خپل ذات کې منصفانه دي.

په دې برخه کې یوه بېلګه شته: « دغه مجلس د سولې ټینګښت لهپاره له ځواک څخه استفاده کوي» موضوع ته اجازه ورکړئ. دولت کولی شي دا مسأله اعلان کړي چې د ملګرو ملتونو سازمان باید کوزوو ته نظامي ځواکونه واستوي. اپوزسیون باید دغه قضیه په پام کې ونیسي. دا مهمه نهده چې هغوی ترجیح ورکوي چې نظامي ځواکونه اسرائیلو ته واستوي او یا هم دا چې ترجیح یې ورکړې. د دغې فلسفې په اړه لازیاتې مناظرې وکړي. د کوزوو قضیه په واقعیت کې یوه منصفانه، د جوړجاړي وړ او ډېره روښانه قضیه ده. البته دا په دې معنې نهده چې اپوزسیون نهشي کولی د نورو هېوادونو په اړه خبرې وکړي، بلکې کولی شي ادعا وکړي چې د ملګرو ملتونو سازمان په لسهاوو نورو هېوادونو کې د اختلافونو حل لهپاره له نظامي وسایلو څخه په استفاده کې له ناکامۍ سره مخ شوی او ښایي په کوزوو کې هم ماتې وخوري. اپوزسیون کولی شي د غیرمنطقي سولې په ټینګښت کې له ځواکونو څخه د استفادې څرنګوالي په باره کې عمومي استدلال وکړي. خو د معمولو استدلالونو او د نورو هېوادونو نقل قولونو ته په پام سره باید څرګنده کړو چې بالاخره، د هغوی دنده د دولت د دغې قضیې ردول دي. کولی شئ په دې اړه چې یوه مشخصه قضیه ناسمه ده، د هر کس قانع کولو لهپاره له عمومي استدلالونو څخه استفاده وکړئ. خو دغه استدلالونه مو باید په دغې مشخصې قضیې پورې اړوند وي.

### د پارلمان د غړي رغانده وینا:



په دولتي جوړښت کې د یو شامل غړي د وینا عناصر د لومړي وزیر د رغانده وینا د عناصرو په اندازه ارزښت لري. د دولت غړی باید دوه له یوبل سره اړوند هدفونونه ترلاسه کړي: د هغوی د رد لهپاره د دریځ نیولو په موخه د دولت او اوپوزسیون د استدلالونو پر وړاندې ځوابوینه. په هغه صورت کې به اپوزسیون ته ځانګړی شوی وخت ۱۲ دقیقې ونیسي او په ترڅ کې به یې د دولت قضیه له ماتې سره مخ کړي. دا یوازې ژبه ده چې دولت له هغې څخه په استفادې سره کولی شي د هغو استدلالونو پر وړاندې چې د اپوزسیون د مشر لهخوا وړاندې کېږي، ځواب ووایي. په لنډه توګه ویلی شو چې دولت به هیڅکله د دې وړتیا ونهلري چې له دغه پړاو څخه بریالی راووځي. البته په هغه صورت کې چې د دولت غړي د وینا په پای کې پر دې ونه توانېږي چې د دولت د دریځ په ګټه وینا وکړي.

ياد جوړښت ځيني وختونه په دغه وينا کې له منځه ځي. که چېرې د اپوزسيون رهبر يو ربښتوني مبارز وي، د دولت د غړيو لهپاره تر ټولو ښه ستراتيژيې د ميز پر سر د استدلالونو له ارزونې او د لومړي وزير د استدلالونو د هر برید پر وړاندې له ځواب‌وينې څخه عبارت ده.

## د اپوزيسيون غړي رغانده وينا:

د اپوزسيون غړی بايد بياځلي د مخالفت د رد او د دولت استدلالونو له پاره اصلي استدلالونه ترلاس لاندې نيسي. د اپوزسيون د غړيو دنده د ټولو هغو استدلالونو پر وړاندې له ځواب وينې څخه عبارت ده چې د دولت د غړي له خوا وړاندې کېږي. که چېرې هغوی بې ځوابه شي، د اپوزسيون رهبر به د دې وړتيا و نلري څو وکولی شي د هغو د رد پر مهال ورسره اړيکه ونيسي. سربېره پر دې، د اپوزسيون يو غړی بايد د اپوزسيون د رهبر استدلال مصادره او پراختيا ورکړي او په دې توګه يو خپلواک تحليل ترسره کړي.

په پارلماني مناظرو که اپوزسيون له تاسو « پلان» يا « قضيه» نه غواړي، بلکې څه چې ورته اړتيا ده، هغه په قضيه کې د اپوزسيون مخالفت دی ( او که امکان ولري ماتې ورکول) چې د دولت له خوا وړاندې کېږي. خو د اپوزسيون قواعد او مقررات اجازه درکوي څو په هغه صورت کې چې ليوالتيا ولرئ، يوه « متبادله قضيه» او يا يو « متبادل پلان» وړاندې کړئ. د اپوزسيون قضيه بايد داسې نه وي چې په ساده توګه د دولت پر قضيې ور زياته شي، بلکې هغوی بايد متبادله قضيه ترلاس لاندې ونيسي او په هغې کې د دولت له اړخه ډول ډول ارزښتونه منعکس کړي. له همدې امله نه شو کولی هغو ته د دولت له قضيې سره هممهاله رسيدنه وکړو. په بل عبارت، ويلی شو چې ډېرو مواردو ته اړتيا نشته څو وربانديې قضاوت وشي « اوهو، ما قضيه خوښه کړه او دولت او اپوزسيون کولی شي له قضيې څخه په استفادې سره له يوبل سره مقابله وکړي»؛ البته تر هغه چې قضاوت کوونکي وغواړي، د دولت قضيې اصلي ګټوونکي دواړه اړخونه وي، د اپوزسيون اصلي هدف همغه د قضيې ماتول دي. دا د بريا لهپاره يوازينۍ لار ده، له همدې امله که چېرې اپوزسيون خپله قضيه ولري، اړتيا ده څو ډاډ ترلاسه شي چې دا په کره توګه يوه متبادله قضيه ده او د دولت نيمګړتيا په ګوته کوي. په عين حال کې ياده قضيه استثنايي او په فرد پورې منحصره هم ده.

**او بالاخره یو مهم قاضی:** د مناظرې هدف په واقعیت کې د  هغه څه په اړه استدلال ندی چې باید د یوې موضوع په توګه د بحث وړ وي، بلکې  هدف یې په حقیقت کې د یادې موضوع په اړه مباحثه ده. له همدې امله په مناظره کې دوه مهمې او مطلقې قاعدې دا دي چې دولت باید قضیه وړاندې او پوزسیون یې پر وړاندې مخالفت وښيي. د دولت له خوا د مجازې او مطرحه شوې قضيې ټاکل په نادره توګه ترسره کېږي، البته هغه قضیه چې په موضوع پورې اړونده نه وي یا په بشپړ ډول غیر منصفانه وي. په دغسې  نادرو قضیو کې اپوزسیون کولی شي موضوع له لومړیتوب څخه وباسي. که چېرې اپوزسیون هڅه وکړي څو موضوع تعریف کړي، په داسې حال کې چې د هغې لهپاره هیڅ دلیل  موجود نهوي، هغوی باید خپلو اصلي دندو ته د نه پاملرنې له امله چې همغه د دولت لهخوا وړاندې شوې قضيې په پام کې نیولو سره د  مناظرې ترسره کول دي، سزاء وويني. اپوزسیون باید په یاد ولري چې قضاوت د دې پر بنسټ نهکېږي چې د مناظرې کومه برخه د استدلال لهپاره ساده ده، بلکې  قضاوت پر دې کېږي چې ټیم تر کومه حده په دې توانیدلی له هغه دریځ څخه چې باید دفاع وشي، په ښه توګه دفاع وکړي.

### ۱,۱,۳. د نظر اختلاف:

د وروستیو ویناوو هدفونه ( د بېلابېلو سرچینو په پام کې نیولو سره بېلابېل نومونه لري، لکه: مخالفې/ ردوونکې ویناوې، تحلیلي ویناوې، ملاتړې ویناوې، د نظر اختلاف) په واقعیت کې د متضادو افکارو اصلي لامونه خلاصه کوي، هغه په څرګنده توګه مشخصوي او د قضیې د اثبات په برخه کې یې د ټیم د نه موافقیت پر څرنګوالي ټینګار کوي. په یاد ولرئ، دا چې په داسې ویناوو  کې نوي استدلالونه منع شوي، باید د دې پر اثبات تمرکز ولري چې ولې ستاسو ټیم ګټوونکی دی.

په پای وینا کې د اپوزسیون د رهبر هدف د دولت په دریځ کې شته اساسي نیمګړتیاوو ته اشاره کول دي، څو د اپوزسیون لیډلوري پیاوړي او پر بنسټ یې پر یوې خبرې هوکړه وکړي او ووایي چې هغه د اپوزسیون یو غړی دی. دغه وینا باید په کافي کچې سره ځواکمنه وي څو وکولی شي د پای وینا په ترځ کې د لومړي وزیر لهخوا وړاندې شوې قضيې له بریالی رغاونې څخه مخنیوی وکړي. دا د اپوزسیون لهپاره کافي نهوي چې په یوه لیکه کې قرار ولري اویا حتی له دولت څخه لږ څه مخکښ واوسي. په دغه صورت کې به لومړی وزیر د دې وړتیا ولري چې په پای وینا کې  له اپوزسیون څخه مخکې شي.

د لومړي وزیر له پای وینا څخه هدف هغو بنسټیزو ارزښتونو ته د مناظرې بېرته راګرځول دي چې د هغه په پرانستوونکې وینا کې وړاندې شوي، څو وکولی شي نویو مهمو او  غیر مهمو استدلالونو ته چې د اپوزسیون د غړیو له خوا وړاندې کېږي، ځواب ورکړي او په دې توګه د اپوزسیون وروستي لیډلوري د هغه د

د پای وینا هدفونه په واقعیت کې د لیدلورو ترمنځ د عمده ترینګلتیاوو لټډېز او تشخیص دی.

رهبر د پای وینا په پام کې نیولو سره وننګوي. په پای وینا کې به د لومړي وزیر مکلفیت په عمده توګه د مناظرې په ترڅ کې، ډېر دروند وي، خو هغه همدارنګه کولی شي د وروستیو کلمو له ښیګڼو څخه هم استفاده وکړي. په دغسې ویناوو کې د عالي خبرو وړتیا د پارلماني مناظرو له پام وړ مهارتونو څخه ګڼل کېږي.

په یاد ولرئ، که څه هم په پای ویناوو کې نوي استدلالونه منع شوي، خو د نویو مثالونو وړاندې کول جایز دي. په بل عبارت که چېرې لومړی وزیر د لومړۍ دورې په وینا کې په دې اړه استدلال وکړي چې آزاده سوداګري د ډیموکراسۍ لامل ګرځي او په دې اړه له پنځو هېوادونو څخه نوم اخلي، هغه کولی شي په خپله پای وینا کې د شپږم هېواد مثال هم وړاندې کړي. دا په واقعیت کې یو ډېر روښانه مورد دی چې کولی شي د لومړي وزیر له خوا یو نوی مثال معرفي کړي. په ډېرې مواردو کې دا ډېره روښنانه نده او قاضیباید په کره توګه دا وارزوي چې آیا بیانیه په واقعیت کې د نوي سوداګریز نوم د بېلګې په اړه ده او که یو نوی شرط دی؟

له دې سربېره، که څه هم په پای ویناوو کې نویو استدلالونو ته جواز نشته، خو لومړی وزیر کولی شي د هغو استدلالونو پر وړاندې نوي ځوابونه وړاندې کړي چې په لومړي سر کې د اپوزسیون د غړیو لهخوا د ویناوو پر مهال مطرحه شوي دي، ولې؟ که چېرې تاسو د هغه په اړه فکر کوي، دغه وضعیت کیدای شي په بشپړ ډول طبیعي ښکاره شي، د لومړي وزیر د پای وینا ـ دا دولت ته لومړنی فرصت دی څو د هغو استدلالونو پر وړاندې ځواب ووایي چې مخکې د اپوزسیون د غړیو لهخوا وړاندې شوي دي، که چېرې د اپوزسیون یو غړی په ساده توګه استدلال تکرار کړي، دا په دې معنې دی چې له خپل رهبر څخه استازیتوب کوي. پّه داسې حال کې چې لومړی وزیر حق نهلري نوی ځواب وړاندې کړي ( ځکه چې د دولت یوغړي کولی شوای د وینا پر مهال دغه استدلال ځواب کړي او باید دغه کار یې ترسره کړای وای) خو د اپوزسیون غړي په واقعي توګه یوه نوې بیانیه وړاندې کوي نو مناسبه ده چې په دې برخه کې د لومړي وزیر په واک کې نور جزئیات ورکړي څو هغه وکولی شي هغه د پای وینا په ترڅ کې ځواب کړي.

**ستراتيژي:**

څلور يا پنځه دقيقې وخت په واقعيت کې د اپوزسيون له خوا هرې مطرحه شوې موضوع ته د رسيدنې لەپاره کافي نەدي، که چېرې هڅه وکړئ دغه کار ترسره کړئ، يو يا دوه موردە به پيښ شي: ۱) هغه وخت چې په واک کې لرئ، پاي ته رسېږي، ۲) تاسو به د مناظرې تر ټولو مهمو شيبو ته کمه پاملرنه وکړئ.

د اپوزسيون رهبر او لومړی وزير بايد د دې پر ځای هڅه وکړي څو د نظر له اختلاف مخکې په ويناوو کې« د قاضی ذهنيت درک کړي» له پراخو ليدلورو سره مل ساتوونکي دريځ څخه راووځي او داسې وښيي چې يو څاروونکي دی او مناظره گوري. ستاسو په نظر به څوک بريالی شي او ولې؟

> مهم استدلالونه ډلبندي کړئ څو د ليدلورو د تقابل مهمې شيبې ورنه وباسئ

آيا تاسو د « قاضيان د ذهنيت درک» په برخه کې هڅې کړې، په دې اړه فکر وکړئ چې څنگه کولی شئ له يادې دورې څخه منته وکړئ، کله چې قاضی د يوې مناظرې په اړه پرېکړه کوي، له هر استدلال سره مساوي چلند نەکوي، برعکس، قاضی اصلي ټکي په پام کې نيسي. چې دواړو لوري د هغو په اړه سره هوکړه نه لري. هغه ارزوي چې څوک توانيدلي د طرحه شويو مسائلو په اړه تر ټولو ښه مناظره وکړي او دا چې ياد مسائل د دواړو لوريو د څرگندونو د اثبات له پاره څومره مهم دي.

د پای وينا لەپاره د چمتووالي پر مهال تر ټولو ښه ستراتيژی دا ده چې له قاضی سره مرسته وکړئ څو فکر وکړي چې په دغه بحث کې بريالي ويئ. نه دا چې قاضی ته د دې زمينه برابره کړئ چې يوازې د دواړو لوريو د استدلالونو په اړه پرېکړه وکړي « چې کوم استدلال په ريښتونې توگه خپل ارزښت له لاسه ورکړی » هغه ته ووايئ چې استدلال مو څه دی، د دې پر ځای چې قاضي ته د دې زمينه برابره کړئ څو په دې اړه پرېکړه وکړي، چې د هر استدلال گټوونکی څوک وو؟ د يوې وينا په ترڅ کې دا توضيح کړئ چې ستاسو ټيم په واقعي توگه د مناظرې گټوونکی دی. په همدې ترتيب د دې پر ځای چې قاضي ته د دې زمينه برابری کړئ څو دا تشخيص کړي چې ستاسو د دريځ تقابل د يو لوري د ليد لوري د تأييد له پاره څومره مهم دی او هڅه وکړئ چې هغه په پای وينا کې توضيح کړئ. په لنډه توگه مهم استدلالونه ډلبندي کړئ، څو وکولی شئ په مناظره کې د ليدلورو د تقابل کليدي ټکي وښيئ. بايد په لنډه توگه دا بيان کړئ چې ستاسو ټيم په دغو مسايلو

کې گټوونکی دی او باید وښيئ چې په ځينو پوښتنو کې مو د بريا ارزښت په دې کې دی چې په ټوله کې مو دريځ او موقف ثابت دی.

بله طريقه چې د ويناوو په نتيجه‌گيري کې ورنه استفاده کېږي، له مخامخ کيدو څخه عبارت ده. دغه طريقه ويناوالو ته دا ورتيا ورکوي څو د نړۍ برخليک له دولت سره پرتله او د نړۍ نيک بختي د اپوزسيون پلان ته په پام سره پلان کړي. دغه يوه اغېزناکه، روښانه او اسانه طريفه ده چې د شخړې اصلي تخنيکيونه په گوته کوي. د ۴+۳ په پرتله مخامخ کيدل اجازه ورکوي څو پر هغه څه تمرکز وکړي چې تاسو يې څرگندول غواړئ. د بېلگې په ډول: « د حکومت د پلان پر بنسټ، بايد د منځنۍ طبقې پر اوږو نور ناعادلانه ماليات هم ور اضافه شي. د اپوزسيون بودجې کموالي پلان ته په پام سره، موږ نه يوازې له لوړو مالياتو څخه بېزاره يو، بلکې د بودجې کسر هم راکموو. د حکومت د پلان مطابق به په هغه اقتصاد کې چې اوسمهال رکود تجربه کوي، سرگرداني او وارخطايي لاهم زياته شي. د اپوزسيون پلان تاسو ته دا امکان هم در کوي څو اقتصاد پياوړی او خپل مسووليتونه په ښه توکه درک کړئ» مخامخ کيدل د هغه ظاهري بڼې ته په پام سره، د پام وړ بنسټ له‌پاره د اختتاميه وينا زمينه برابروي. هغوی د X کار ترسره کوي او X نامطلوبه چاره ده. موږ د Y کار ترسره کوو او Y يو ښه کار دی. ځکه چې A په کې ښکاري» په همدې ترتيب، مخامخ کيدل ويناوو ته اجازه ورکوي څو « د رامنځته شوي وحشت» په اړه څرگنند انځور وړاندې کړي، البته په هغه صورت کې چې د اپوزسيون د پلان په لټه کې واوسئ. او که چېرې له خپل منصافه پلاتفورم څخه پيروي کوئ، په هغه صورت کې به د هغو انځورونو وړاندې کولو ورتيا ولرئ، چې مقابل لوري ته د « جنت» وړاندې کوونکي وي.

په همدې ترتيب، مخامخ کيدل ويناوو ته اجازه ورکوي څو « د رامنځته شوي وحشت» په اړه څرگنند انځور وړاندې کړي، البته په هغه صورت کې چې د اپوزسيون د پلان په لټه کې واوسئ. او که چېرې له خپل منصافه پلاتفورم څخه پيروي کوئ، په هغه صورت کې به د هغو انځورونو وړاندې کولو ورتيا ولرئ، چې مقابل لوري ته د « جنت» وړاندې کوونکي وي.

### ۱،۳،۷. د اطلاعاتو ټکي:

د اطلاعاتو ټکي په لاندې قضیو کې ګټور دي:

۱. **وضاحت:** په ځانګړې توګه هغه مهال چې د لومړي وزیر رغانده وینا یوه نامعلومه او نامشخصه قضیه وړاندې کړي، کولی شو له اطلاعاتي ټکو څخه استفاده وکړو، څو حکومت د خپلې قضیې په اړه وضاحت ته اړ او د تعریفونو په اړه د اوږدې او بې ثمره مناظرې پر وړاندې ساتنه وکړي ( تعریفونه)

۲. **د مقابل ټیم په استدلال کې د نظر اختلاف تشخیص:** که چېرې ویناوال په څرګنده توګه د هغه څه پر خلاف چې مخکې یې همکارانو وړاندې کړي، خبرې وکړي، په هغه صورت کې دغې مسألې ته د اشارې له پاره د اطلاعاتو له ټکي څخه استفاده کېږي او د اپوزسیون اعتبار ننګوي.

۳. **د اپوزسیون له خوا د وړاندې شوي استدلال پر واندې ځواب وینه:** په رغانده ویناوو کې د دې امکان شته چې د اطلاعتو له ټکي څخه په مستقیم ډول د استدلال پر وړاندې دځواب وینې، د ویناوال د معرفي او یا اوسني ویناول د معرفي له پاره استفاده وکړو؛ په ځانګړې توګه کله چې استدلال منطقي بنسټ ونلري او د احساساتو او بې بنسټه فرضیو پر اساس رامنځته شوي وي. ۱۵ ثانیې کافي دي څو په بشپړ ډول هغه ته زیان ورسېږي. په همدې حال کې، ځیز واسئ چې که ستاسو حریف د دې وړتیا ولري چې مناسب اعتراض مو له پامه وغورځوي، په هغه صورت کې لازمه ده چې اصلي استدلال له زیات قوت څخه برخمن واوسي.

٤. **هغه واقعیتونه مشخص کړئ چې له پامه غورځول شوي او یا د بل ټیم له خوا منزوي شوي وي:** ځینې وختونه ویناوال ( په پوهاوي او نه پوهاوي سره) خپل استدلال پر کاذبو او بې ربطه حقایقو متمرکزوي، د ټیم د اطلاعاتو ټکی، مقابل لوري ته فرصت ورکوي څو د هغوی د ادعاوو په اړه « د محاسبې غوښتوونکی» شي. که څه هم پارلماني او غیر پارلماني مناظره په عمده توګه پر تجربوي بحثونو ولاړه وي، خو د (n) پېژندل او په (s) قضیه کې څرګندې او ریښتونې تیروتنې مقابل لوری کمزوری کوي.

۵. **د راتلوونکي وینا بنسټ ایښودل:** یوه بریالۍ پوښتنه یا بیانیه کولی شي د اصلي مفکورې بنسټ جوړ کړي چې په (s) پلان کې شته او په عمده توګه د یوې راتلوونکې وینا له پاره یې وړاندېز کېږي. په همدې ترتیب په بیاځلي توګه له ځواب پرته پخواني ټکي سره تعامل کوي او یا هم په (s) یادداشت کې د شته اطلاعاتو له پاره د نویو تحلیلونو تسلسل وړاندې کوي، له همدې امله « هغه په جریان کې پرېږدي» او د دغه استدلال د تکرار او پراختیا او یا هم د هغه پر وړاندې د ځواب وینې فرصت چمتو کوي ( په هغه صورت کې چې استدلال ستاسو د مخالفینو له لوري وړاندې شوي وي) البته له ویرې پرته په نظر

اخلافونو کې چې په ترڅ کې يې ستاسو مخالفين « د وينا د تحليل له پاره د نوي استدلال معرفي» اعلانوي.

٦. ***د مناظرې په دوره کې کوچنۍ شوخي ته ځای ورکول:*** يو په زړه پورې او مناسب لنډ مورد ته ځای ور کول، عموماً استدلال د ځو وچو شيبو په پرتله ښه کوي. په مناظره کې د اطلاعاتو ټکی درته د شوخي مزاجه ياداشت معرفي له پاره يو عالی لار وړاندې کوي او له هغه سره په هممهاله توگه ستاسو مخالفين بې وسلې کوي.

**٨،٣،١. اعتراضات:**

دوه ډوله اعتراضونه شته دي؛ د مناظرې قالب په اړه اعتراض او شخصي اعتراض.

**د وړاندې کولو چوکاټ په اړه اعتراض:**

**د مناظرې نظم څخه له سرغړونې عبارت دی چې په ترڅ کې يې د مناظرې قواعدو ماتولو له پاره چې په واقعيت کې د ويناوالو د شمېز زياتوالي لامل کېږي، اعتراضونه ترسره کېږي، لکه کله چې وويل شي چې د بل ټيم هر غړی.**

له نظم څخه د سرغړونې ادعاوو لهپاره بايد ويناوال ودرېږي او دا څرگنده کړي چې: « د نظم په اړه اعتراض» له هغه وروسته له قواعدو څخه سرغړونه په لنډه توگه توضيح کړي. هغه ويناوال چې د وينا په حال کې دی، بايد خپلې خبرې پايته ورسوي او تر هغه چې له نظم څحه سرغړونه په بشپړ ډول بيان شوې نه‌وي، چوپتيا غوره کړي او قاضی هم بايد هغه تأييد ( يا رد) نه کړي. که چېرې سرغړونه ترسره شي، هغه وخت چې د نقض له پاره لگول شوی، بايد له هغه وخت څخه چې د پام وړ ويناوال ته ځانگړی شوي، تفريق شي. که چېرې دغه سرغړونه تأييد نشي، ويناوال وخت جبرانوي.

نظم هغه مهال نقض کېږي چې له پلان شوي تسلسل څخه گډوډ شي او يا هم هغه ويناوال چې د وينا په حال کې دی، سم ځواب ونلري، د قاضی له خوا د اعتراض رد يا تأييد نهايي او وروستي وي او بدلونونه او د کوچنيو ټيمونو تشکل د بحث وړ ندی.

**له نظم څخه سرغړونه په لاندې حالتونو کې رامنځته کېږي:**

د قاضی له خوا د اعتراض رد یا تأیید نهایي او وروستي وي او بدلونونه او د کوچنیو ټیمونو تشکیل د بحث وړ نه‌دی

۱. **د وینا په تحلیل کې د نوي استدلال معرفي:** که چېرې ویناوال په خپله وروستۍ وینا کې نوی استدلال ولري، چې مخکې د لومړي دور په ترڅ کې وړاندې شوی نه‌وي او یا بل ټیم د هغه له‌پاره هڅه نه‌وي کړي ( دلومړي وزیر په استثناء، د اپوزسیون د غړي پر وړاندې له سم ځواب سره چې مخکې د هغه رغانده وینا کې ورنه یادونه نه‌ده شوې) په هغه صورت کې باید مقابل لورى د نظم سرغړونه اعلان کړي. که چېرې نقض تأیید شي، د قضاوت‌کوونکیو او ویناوالو له‌خوا نوی استدلال د هغه څه پر وړاندې چې مخکې یې یادونه شوې، ځواب ووایي، له پامه غورځول کېږي په هغه صورت کې د مباحثې دوام منع کېږي. له همدې امله یو قاضی نه شي کولی په یوازیتوب سره د نظر اختلاف نوی مورد خنثی اعلان کړي: د نویو مواردو له معرفي څخه مراقبت د دواړو ټیمونو مکلفیت دی.

۲. **په دریځ کې بدلون:** که چېرې د دولت یو ټیم د پای وینا پر مهال د خپلې قضیې د بدلون او اصلاح په هڅه کې وي، اپوزسیون کولی شي له نظم څخه د سرغړونې ادعا مطرحه کړي.

۳. **د ویناوال له خوا له ټاکل شوي مهالوېش څخه سرغړونه:** د وینا له پاره د ټاکل شوي وخت له پای ته رسیدو سره سم هر ویناوال د هغه بشپړولو له‌پاره ۳۰ ثانیې وخت لري"NC ". که چېرې له دغه حد څخه زیات شي، د مقابل ټیم یو غړی کولی شي له نظم څخه د سرغړونې ادعا مطرحه کړي. که د نقض ادعا تأییږ شي، هغه ویناوال چې خبرې کوي، باید له ځنډ پرته خپل ځای ته راشي او وینا ته د پای ټکی کېږدي.

**شخصي اعتراض:**

ځینې وختونه ښایي مقابل لورى د نظر اختلاف او یا د استدلال ردولو په ترڅ کې، درته رکیک الفاظ وکاروي او یا مو هم سپکاوی وکړي. په دغسې مواردو کې کولی شئ له شخصي اعتراض څخه استفاده وکړئ. باید له دغې کلمې نه استفاده وکړئ چې په بشپړ ډول پر داسې بې باوره کولو باندې پوه شوي واوسئ. ځینې وختونه یوه ښه مفکوره دا ده چې مقابل لوري ته یوه معینه آزادۍ ورکړل شي، البته د نورو موارد په منځ کې د شخصي او یا طنز په بڼه. په دغسې مواردو کې اعتراض د دې لامل کېږي چې جنجالونه زیات او وخت ضایع شي. اړتیا ده څو پر شېبېم حس باندې تکیې سره د قضاوت کوونکیو غبرگون څخه څارنه وکړئ.

**۴،۱. د انګلستان پارلمان مناظره:**

**۱،۴،۱ د مناظرې چوکاټ:**

د انګلستان په پارلماني مناظره کې څلور ټیمه حضور لري چې هر یو یې دوه غړي لري ( چې د مجلس د غړیو په توګه پېژندل کېږي) په همدې ترتیب د هغوی په ترکیب کې د مناظرې رییس ( د مجلس د رییس په توګه پېژندل کېږي» او هغه ته « د ښاغلي/ آغلې رییس» خطاب کېږي) او د قاضی پلاوي قاضي هم موجود وي.

**په دغه چوکاټ کې د ټیمونو ترکیب په لاندې ډول دی:**

**دولت د پیلوونکي په توګه چې لاندې غړي لري:**

لومړی وزیر د دولت لومړنی غړی، د لومړي وزیر مرستیال یا د دولت دویم غړی.

**اپوزسیون د پیلوونکي په توګه چې لاندې غړي لري:**

د اپوزسیون رهبر یا د اپوزسیون لومړنی غړی، د اپوزسیون د رهبر مرستیال یا د اپوزسیون دویم غړی.

**دولت د پای ته رسوونکي په توګه چې لاندې غړي لري:**

***د دولت غړی یا د دولت درېیم ویناوال، د دولت محور یا د پارلمان څلورم ویناوال.***

***اپوزسیون د پای ته رسوونکي په توګه چې لاندې غړي په کې شامل دي.***

***د اپوزسیون غړي یا د اپوزسیون درېیم غړی، د اپوزسیون محور یا د اپوزسیون څلورم غړی.***

***د تعریف شویو قوانینو پر بنسټ، په دې برخه کې د وینا بڼه په لاندې ترتیب سره ده:***

١. لومړی وزیر؛
٢. د اپوزسیون رهبر؛
٣. د لومړي وزیر مرستیال؛
٤. د اپوزسیون د رهبر مرستیال؛
٥. د دولت غړی؛
٦. د اپوزسیون غړی؛
٧. دولت محوره؛ او
٨. اپوزسیون محوره.

د تعریف شویو قوانیو پر بنسټ د مجلس غړی کولی شي د اوو دقیقو لهپاره وینا وکړي؛ هغه همدارنګه باید د اپوزسیون ټیم وینا پر مهال معلومات/ پوښتنې مطرحه کړي.

**موضوع:**

موضوع باید په څرګنده توګه بیان شي. د مجلس غړی باید د موضوع په اړه د مبحث او ټورنمنټ په پام کې نیولو سره مناظره وکړي.

**چمتووالی:**

مناظره باید د موضوع له اعلان وروسته په ١٥ دقیقو کې پیل شي. ټیمونه باید له ټاکل شوي مهالوېش څخه ٥ دقیقې مخکې د مناظرې په هر پړاو کې حضور ولري، د مجلس غړي له چاپي او کتبي موادو څخه د استفادې اجازه لري، هم په روزنیز بهیر او د مناظرې په ترڅ له الکترونیکي وسایلو څخه استفاده منع ده.

**د اطلاعاتو / پوښتنو ټکي:**



د اطلاعاتو/ پوښتنو ټکي (د مجلس په يو غړي پورې اړوندې پوښتنې يا نظريې چې په هغه شيبه کې وينا کوي) کيدی شي د وينا د لومړۍ او شپږمو دقيقو ترمنځ وټاکل شي ( وينا اوه دقيقې وخت نيسي)

د مجلس غړی بايد د اطلاعاتو ټکو وړاندې کولو / پوښتې مطرحه کولو په موخه ودرېږي، خپل يو لاس پر سر باندې کېږدي او بل هغه د ويناوال خوا ته ونيسي. د مجلس غړی کولی شي څرگنده کړي: له « پوښتنې» يا نورو کلمو څخه استفاده وکړئ چې ورته اغېز ولري.

د مجلس غړی چې د وينا په حال کې وي، کولی شي د اطلاعاتو ټکی/ پوښتنه ومني او يا يې رد کړي.

د اطلاعاتو ټکی/ پوښتنه بايد له ۱۵ ثانيو څخه ډېر وخت ونه نيسي.

د مجلس غړی چې د وينا په حال کې دی، کولی شي د اطلاعاتو ټکي/ پوښتنې وړاندې کووونکي څخه وغواړي چې کيني او په هغه صورت کې چې مناسب وي د اوريدو او درک فرصت يې ولري.

د مجلس غړي بايد هڅه وکړي څو د خپلې وينا پر مهال کم له کمه دوه پوښتنې ځواب وکړي.

د اطلاعاتو ټکي/ پوښتنې دې وارزول شي ( په مهربانۍ سره « د قضيې ارزونې» برخې ته مراجعه وکړئ)

د نظم په اړه شخصي اعتراض جواز نه‌لري.

### د وینا زماني محدودیت:



د وینا موده باید اوه دقیقې وي ( باید په دوو نمونه‌یي اعتراضونو سره وړاندې شي) له ۷ دقیقو او ۱۵ ثانیو څخه زیاتو ویناوو پر وړاندې اعتراض کیدی شي.

د اطلاعاتو/ پوښتنو یادداشت کیدی شي د وینا د لومړنۍ او شپږمو دقیقو ترمنځ وړاندې شي ( دغه دور له لومړۍ او شپږمو دقیقو له پایته رسیدو وروسته د یو اعتراض کوونکي له‌خوا وړاندې کېږي.)

د مجلس رییس مکلف دی چې د وینا وخت کنټرول کړي.

د مجلس د رییس په غیاب کې له وخت څخه د څارنې دنده د قضاوت کوونکي پلاوی رییس ته سپارل کېږي.

### قضاوت:




د مناظرو په اړه قضاوت باید د قاضی پلاوي له خوا وشي،که چېرې ممکنه وي، کمېټه باید **لږ تر لږه** له درېو قاضیانو څخه جوړه شي.

د مناظرې په پای کې هر قاضی باید هر ټیم له لومړۍ څخه تر وروستۍ درجې پورې وارزوي ( په مهربانۍ سره د « قضاوت»برخې ته مراجعه وکړئ)

د مناظرې له لومړنیو اوو گونو پړاوونو وروسته به، هر قاضی د هرې دورې یوه شفاهي ارزونه ترسره کړي.

### ۲،۴،۱. تعریفونه:

تعریف باید په مناظرو کې مطرحه شوې پوښتنه ( پوښتنې) د ټاکل شوې موضوع مطابق انتخاب او د موضوع هر ډول ارزښت چې تفسیر ته اړتیا لري، وټاکي. لومړی وزیر باید د وینا په پیل کې یو تعریف وړاندې کړي.

**تعریف باید لاندې ځانګړنې ولري:**

**تعریف باید واضح وي او له موضوع سره منطقي اړیکه ولري**

- تعریف واضح وي او له موضوع سره منطقي اړیکه ولري، دا په دې معنې ده چې د منځنۍ کچې یو کس د مجلس د غړي له خوا وړاندې شوې موضوع تعریف درک کړي او هغه مني.
- باید د شخصي اثبات له پاره نه وي، د شخصي ادعا ثابتوونکی تعریف دا دی چې قضیه دا ثابتوي څه باید ترسره شي یا ترسره نشي. ځکه چې د هغه د رد له پاره هیڅ ډول معقول دلیل نشته، همدارنګه تعریف هغه مهال کیدی شي د شخصي ادعا ثابتوونکی واوسي، چې قضیه په مشخص ډول شتون ونلري یا د چارو په اړه بیان موجود نه وي. او یا هم د رد له پاره یې معقول دلایل نه وي موجود ( دغه تعریفونه په معمول ډول د « حقیقت پالنې» په نوم یادیږي.
- باید وخت مشخص نه‌کړي، دا په دې معنې ده چې مناظره د ترسره کیدو په حال کې ده او تعریف نشي کولی په تیر یا راتلوونکې کې د مناظرې ټاکوونکی واوسي.
- باید یو غیر منصفانه ځای مشخص نه‌کړي. دا په دې معنې ده چې تعریف نه‌شي کولی مناظره داسې محدوده کړي چې د پیښنو ګډونوال د جغرافیایي یا سیاسي موقعیتونو په پام کې نیولو سره تعریف شي او په معقول ډول د ټورنمنټ له ګډونوالو څخه تمه نه‌وي موجوده څو د دا ډول ځای له موقعیت څخه پوهاوی ولري.

**د تعریف بدلون:**

د اپوزسیون رهبر کولی شي تعریف بدل کړي؛ البته په هغه صورت کې چې پورتنۍ اړتیاوې ترلاسه نه شي کړی. هغه باید په څرگنده توگه دا بیان کړي چې تعریف بدلوي.

د اپوزسیون رهبر باید د لومړی وزیر د تعریف له بدلون سره سم بل تعریف وړاندې کړي.

**د تعریف بدلولو بهیر ارزونه:**

قاضی باید « غیر منطقي» تعریف حاضرینو ته واوروي، البته په هغه صورت کې چې ټاکل شوې اړتیاوې له تعریفونو سره ورتهوالی ونه لري ( په مهربانۍ سره پورتنیو مواردو ته مراجعه وکړئ)

د دغه واقعیت د ټاکلو او اثبات مسوولیت چې تعریف نامعقول دی، د مجلس د هغه غړي پر غاړه دی چې د نامعقول والي ادعا تعریفوي.

که چېرې تعریف غیر منطقي ښکاره شي، اپوزسیون باید ځایناستی تعریف وړاندې کړي. که چېرې ځایناستی تعریف هم منطقي نهوي، باید د قاضی له خوا ونه منل شي.

که چېرې د پیلوونکي په توگه د دولت لهخوا وړاندې شوی تعریف غیرمنطقي وگڼل شي او له څنډ پرته د پیلوونکي اپوزسیون تعریف د هغه ځایناستی شي، نو پیلوونکي دولت داسې قضیه وړاندې کوي چې د هغه له تعریف سره تړاو ونهلري خو د پیلوونکي اپورسیون له تعریف سره اړوند وي.

که چېري د اپوزسیون لهخوا وړاندې شوی تعریف هم غیر منطقي وي، پیلوونکی دولت کولی شي د پیلوونکي اپوزسیون له خوا وړاندې شوی تعریف بدل او بل هغه یې ځایناستی کړي.

که چېرې پیلوونکی دولت تعریف بدل کړي او هغه هم غیرمنطقي وي ( د پیلوونکي دولت او پیلوونکي اپوزسیون لهخوا وړاندې شوي غیر منطقي تعریقونو سربېره) په هغه صورت کې پیلوونکی اپوزسیون کولی شي د دولت تعریف بدل او بل هغه وړاندې کړي.

### ۳،۴،۱. قضیه:

**د قضیې تعریف**

قضیه په واقعیت کې د وینا له محتویاتو څخه عبارت ده، یا په بل عبارت، دا هغه استدلالونه دي چې د مناظره کوونکي له خوا د مخاطب د تشویق او هڅونې لپاره کارول کېږي.

**قضیه په حقیقت کې هغه استدلالونه، ثبتونه، مشخص مثالونه، حقایق او ټول هغه موارد رانغاړي چې وکولی شي له قضیې نه ملاتړ وکړي.**

په قضیه کې معتبر او د نظر اختلاف وړ رغاوونکي موارد شامل دي ( هغه استدلالونه چې عموماْ د ټیم یا بېلابېلو ټیمونو په مقابل کې وړاندې کېږي). همدارنګه په قضیه کې د اطلاعاتو ټکي/ پوښتنې هم شاملې دي.

**د قضیې عناصر:**

قضیه باید اړونده، منطقي او اوږدمهالې وي.

> **په مناظرو کې باید د مذهب، توکم، ملیت، جنسي غوښتنو، سن، ټولنیز موقف او معیوبیت په پام کې نیولو سره تبعیضي چلند ونه شي.**

- قضیه باید اړونده وي او د مناظرې موضوع تر پوښښ لاندې ونیسي: معتبره وړاندې شوي موارد باید له قضیې نه ملاتړ وکړي او شوې اعتراضونه د ټیم/ مخالفو ټیمونو لهخوا وړاندې شوي موارد ناسم ثابت کړي. د مجلس غړي مکلف دي څو د وینا وخت په مناسب ډول ځانګړی او هغه په مناظره کې د مطرحه شویو پوښتنو د ارزښت پر بنسټ په پام کې ونیسي.
- قضیه باید منطقي وي، استدلال باید د منطقي تسلسل په پام کې نیولو سره وړاندې شي او له بشپړې څېرتیا څخه برخمنه واوسي څو ورنه ملاتړ وشي او په دې توګه د ټولو د منلو وړ وګرځي. له ټولو استدلالونو څخه ترلاسه شوې پایلې باید ورنه ملاتړ وکړي.
- قضیه باید اوږدمهالې وي، د ټیم غړی باید د ټیم او د مجلس د نورو غړیو د وینا پر مهال د یوې قضیې تسلسل مراعات کړي.

د مجلس ټول غړي باید رغانده قضیې وړاندې کړي ( د دوو وروستیو مناظره کوونکیو په استثناء)، همدارنګه د مجلس ټول غړی باید په خپلو ویناوو کې ( د مناظري د لومړي غړي په استثناء) یو د اختلاف وړ نظر وړاندې کړي.

د مجلس ټول غړي باید هڅه وکړي چې د ویناوو پر مهال کم له کمه دوه پوښتنې ځواب او د مخالف ټیم په ویناوو کې پوښتنې/ د اطلاعاتو ټکي مطرحه کړي.

## د قضیې ارزونه:




وړاندې شوې قضیه باید قانع کوونکي وي « د قضیې عناصر» باید قضاوت کوونکي سره د قضیې د ډاډمنتیا او صلاحیت د ارزونې په برخه کې مرسته وکړي.

قضیه باید د یو معمولي کس د دریځ په پام کې نیولو سره اټکل شي، قضاوت‌کوونکي باید وړاندې شوې قضیه تحلیل او د هغه ډاډمنتیا اټکل کړي، البته د ځانګړنو له په پام کې نیولو پرته چې ښايي د بحث وړ موضوع په اړه یې ولري.

قضاوت‌کوونکي باید له وخت مخکې قضاوت ته اجازه ورنه‌کړي څو وکولی شي د هغوی ارزونې او قضاوتونه اغېزمن کړي. په مناظرو کې باید د مذهب، توکم، ملیت، جنسي غوښتنو، سن، ټولنيز موقف او ناروغیو په پام کې نیولو سره تبعیضي چلند ونه‌شي.

د اطلاعاتو ټکي/ پوښتنو یادداشت باید د هغو اغېزو پر بنسټ چې د دواړو لوریو د قضیو پر هڅونه یې لري، اټکل شي: د یوې پوښتنې وړاندې کول او د هغې منل.

**۴,۴,۱. سبک:**

**د سبک تعریف:**

**د وینا وړاندې کولو سبک:**

له هغې طریقې او جوړښت څخه عبارت دی چې د ولسي جرگې غړیو لهخوا د قضیې د پراختیا او د مخاطبنانو د قانع کولو لهپاره کارول کېږي.

په سبک کې بېلابېل عناصر شامل دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**د سبک عناصر:**

د سبک په عناصرو کې د سترگو اړیکې، غږیز بدلونونه، حرکتونه، ژبه، له سوابقو څخه استفاده او داسې نور شامل دي چې د مجلس غړیو د وړاندې کولو پر اغېزناکتیا او کارنده توب اغېز کوي.

د سترگو اړیکې یو مناظره کوونکي سره د مخاطبانو په قانع کولو کې مرسته کوي، ځکه چې دا د دې لامل کېږي چې د مجلس غړي لازیاته پاملرنه وکړي.

د غږ بدلون له یو مناظره کوونکي سره د مخاطبانو په قانع کولو کې مرسته کوي، ځکه چې پر مهمو استدلالونو ټینگار کوي او د مخاطبانو پام ځانته راجلبوي چې په هغو کې د وینا لحن، تون، میلودی او بالاخره د وینا پر مهال لنډې دمې ( ساه اخیستل) شاملېږي.

حرکتونه له یو مناظره کوونکي سره مرسته کوي څو پر مهم استدلال ټینگار وکړي؛ په همدې حال کې له حده زیات حرکتونه کیدای شي منحرفوونکي واوسي او د مخاطبانو پاملرنه راکمه کړي.

« غوند» په هره مناظره کې د هغه د چوکاټ د ځانګړنو له په پام کې نیولو پرته، د دوو مفکورو ترمنځ د نظر له اختلاف څخه عبارت ده

له ژبې څخه استفاده باید کره او عادي وي؛ د مجلس غړیو هغه ویناوې چې د زړورتیا او د هغوی د نه مطابقت په پام کې نیولو سره تشخیصېږي، کیدی شي له استدلال څخه انحراف وکړي، البته هغه مهال چې د مخاطبانو پام له لاسه ورکړي.

له سوابقو څخه استفاده جواز لري، خو د مجلس غړي باید هغو ته ځېر واوسي، په بشپړ ډول پر سوابقو تکیه ونه کړي او د نورو عناصرو د استفادې له ښیګڼو څخه منصرف نه‌شي.

## د جوړښت عناصر:

د جوړښت په عناصرو کې د هر مناظره کوونکي او هر ټیم د وینا چوکاټ شامل وي.

د هر مناظره کوونکي وینا باید یو جوړښت ولري، د مجلس غړی باید داسې قضیه تنظیم کړي چې وکولی شي د هغې د وړاندې کولو اغېزناکتیا ښه کړي.

**جوړښتي وینا لاندې ځانګړنې لري:**

الف. باید معرفي، نتیجه ګیري او یو شمېر استدلالونه په کې شامل وي.

ب. د زماني محدودیتونو په پام کې نیولو سره، په وخت سره ترسره شي او لازمه ده څو په یوه قضیه کې د مهمو پوښتنو په زیاتوالي، د هغه د وینا وخت هم تنظیم شي.

د ټیم قضیه باید منطقي جوړښت ولري څو د هغې د وړاندې کولو اغېزناکتیا زیاته شي، ټیم باید:

الف. په مناظره کې د یادو شویو موضوعګانو له‌پاره د تسلسل تګلاره وړاندې کړي؛ او

ب. د ټولو خواوو ترمنځ رغانده قضیه ووېشي؛ البته په هغه صورت کې چې د هغوی هر یو د خپلې وینا پر مهال یوه رغانده قضیه وړاندې کړي.

**د سبک ارزونه:**

قاضی باید د سبک عناصر له یوبل سره پرتله کړي، څو وکولی شي د یو مناظره کوونکي د وړاندې کولو ټولیزه اغېزناکتیا وټاکي. هغوی باید دا په گوته کړي چې آیا یاد سبک د مناظره کوونکي د وړاندې کولو بهیر ته ښه‌والي ورکوي او که د هغه کیفیت راټیټوي؟

قاضی باید پوه شي چې د مناظرې بین المللي ټورنمنټونه بېلابېل سبکونه لري او هرڅوک ورنه د استفادی حق لري. په همدې دلیل ده چې هغوی باید له هغه مناظره کوونکي سره چې په خپل هېواد کې په اصطلاح له « غیری پارلماني سبک» څخه استفاده کوي، تبعیضي چلند ونه کړي.

قاضی باید له وخت مخکې قضاوت ته اجازه ورنه‌کړي، څو د هغوی ارزونې او قضاوت تر اغېزې لاندې راولي. په مناظره کې باید د مذهب، جنسیت، توکم، ملیت، جنسي غوښتنو، عمر، ټولنیز موقف او ناروغیو په څېر موضوعاتو په پام کې نیولو سره تبیعضي چلند ونه‌کړي.

**۵,۱. د معما لوبه**

**۱,۵,۱ د معما لوبې چوکاټ**

د معما لوبه د دوو ټیمونو ترمنځ فکري سیالی ده چې د ازبکستان د مناظرې په چوکاټ کې د مشخصو مسائلو د حل په اړه د قضاوت طرحه مطالعه کېږي، وړاندې کوي. هر ټیم دوه لوبغاړي لري ( «پیلوونکی» او « پای ته رسوونکی») چې له استدلال، د هڅونې او مناظرې مهارتونو څخه په استفادې **لاندې پوښتنې ځوابوي:** د پام وړ ستونزې ته د رسیدو لپاره باید څه شی، د چا له خوا او څنگه ترسره شي؟»

« غونډ» په هره مناظره کې د هغې د چوکاټ د ځانگړنو له په پام کې نیولو پرته، د دوو مفکورو ترمنځ د نظر له اختلاف څخه عبارت ده، په بېلابېلو چوکاټونو کې د نظر اختلاف رامنځته کولو څرنگوالي په اړه پوښتنې په بېلابېلو طریقو سره ځوابېږي.

د بېلگې په توگه، د کارل پایر په مناظرو کې، د نظر اختلاف د موضوع د غواري په پړاو کې ټاکل کېږي، د ټیم دریځ تل له مخالفت سره مخ کېږي ـ هغه له مخکې نه د یو بشپړ توافق په توگه د موضوع له طرحې سره تعریف شوي دي، له همدې امله ټیمونه لازم وخت په واک کې لري څو د مناظرې لپاره چمتو شي او د موضوع په اړه پراخې څېړنې وکړي.

په پارلماني مناظرو کې د پام وړ ښه‌والی تر سترګو کېږي،د دریځ ټاکلو مسوولیت د دواړو لوریو پر غاړه دی. له همدې امله دواړه لوري ډېرې دندې ( مکلفیتونه) لري. دولت د بحث وړ قضیې په پراختیا سره د بحث چوکاټ مشخصوي. په مقابل کې د اپوزسیون دنده په مستقیم ډول د قضیې مستردولو له لارې د نظر اختلاف او یا د یوې متبادلې قضیې وړاندې کول دي. په دویمه قضیه کې د متقابلې امتناع قاعده د استفادې وړ ګرځي ـ متبادله قضیه باید داسې وړاندې شي چې په هممهاله توګه د دوو قضیو د منلو لپاره هیڅ فرصت چمتو نشي.

**د معما لوبې ټیمونه په کره توګه له ورته او مضاعفو دندو څخه برخمن دي: هغوی خپله پروژه لوړوي او ښیګڼې یې توجیه کوي، د مقابل لوري پروژې نه اغېزمنتیا ثابتوي او کمزورې ټکي یې جوتوي.**

د ستونزې په اړه له کره مطالعې وروسته، د ټیمونو وړاندېز شوې پروژې د کارپوهانو له‌خوا د لاندې معیارونو پربنسټ ارزول کېږي. خلاقیت او نوښت، ځانګړنې، اعتبار او اغېزناکتیا، په همدې ترتیب د رول لوبوونکو د ویناوو مهارتونه، په وړاندې کولو کې د هغوی وړتیاوې او د پروژې د لاسرسي او د مخالفیونو له بریدونو څخه د هغو ساتل ډېر ارزښت لري.




د معما بل توپیر په ستونزې او د پروژې په دوران کې د لوبې له تجزیې څخه عبارت دی. دا لوبې د رسالت لپاره دی. د نوښتګر کس لپاره چې په فعاله توګه کار وکړي، نه یوازې دا مهمه ده چې په واقعیت کې بدلون

ته دننه کیدل تدریس کړي، بلکې لازمه ده چې د ژوندانه ستونزې هم تشخیص کړي. د پروژې په دوران کې باید یوه ستونزه وټاکل شي څو د ستونزې پر مهال د پایلې په توګه تر بحث لاندې ونیول شي. ګډونوال د یوې څېړنې لپاره له ټولنې/ غونډې یوه میاشت مخکې د موضوعاتو لړلیک ترلاسه کوي.

**د ستونزې دوران:**

ټیمونه له ګډې موضوع او وخت څخه برخمن دي څو د موضوع په باره کې د ستونزې تعریف په اړه چمتووالی ونیسي. د موضوع طرحه کیدی شي یوه بیانیه یا هم سواله وي ( ۳,۵ شمېرې ضمیمې ته مراجعه وکړئ) په دغه دوره کې یوازې د دواړو ټیمونو دویم ویناوال ستیژ ته راځي.

که څه هم په دغه دوره کې ټیمونه نمرې نه ورکوي، خو د ګټوونکي ټیم یو امتیاز به دا وي چې لوبه پر هغې ستونزې تمرکز ولري چې تشخیص شوې ده. په لاندې جدول کې د ستونزې دوران وړاندې شوی دی:

| دموضوع اعلان | | | |
|---|---|---|---|
| د لومړي پړاو لەپاره د ټیمونو چمتووالی | | ۵ دقیقې | |
| | | | |
| د لومړۍ دورې د ویناوال د هدف وړاندې کول: | ۲O | ۳ دقیقې | **لومړۍ دور: ستونزه**<br><br>په موضوع کې یوه ستونزه په ګوته او هغه د ملاحظاتو لەپاره وړاندې کړئ. د مسألې فوریت توجیه او له خپل لومړیتوب څخه د ملاتړ لەپاره ۲ـ ۳ خپلواک استدلاونه ور زیات کړئ. |
| د هغوی د ستونزو وړاندې کولو اړتیاوو په | ۲C | ۴ دقیقې | چې ځایناستې سوتزه وړاندې او اړوندوالی یې ثابت کړي. داسې استدلالونه معرفي کړي چې له لومړیتوب نه یې ملاتړ کوي. هغه د ۲A له خوا وړاندې شوې ستونزې سره پرتله کوي. د مقابل لوري استدلالونه ردوي. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| اړه د کارپوهانو قانع کول | ٢٥ | ١ دقیقې | ریپورټ شوې ستونزې پرتله کوي، د مقابل لوري استدلالونه ردوي، په لومړۍ وینا کې یوځل بیا د وړاندې شوې ستونزې پر ارزښت ټینګار کوي. |
| کارپوهان د رأیو له ساده اکثریت څخه په استفادې د یوې ستونزې په ګډه پرېکړه کوي. | | ٢ دقیقې | |

**یادداشت:** د ستونزې دوران په پام کې نیولو او اعتراض لهپاره اطلاعات جائز نهدي. پایته رسوونکی ټیم حق لري چې د ٢٥ لهخوا وړاندې شوې سیالۍ ومني. په دغه حالت کې د ستونزې دوران له لومړۍ وینا وروسته پایته رسېږي. د ستونزې په دوران کې له ویناوو څخه د کارپوهانو ارزونه د لوبې د بریا په ټاکلو کې ارزښت نهلري.

په جدول کې وړاندې شوې د ستونزې دوران نسخه دې په کلاسیکه بڼه په پام کې ونیول شي. دغه چاره د انعطاف منلو، د وضعیت پر وړاندې د څټکې ځواب وینې او په ٢٥ دقیقو کې د پروژو نتیجه ګیري لهپاره ګټوره ده. که څه هم کیدی شي د هغې بڼه د لوبې دندو ته په پام سره توپیر ولري، له همدې امله دا کیدی شي د کیفیت لروونکیو پروژو چمتو کولو دوران په بېلابېلو ورځو کې تېر کړو. د روزنیزې دورې په ترڅ کې د دورو ترمنځ دمه ښایي تر یوې اوونۍ پورې دوام وکړي.

د لوبې طرحه ښایي د اتلولۍ ناستې/ لوبو په چوکاټ کې توپیر ولري. په لومړۍ ورځ کولی شئ په ټولو موضوعګانو کې ستونزمن دور ولوبوئ. په دغه صورت کې، دویم پړاو رول لوبوونکي د درېو دقیقو لهپاره وینا کوي. له هر موضوعي واحد وروسته د یو مطبوعاتي کنفرانس غورای شته، البته کله چې ګډونوال او کارپوهان وکولی شي د ویناوو د محتویاتو په اړه پوښتنه وکړي ( څرنګه چې د جمهوري غوښتوونکو مباحثاتو په شېبړمه ناسته کې وه) کارپوهان ستونزه هر معیار ته د ٠ ـ ١٠ امتیازونو په ورکولو سره ارزوي چې **عبارت دی له:** اړوندوالی، د اطلاعاتو محتویاتو او پرزنټېشن/ وړاندې کولو څخه. په پایله کې د ستونزې دوران په ټولو پړاوونو کې د ستونزې ګټوونکو لپاره یو لړلیک چمتو کېږي. هغه ټیمونه چې ستونزې یې بریالۍ وي، د ناستې ټولو ګډونوالو او کارپوهانولپاره د اطلاعاتو ټولګې د وړاندې کولو مکلفیت لري. په اطلاعاتي بسته کې

د واقعي شمېرو/ ارقامو په وړاندې کولو سره د شته ستونزو تشريح، احصائې، انځورونه او ويډيويي توکي، اسناد، قوانين او داسې نور شامل وي.

**د ستونزې رامنځته کيدل:**

**يوه ستونزه په واقعيت کې له يوې پيچلې او ستونزمنې مسألې څخه عبارت ده، داسې يوه دنده چې مطالعې او حل‌لارې ته اړتيا لري.**

دلته د « پوښتنې» له کلمې څخه په پراخه کچه استفاده کېږي. ستونزه بايد د يوې پوښتنې يا بيانيې په توگه نه، بلکې د يو عبارت په بڼه مطرحه شي. ممکن غواړي عبارت دي: « د ماشومانو په روزنه کې د پلرونو د گډون ټېټه کچه»، « د تاشکند ښار په ځوانانو کې د انټرنيټ اعتياد پراختيا»، په سمرقند حوزه کې د تياتر کمښت» او داسې نور.

فکر وکړئ چې « روزنه له روښنايي او جهل له تيارې څخه عبارت ده» موضوع درکړل شوې ده. د ستونزې حل لپاره بايد لاندې توضيح کوونکي پوښتنې مطرحه شي:

موضوع د ژوندانه له کومو پړاوونو سره اړېکه درلودلی شې؟

له روزنې سره.

څه ډول روزنه به په پام کې ونيول شي؟

لوړې زده‌کړې.

اوس‌مهال د لوړو زده کړو په برخه کې څه ډول ستونزې شته دي؟

اړو غوښتوونکو ته نه لاسرسی، د تدریس ټېټه کچه، د عمومي مضامینو تراکم او  داسې نور.

د کوم ډول ستونزو په اړه خبرې کول غواړو؟

د تدریس ټېټه کچه

د دغې ستونزې په حل سره څومره فضاء تر پوښښ لاندې راوستل غواړو؟

ټول جمهوریت

په همدې ترتیب؛ دا یوه لازمي چاره ده څو ستونزه مطرحه کړو، له دې سربېره که چېرې ګټوونکی شي ټول وسایل، د پروژې دوران د محدودیت ټاکوونکی دي. له هغه وروسته تاسو او مخالفان مکلف یاستئ څو له دغې تګلارې څخه په استفادې یاده ستونزه په پوره ځیرتیا او له هغې پراختیا سره چې اعلان شوې، حل کړي.

**د پروژې دوره:**

په دغه دوره کې « د پروژو جګړه» شته چې په واقعیت کې د معما له ماهیت څخه عبارت ده.

د پروژې په دوره کې د رول لوبوونکو مقررات او دندې:

| د ستونزې په دوران کې د رول لوبوونکو دندې او مقررات | | | |
|---|---|---|---|
| د ویناوال دندې | ویناوال | وخت | د ویناوال دندې |
| وړاندې کړئ چې جوړښت ته په پام سره د لومړۍ دورې کارپوهانو له خوا ومنل شي ( یوه قضیه داسې فلسفه جوړوي او میکانیزم نندارې ته وړاندې کوي). | ۱۵ | ٦ دقیقې | د هغې ستونزې دجوړښت په اړه یادونه وکړئ چې په دوره کې په پام کې نیول شوې. |
| ۳ ـ ۴ خپلواک استدلالونه شریکوي چې د پروژې پر مټ یې ملاتړ وشي. | ۱٦ | ۸ دقیقې | د مخالفانو استدلالونه رد کړئ. کمزرو ټکو او نیمګړتیاوو ته اشاره وکړئ. د ټیم فلسفه پرتله کړئ. |
| (۲۵) د لومړي لوبغاړي لهخوا وړاندې شوي استدلالونه مستردوي.<br>(۲٦)نوي استدلالونو ته دننه کېږي، د نویو حقایقو په رامنځته کولو سره بېلګې وړاندې کوي. د پروژې میکانیزم پراخوي او هغه لاژوروي. | | ۸ دقیقې<br>۸ دقیقې | |

| | | |
|---|---|---|
| ( ۱O)  له لوبې سره متقابلو اصلي ټکيو ته اشاره کوي. ( ۱C) پروژې په پرتلهییزه بڼه تحليلوي. د مخکې اعلان  شويو استدلالونو د ملاتړ لهپاره نوې بېلگې وړاندې کوي. | ٦ دقيقې | حق لري چې اعلان شوي استدلالونه په دويمه وينا کې رد کړي( نه په ۳۱ وينا کې) |
| | ۴ دقيقې | نوي استدلالونه نه معرفي کوي. |

له لومړيو څلورو ويناوو وروسته، چې په ترڅ کې يې د دواړو ټيمونو ټولې مفکورې وړاندې کېږي، کارپوهان دا څرگندوي چې مخاطب  کولی شي د هر ټيم د مفکورو پر وړاندې / په اړه خبرې وکړي او يا بې پرې پاتې شي. دغه فعاليت بايد له ۲ دقيقو څخه زيات وخت ونه نيسي. وړاندې کوونکی کولی شي د پروژې په اړه خپله مفکوره وړاندې کړي، خو بايد د ويناوال د وينا محتويات تر هدف لاندې ونه نيسي او نه هم د هغوی پر پروژو نيوکه وکړي. هغه کارپوهان چې د گټوونکو په پېژندنه کې ښکيل دي، هم د لوبې او هم د ژوند په برخه کې.

ترسره کوونکو ته فرصت ورکول کېږي څو د ټيمونو وروستۍ ويناوې چمتو کړي. مخاطب  بايد فعال واوسي او په مباحثو کې ښکيل شي چې دغه چاره له غير فعالو اوريدونکو سره مرسته کوي څو د هغه څه په اړه چې د هغوی په شاوخوا کې پيښېږي، لازياته ليوالتيا وښيي. هم د لوبې او هم د ژوندانه په برخه کې.

په ياد ولرئ چې د ۱ او ۲ شمېرو وروستي ويناوال په خپله گته د وضعيت د اصلاح او د دې ښودلو لهپاره يوازينی فرصت لري چې مفکورې يې څومره پياوړې دي. له همدې  امله دغه ډول اجراآت بايد لاروښانه وي او ويناوال هم بايد له تر ټولو پياوړې مفکورو څخه يادونه وکړي چې د هغوی له لوري د لوبې په ترڅ کې وړاندې کېږي.

بايد وليدل شي چې د پروژې په دوران کې لاهم د لوبې ځينې عناصر شته کنه، لکه « په پام کې نيولو لهپاره معلومات» او « اعتراضونه»

**د په پام کې نیولو لهپاره معلومات، په واقعیت کې داسې پوښتنه ده چې له یو مخالف څخه مطرحه کېږي او یا داسې تبصره ده چې د هغه د ملاحظاتو په اړه ترسره کېږي.**

هغه مخالفین چې خبرې کوي،د پروژې په دوران کې د څلورمې ( رغانده) وینا په ترځ کې د اطلاعاتو غوښتنې له حق څخه برخمن وي. ویناوال حق لري څو هغه ومني یا یې رد کړي. د وړاندې کولو په لومړنیو او وروستیو دقیقو کې، د اطلاعاتو ټکی نه منل کېږي ـ دغه وخت د محفوظ وخت په نوم یادېږي. د اطلاعاتو ټکي د وروستیو ویناوو په ترځ کې منع دي.

د اطلاعاتو ټکي د فعاله غوږ نیولو مهارتونه پراخوي او د دې وړتیا درکوي څو په چټکۍ سره د مخالفینو پر وړاندې ځواب ووایئ.

**اعتراض د لوبې اصلي کارپوهانو پر وړاندې له استیناف غوښتنې څخه عبارت دی چې د قوانینو د سرغړونې یا د ممخالفینو له خوا د هغو د ناوړه استفادې په اړه ترسره کېږي.**

رول لوبونکي حق لري څو هر وخت چې وغواړي، د پروژې دوران پر مهال د مخالفینو د هر ډول وینا په اړه اعتراض وکړي. اعتراض بیلابېل ډولونه لري:

**۱. د لوبې بهیر په اړه اعتراض:**

- نوې مفکوره ـ د یو نوي استدلال معرفي چې مخکې د مخالفینو د پای وینا په ترځ کې نه وي وړاندې شي، استثناء: یوازې ۰۱ ویناوال په پای وینا کې د ۲C ویناوال په وینا کې د لومړي ځل لهپاره وړاندې شوي استدلالونو د رد حق لري.
- د دریځ بدلون ـ د اعلان شویو پخوانیو مقروو پر خلاف د پای وینا/ یا دویم پړاو کې د پروژې بدلون.
- ناسم پوهاوی – د مخالفانو له کلمو څخه ناسم برداشت او یا د ناسمو حقایقو څرگندول.

**۲. شخصي اعتراض - د سیال شخصي زیان:**

اصلي کارپوهان کولی شي د منلو یا رد اعتراض وکړي. د هغو د منلو په صورت کې، ویناوال ته اجازه نه ورکول کېږي څو هغه مفکوره چې پر ور باندې یې اعتراض شوی وي، مسترده کړي. د اعتراض د اعلان او د قاضی له خوا د پرېکړې لهپاره ضایع شوی وخت د ویناواللپاره ځانگړي اصلي وخت باندې نه ور زیاتېږي. خو که چېرې اعتراض رد شي، د وخت کنټرولوونکی ضایع شوی وخت د ویناوال پر اصلي وخت ور زیاتوي.

### ۲,۵,۱. د پروژې جوړښت:

په پروژه کې درې عنصره شامل دي: - قضیه، میکانیزم او فلسفه.

| اصطلاحات | | | تعریف | کلیدي پوښتنې |
|---|---|---|---|---|
| پروژه | فلسفه | د ستونزې لهپاره د حللارې موندلو پلانجوړونه | د پروژې هدف او یا د دې ارزونه چې پروژه پر کوم بنسټ ولاړه ده؟ | ولې؟ کوم سرلیک؟ |
| | قضیه | | د پروژې جوړښت/ طرحه | څوک؟ څه کار باید ترسره شي؟ څنګه؟ |
| | میکانیزم | | د پروژې څېړنې د تګلارو په اړه تفصیلي شرحه | څوک؟ څه؟ څنګه؟ له کومې بودجې څخه په استفادې سره؟ مهلت یې تر څه وخته دی؟ په کوم ترتیب او داسې نور. |

پروژه باید په بشپړ ډول د ۰۱ او 1C ویناوالو په لومړنیو ویناوو کې وړاندې شي. باید په لومړۍ وینا کې له خپلې پروژې سربېره، د موضوع د جوړښت، کلیدي کلمو او ځانګړیو اصطلاحګانو په څېر موارد شامل وي ( د اړتیا په صورت کې) او ۲ـ۳ استدلاله باید خپلواک وي.

| اصطلاحات | تعریف | کلیدي پوښتنې |
|---|---|---|
| ستونزه | د ستونزې پوښتنه، هغه مسأله چې څېړنې او حل لارې ته اړتیا لري. | څه شی بدلون ته اړتیا لري؟ |
| کلیدي کلمې | د هغو اصطلاحګانو تعریف چې د ستونزې په جوړښت کې کارول کېږي او توضیحاتو ته اړتیا لري. | په کومې معنې؟ له یادو اصطلاح ګانو څخه څه مفهوم ترلاسه کوو؟ |
| ځانګړې اصطلاچګانې | د هغو ځانګړیو اصطلاحګانو تعریف چې په پروژه کې کارول شوي او د هغو د لانبنه درک لهپاره اړینې دي. | |
| استدلال | هغه ملاتړ چې د پروژې تر ټولو ځواکمنو ښیګڼو وړاندې کوونکي وي. | ولې باید دغه ستونزه په دغه طریقه حل شي؟ |

# دویم څپرکی

# د قضایي چلند اساسات

## ۱،۲. د قضايی چلند اساسات:

د بين المللي مناظرو روزنيزې ټولنې(IDEA) د قضايی چلند اساسات ټاکلي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱. قاضی بايد د هغو سياليو په اړه چې دی يې په اړه قضاوت کوي، مثبته فضاء رامنځته کړي.
۲. قاضی بايد په درنښت او درناوي سره چلند وکړي.
۳. قاضی بايد په وخت سره ځان د مناظرو ترسره کولو ځای ته ورسوي.
٤. که چېرې د سياليو قواعد يې غوښتنه وکړي، قاضی بايد ځان معرفي، مناظره کوونکو ته په لنډه توگه د قضاوت فلسفه وړاندې او د اعلامیې مطابق قضاوت وکړي.
٥. قاضی بايد پر وخت د دورې له مناسب کنټرول څخه ډاډ ورکړي.
٦. يو قاضی بايد پر هغو دورو قضاوت ونه‌کړي چې ښايي په کې د گټو تضاد موجود وي.

## ۲،۲. د قاضيانو مسووليتونه:

د يو قاضی په مسووليتونو کې لاندې موارد شامل دي:

- د هر ټيم د امتياز ټاکل او اعلان؛
- د هر ويناوال ارزونه؛
- د هر ويناوال د امتياز ټاکل او اعلان؛
- د شفاهي ارزونې اعلان؛ او
- د ټولو هغو ماردو مستندول چې ورته اړتيا ده.

**يو قاضی بايد د دندو ترسره کولو لپـاره لاندې موارد په پام کې ونيسي:**

- د مناظرې پر اصلي شيبو تمرکز وکړي؛
- مناظره په خپله مه ترسره کوئ، يو چارټ ـ يو ريکارډ چمتو کړئ؛
- د يوې دورې له نتيجه گيری مخکې، خبرپاڼه مه بشپړوئ؛
- د ويناوالو استدلال ته په درناوي سره غوږ ونيسئ؛
- خپله پرېکړه په څرگنده توگه توضيح کړئ؛
- د شفاهي ارزونې پر مهال د ويناوال په اړه مثبتې خبرې وکړئ؛ او
- خبرپاڼې په بشپړ ډول ډکې کړئ.

## ۳,۲. د هغې مناظرې په اړه قاضیانو ته سپارښتنې چې د کارل پاپر چوکاټ په پام کې نیولو سره ترسره کېږي:

### ۱,۳,۲. د قضاوت‌معیارونه:

څلور اصلي معیارونه شته چې د هغو پر بنسټ قضاوت‌کوونکي د یو یا بل ټیم په ګټه پرېکړه کوي چې له استدلال، د حقیقت له وضاحت، جوړښت او د هغه له وړاندې کولو څخه عبارت دي. د هغوی محتویات له هغو پوښتنو څخه په استفادې سره ټاکلی شو چې قاضی یې په خپله مطرحه کوي.

**۱. استدلال:**

- آیا ویناوال استدلال ردوي او خپل هغه یې ځایناستی کوي؟
- آیا ویناوال د مخالفانو له لوري وړاندې شویو شواهدو کې تیروتنې او ناخوالې ګوري؟
- ویناوال تر کومه حده خپل کارونه درک‌کوي؟
- آیا مناظره کوونکی کولی شي استدلال او خپل توضیحات په بشپړ وضاحت سره وړاندې کړئ؟
- آیا استدلالونه له معیارونو سره تړاو لري؟

**۲. وضاحت:**

- آیا شواهد او توضیحات له استدلال څخه ملاتړ کوي؟
- آیا استدلال د شواهدو پر بنسټ دی؟
- د کارپوه له‌خوا د شواهدو په اړه وړاندې شوي لیدلوري به صلاحیت او د سرچینه وزن په پام کې ونیسئ؟

**۳. جوړښت:**

- د مناظرې کوم چوکاټ څارل کیږی او کنه؟
- آیا د استدلال جوړښت روښانه دی او په پای کې نتیجه ګیری شوی کنه؟
- آیا د دواړو لوري استدلالونو ته په ویناوو کې کومه شمېره ځانګړې شوې ده؟
- آیا له یو استدلال څخه بل ته لېږد په څرګنده توګه ترسره کېږي؟
- آیا ویناوال خپلې دندې ترسره کوي ( د وړاندې شوي چوکاټ مطابق)؟

- ويناوال څومره له متقابلو مسائلو څخه استفاده او يا يې نتيجه ګيري کوي؟
- وينا تر کومه حده څرګنده او واضيح ده؟
- آيا د ويناوال غوږ نيول او درک آسانه دی؟
- د مناظرې په ترڅ کې څه ډول چلند کېږي ( ځيرتيا، د مخالفانو پر وړاندې درناوی )؟

### ۲,۳,۲ د تصميم نيونې سبکونه:

قاضی د تصميم نيونې په بهير کې له لاندې سبکونو څخه استفاده کوي:

- د بېلګې په توګه له ځانه داسې پوښتنې مطرحه کړئ: آيا موافق ټيم د يوې بيانې او مثبت پای ليک له ملاتړ څخه برخمن دی؟ آيا د اپوزسيون ټيم کولی شي له حقايقو څخه په استفادې مبارزه او متقابل استدلال وکړي؟ آيا ردونکی ټيم رغانده استدلال وړاندې کړی څو وکولی شي د هغه پر بنسټ د نظر اختلاف له په پام کې نيولو پرته مثبتې نظريې رد کړي؟ کوم ټيم تر ټولو ښه تحليل ترسره کوي او د مناظرې حساس مسايل يې درک کړي دي؟ کوم ټيم په اغېزناکه توګه خپلې مفکورې بيان کړي دي؟
- د حساسو شيبو له موډل څخه استفاده وکړئ: د څلورمې وينا په پای کې (۰۲) يادداشتونه بايد په پوره ځيرتيا سره واروزل شي او د مناظرې دورې انتقادي پوښتنې مشخصې شي. بايد له ځانه وپوښتئ: د دې له‌پاره چې وکولی شو سم تصميم ونيسو،په دې برخه کې د دوو راتلوونکيو وړاندې کولو په ترڅ کې له هر ټيم څخه کومې پوښتنې مطرحه کړو؟ بايد د هغو پوښتنو او ځوابونو يادداشت ته چې د هر دورې په پای کې ترسره شوي، په ځغلنده کتنې سره خپلو يادداشتونه وګورئ او تصميم ونيسئ.

له داسې يو سيسټم څخه استفاده وکړئ چې اته پړاوونه لري:

١. د « ګټوونکي» لومړی تصور او فکر وليکئ.
٢. د مبارزې عمده دورې وپېژنئ.
٣. د هر استدلال ګټوونکی وټاکئ.
٤. مهم وړاندې شوي استدلالونه تشخيص کړئ.
٥. دا په ګوته کړئ چې آيا هر ټيم به خپل مسووليت ترسره کړي.
٦. د استدلال کيفيت وارزوئ.
٧. دويم فکر.
٨. د استدلال ارزښت محاسبه کړئ.

**تعادل رامنځته کړی او ګټوونکی مشخص کړئ:**

د تصمیم نیونې ډېر سبکونه شته دي. قضاوتکوونکی باید په ټولو سناریوګانو کې په یاد ولري چې د هڅولو وړتیا په تحلیل کې ونه کارول شي او دا چې د قضاوتکوونکی اصلي دنده تر ټولو لومړی دا ده چې هغه یو ښوونکی واوسي.

**۳،۳،۲. د نمرو د فورمونو ډکول:**

د نمرو فورمې (د قضاوت پروتوکول) د مناظرې ګډونوالو لهپاره یوه تر ټولو اغېزناکه روزنیزه وسیله ده. په همدې ترتیب د یو روزونکي/ ښوونکي/ قاضی تر ټولو ستونزمنه دنده ګڼل کېږي. ګډونوال باید د زیاتې مودې لهپاره په شدت سره کار وکړي او ونه غواړي لوبه وبایلي. له پیلوونکو سره سره، په دې اړه تصمیم نیونه یو ستونزمنه چاره ده او هغه ټیم چې کم امتیاز ترلاسه کوي، په واقعیت کې به د لوبې بایلوونکی وي.
له همدې امله ده چې موږ ټول دلته د روزنې په حال کې یو. که چېرې په یاد ولرئ، مناظره په واقعیت کې یوه روزنیزه وسیله ده، د هغه په اړه تصمیم نیونه آسانه ده. له ټولو لومړی ګډونوال غواړي چې د تصمیم په اړه یوه روښانه توضیح ترلاسه کړي. هغوی همدارنګه غواړي چې د وړاندې کولو په اړه تبصره وکړي. آیا د هغوی سبک، تنظیم ، منطق یا شواهد کره دي.
که چېرې روزونکی او قاضی د پرېکړې د توضیح لهپاره کافي وخت ځانګړی کړي، د هر ټیم بایلل او ګټل به په شرافتمندانه توګه ترسره شي.

**۴،۳،۲. د کارل پاپر مناظرې په چوکاټ کې د نمرو د فورمې بېلګه:**

په انتخابي ټورنمنټونو کې د قاضی له خوا شفاهي فیډبک ورکول کېږي او د هغوی د شمېر په پام کې نیولو سره به ۱۰ دقیقې ونیسي چې لاندې پړاوونه په کې شاملېږي:

- ټیمونه د مناظرې ترسره کولو له امله وستایئ( ځکه چې هغوی په مناظره کې د ګډون له امله ډېر کړاوونه ګاللي دي)
- د هر ویناوال په پرزنټېشن/ وړاندې کولو سره یې پیل کړئ او په هره برخه چې د ټولو ښو مسائلو په اړه خبرې کوي، وستایئ. خو ډاډ ترلاسه کړئ چې له هغو مواردو څخه یادونه وکړئ چې کیدی شي ښه شي. د تېرو مناظرو له پیاوړیو بېلګو څخه استفاده وکړئ. ویناوال خپلو دندو ته متوجه کړئ، په یاد ولرئ چې تاسو نه یوازې قضاوتکوونکی بلکې یو ښوونکی هم یاستئ.

- له وړاندې کولو وروسته څه فکر کوئ؟ د ویناوالو پرزنتیشن/ وړاندې کوونه څومره قانع کوونکي وه او هغه څومره وتوانید چې د مناظرې په بهیر اغېز ولري؟
- د ټیمونو تېروتنې او د هغوی د ښه‌والي لارې مشخصې کړئ.
- د کوم ټېم استدلال ځواکمن وو او په کومو مواردو کې د نظر اختلاف موجود وو، څنګه کیدی شي دغه مورد ته پراختیا ورکړو؟
- د متقابلو پوښتنو پر مهال مو کومه پوښتنه خوښه شوه او کومو ته یې ټیمونو اشاره ونه کړه.
- یو حل بیا د ټیم له غړیو څخه د مناظرې ترسره کولو له امله مننه وکړئ.

## 5.3.2. نمونه فورمه نمرات در قالب مناظره کارل پاپر

شماره بازی ______ تاریخ ________ شماره اتاق ________ زمان ________

| تیم | | | | | | | | | | (نمرات) | | | | | +/- | (نمرات) | | | | | تیم | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| A 1 | | | | | A 2 | | | | | A3 | | | | | اسم | O 1 | | | | | O 2 | | | | | O 3 | | | | |
| e | g | n | s | w | e | g | n | s | w | e | g | n | s | w | کود | e | g | n | s | w | e | g | n | s | w | e | g | n | s | w |
| | | | | | | | | | | | | | | | ساختار | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | استدلال | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | وضاحت | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | ارائه | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | نمرات | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | جایگاه | | | | | | | | | | | | | | | |

**یادداشت (1):** پروتوکول باید به شکل کامل رعایت گردد: نمرات سخنرانان، درجات آنها، تبصره های انفرادی و مبنای تصمیم گیری. هر سخنران نباید بیشتر از 30 نمره بدست آورد. قبل از آغاز بازی دیگر، باید پروتوکول ارسال گردد.
**یادداشت (2):** برای سخنرانان نمرات بر مبنای توانایی های آنها در عرصه استدلال، وضاحت و ارائه داده میشوند، البته با استفاده از کود ها.

**کوډونه:**

| W – weak<br>کمزوری | S – satisfactory<br>قناعت وړ | N – normal<br>نورمال | G – good<br>ښه | E – excellence<br>عالی |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰ نمره | ۱۱ – ۱٦<br>نمره | ۱۷ – ۲۳ نمره | ۲۴ – ۲۸<br>نمره | ۲۹ – ۳۰ نمره |

د ویناوالو درجه بندي: ۱ ـ ٦ چې ۱ تر ټولو غوره دی او داسې نور. د منځنی او وروستی کچې پایلې د امکان وړ نه‌دي.

| موافق اړخ:<br>انفرادي تبصرې | د اپوزیسیون اړخ:<br>انفرادي تبصرې |
|---|---|
| ۱A | ۱O |
| ۲A | ۲O |
| ۳A | ۳O |
| د ټیمونو ترمنځ د نظر اختلاف اصلي برخې مشخصې او د خپلې پرېکې تر ټولو روښانه توجیه بیان کړئ. | |

په ترسره شوې مناظره کې تر ټولو ښه لوبه د ______________ ټیم له‌خوا ترسره شوه. د ټیم نوم ______________ د قضاوت‌کوونکی کوډ ______________ د قضاوت‌کوونکي لاسلیک ______________ ننداري ته وړاندې شو.

## ۴,۲. د آمریکا متحده ایالتونو پارلماني مناظرې په اړه د قاضیانو سپارښتنې:

پارلماني مناظرې د یو ساده معیار پر بنسټ تر قضاوت لاندې نیول کېږي: کوم لوري خپل استدلالونه په ښه توګه ساتلي او د مخالفانو استدلالونه يې ځواب کړي دي. یوازيني انظباطي قاعده په لاندې ډول ده: د ویناوو اوږدوالی، د قضیې وړاندې کول، د ردولو په ترڅ کې پر نویو استدلالونو بندیز او داسې نور. که چېرې ټیم دغه اساسي قواعد تعقیب کړي، نو قاضی ته به یوازینۍ پوښتنه دا پاتې شي څو دا تشخیص کړي چې کوم ټیم د استدلالونو د پراختیا او د مخالفانو د استدلالونو په رد کې تر ټولو ښه دی. پارلماني مناظرې د قاضی پلاوي یا یو قاضی ل خوا تر قضاوت لاندې نیول کېږي. یو قاضی باید د مجلس د رئیس په توګه وټاکل شي چې باید له لوبې مخکې هره وینا اعلان او د هر ګډونوال له وینا وروسته له هغه څخه مننه وکړي.

### ۱,۴,۲. د قضاوت معیارونه:

د پارلماني مناظرو اصلي معیار له ساده توب او اعتبار څخه عبارت دی. د مناظرې د نورو بڼو په پرتله، ټیم په اتومات ډول یوازې د دغه واقعیت له امله چې د هغوی مخالفان یو استدلال یا هغه ته ورته کوم شی له لاسه ورکړی، ګټوونکی نه اعلانېږي، بلکې د پام وړ قاضی ټیم دې ته په پام سره چې د کوم ټیم مناظره ښه ده او د هغوی ویناوې او استدلالونه ډېر قانع کوونکي دي، بریالی اعلان ېږي.

د ارزونې څو ځانګړې ساحې شته چې تقریباً د هر قاضی له خوا به په پام کې ونیول شي چې په لاندې ډول دي:

**استدلال او تحلیل:** د پارلماني مناظرې اساسي رکن جوړوي. هغه ټیم چې منطقي او د جوړجاړي وړ تحلیل وړاندې کوي، د هغه ټیم په پرتله بریا ته نږدی دی کوم چې یوازې د ټینګار، عواطفو او احساساتو له مخې تحلیل کوي. استدلالونه باید روښانه او قانع کوونکي وي او د خپلو مخالفانو د ارزښتونو له تقابل څخه دا ړ ترلاسه کړي.

**محتویات:** له دغه واقعیت سره سره چې پارلماني مناظرې یوازې د حقایقو او احصائیو پر بنسټ نه ترسره کېږي،، خو د ریښتوني ژوند بېلګې او ستاسو د دریځ د پیاوړتیا په موخه د کارول شویو حقایقو درک درسره

مرسته کولی شي. په داسې حال کې چې حقایق باید د یوې وسیلې په توګه چې د تحلیل اړتیا له منځه وړي، ونه کارول شي. کیدی شي له هغو څخه د یو لنډ استدلال د پیاوړتیا لهپاره استفاده وشي.

**د نظر اختلاف/ د قضیې ردول:** دا کفایت نهکوي چې یوازې د یوې پوښتنې په اړه خپل نظر مطرحه کړئ ـ ډاډ ترلاسه کړئ چې په مستقیم ډول د اپوزسیون د استدلال پر وړاندې مبارزه کوئ او هغه په بریا سره ردوئ. بیاهم یوازې هېر شوی استدلال کفایت نهکوي چې له هغه څخه په استفادې سره په اتومات ډول له یوې دورې څخه بریالي واوځئ او یا له ماتې سره مخ شئ ( کم له کمه که یو کلیدي استدلال نه وي) خو د قناعت وړ رد هم ستاسو د بریا له پاره اړین دی.

**تنظیم:** قاضی عموماً له هغو ویناوو څخه مننه کوي چې استدلالونه یې په څرګنده توګه او ځیرتیا سره تعریف او وړاندې شوي وي. د استدلال بېلابېلې کرښې باید په روښانه توګه له یوبل څخه بېلې وي. دغه چاره کیدی شي د استدلالونو د اړوندوالي له لارې ( او له نورو ټیکنالوژیو څخه په استفادې سره) ترسره کړو. مناظرې باید په لنډه او جدي توګه د دورې تر ټولو مهمې شیبې وړاندې کړي او له حده زیات او بې ګټې ظرافتونه په کې شامل نهوي.

**سبک او څرګندول:** هغه سبک چې استدلال وړاندې کوي، استدلال ته ورته ارزښت لري. روانه، مؤدبانه، او هڅوونکې وینا تل د قاضیانو پام راجلبوي. د څرګندولو بېلابېلو تخنیکونو څخه استفاده ستاسو د وینا د لازیاتې ځلیدو لامل کېږي او د پرزنتیشن / وړاندې کولو بریا مو تضمینوي.

**مناسبه شوخي:** له مناسبې شوخي څخه استفاده، په واقعیت کې د پارلماني مناظرې مهمه برخه ده، ځکه چې کولی شي ستاسو د وینا نفوذ زیات کړي. مناسبه شوخي، اړوندې فکاهي، لطیفې او خندوونکې بېلګې د ډېری قاضیانو د منلې وړ ګرځي. د مناسبو شوخیو او فکاهیاتو « سرګرمیو» چوکاټ کې بې ځایه او سپکوونکي کمیدي به په زیات احتمال سره د پاملرنې وړ ونه ګرځي. مناسب طنز کیدی شي تر ټول ځواکمنه وسیله وګڼل شي او عموماً د قضاوت کوونکیو د پرېکړو پر مهال د پاملرنې وړ ګرځي.

**پوښتنې:** مناظره کوونکی د دورې پر مهال له اطلاعاتو ټکیو څخه په استفادې، اساسي امتیازاتو ته لاسرسی پیدا کوي. کولی شئ د معقولو پوښتنو مطرحه کولو وړتیا څخه په استفادې او هغه ته په چټکو او

مناسبو ځوابونو وړاندې کولو سره د پوهاوي وړ تفکر وړتیا وړاندې کړئ. دا په واقعیت کې یو داسې ارزښت دی چې کابو د ټولو قاضیانو د منلې وړ ګرځي.

**ګروپي کار:** له مناظره کوونکو څخه تمه کېږي چې ګروپي کار ترسره کړي. استدلالونو ته له یوبل سره په ګډه پراختیا ورکړي او د دورې پر مهال د ټیم فلسفه په جوړښتي بڼه تطبیق کړي. له خپل شریکبانې سره تناقض مه‌لرئ. ښه ده چې د هغه مخکې وړاندې شوی استدلال ته پراختیا ورکړئ څو یې اغېزناکتیا زیاته شي او په دې توګه هغه ور سره هدف ته په رسیدو کې همکاري وکړي.

### ۲،۴،۲. د ویناوالو نمرې:

هر قاضی د دورې له ارزونې سربېره، ویناوالو ته تر ۱ ـ ۳۰ پورې نمرې ورکوي« د ویناوال نمرې» څرنګه چې یې له نوم نه ښکاري، نه یوازې دا چې د هغه د سبک وړتیا پر بنسټ ورکول کېږي، بلکې د ویناوال له‌خوا د ترسره شوې مناظرې د عمومي کچې منعکس کوونکي هم دي. البته د استدلال، تحلیل او د نظر اختلاف په ګډون چې د سبک او څرګندولو تر څنګ د ارزښت وړ دي. په همدې ترتیب سره، مناظره کوونکي په هره دوره کې د ترلاسه شویو نمرو پر بنسټ تر۱ ـ ۴ پورې درجه بندي کېږي. په عمومي توګه، هغه ټیم چې د وینا تر ټولو ډېرې نمرې یې اخیستي ( او یا هم په هغه صورت کې چې امتیازات یې مساوي وي، له «۱،۲»څخه ټېټه درجه) د دورې د ګټوونکي په توګه اعلانېږي.

**په لاندې برخه کې د ویناوالو د نمرو ستنډرډ مقیاس وړاندې شوی دی:**

له ۱٦ څخه ټېټې: په بشپړ ډول بدې دي، عموماً په دغه کچه کې قاضی امتیاز نه ورکوي، مګر دا چې ویناوال د مخالفانو پر وړاندې غیر سوله‌ییز چلند ولري. له دې سربېره، دا چې بې پایله ده، د ګډوډۍ او فکري بې نظمۍ لامل کېږي.

۱٦ ـ ۱۷ : ډېر بد، ویناوال د استدلال په تسلسل او د خپلو مفکورو په منطقي بیان کې جدي ستونزې لري او وینا یې له ځانګړي شوي وخت څخه ډېر ژر پایته رسېږي.

۱۸ ـ ۲۰ : بد. د مفکورو په بیان او تحلیل کې ستونزې شته او وړاندې شوي استدلالونه قانع کوونکي نه‌دي، همدارنګه له ټول وخت څخه استفاده نه کېږي.

۲۱ـ ۲۲: له منځۍ کچې څخه ټېټ: د قاضیانو له یوه یا څو معیارونو سره چې پورته یې یادونه وشوه، په بشپړ ډول جوړجاړی نه‌لري.

۲۳ ـ ۲۴ ـ منځۍ کچه. په تقریبي توگه د منلو وړ ده او ښایي جزوي تیروتنې ولري، خو د ارزښت وړ نه دي.

۲۵: ښه، ویناوال قانع کوونکی دی او مطلب په ښه توگه وړاندې کوي. هغه د مناظرې یوه یا دوه برخې ښې ځلولي دي.

۲٦: عالی: په وړاندې کولو او توضیح کې هیڅ کومه د پام وړ تیروتنه نشته، قانع کوونکي او اغېزناک تحلیل شته او وړاندې شوی استدلال اغېزناک دی. پرزنتیشن / وړاندې کوونه عالي، ټولیزه او له ښه سبک څخه برخمنه ده. هغه ویناوال چې په هره دوره کې په منځنۍ کچه ۲۵ نمرې ترلاسه کړي، دا احتمال شته چې د ټورنمنټ په لسو تر ټولو ښو ویناوالو کې راشي.

۲۷: وینا فوق العاده ده، ویناوال په ټولو مواردو کې ښه ځلیدلی او وینا یې پر دورې ټاکوونکی نفوذ لري. وړاندې کوونه/ پرزنټیشن یې هم عالی دی. دا د ټورنمنټ یوه له تر ټولو ښو ویناوو څخه گڼل کېږي. هغه وینا چې په هره دوره کې ۲۷ نمرې ترلاسه کړي، دا احتمال شته چې د ټورنمنټ په ۳ غوره ویناوالو کې راشي.

۲۸: یوه تر ټولو ښو ویناوو څحه ده چې تر اوسه ورته غوږ نیول شوی. که چېرې ویناوال په هره دوره کې په منځنۍ کچه ۲۸ نمرې ترلاسه کړي، دا احتمال شته چې د ټورنمنټ تر ټولو ښه ویناوال مقام ترلاسه کړي.

۲۹: ستاسو په ژوند کې تر ټولو ښه وینا ده او اړ کوي مو څو اوښکې تویې کړئ. دا وینستون چرچیل او مارتین لوترکینک ویناوو په تر تولو ښه کچه کې راځي.

۳۰: د بشري تاریخ تر ټول ښه وینا ده. داسې نه‌ښکاري چې هغه بیاځلي واورئ.

### ۳,۲,٤. د قاضیانو له خوا مستندیدل

**د قاضی پروتوکل:**

| دولت | | اپوزیسیون | |
|---|---|---|---|
| موضوع | | | |
| قاضی | نېټه | د خونې شمېره | د تورنمنت شمېره |
| PM | | LO | |
| ملاحظات: | | ملاحظات: | |

| | | |
|---|---|---|
| | نمري | |
| | مقام | |

| MG | MO |
|---|---|
| ملاحظات: | ملاحظات: |

| | | |
|---|---|---|
| | نمرات | |
| | مقام | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د<br>دولت نمرې | | د اپوزیسیون<br>نمرې | |
| زما په نظر د مناظرې تر ټولو ښه ټیم عبارت دی له: | | | |
| د تصمیم نیونې دلایل: | | | |

د قاضي کوډ ______________________ د قاضي لاسلیک ______________________

ړکول

**د مناظرو پروتوکول:**

| PM | LO | MO | MG | LO | PM |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |

**۵,۲. قاضیانو ته د انګلستان پارلماني مناظرې په اړه سپارښتنې:**

**۱,۵,۲. د ویناوالو د ارزونې سیستم:**

ټول ټیمونه باید امتیازات ترلاسه کړي. تر ټولو غوره ټیم ۱ او په همدې توګه تر ټولو وروسته هغه ۴ امتیازه لاسته راوړي.
که چېرې یو ټیم ونه شي کولی په مهال وېش کې له ټاکل شوي وخت وروسته په ۵ دقیقو کې مناظرې ته حاضر شي، هغه ته صفر امتیاز ورکول کېږي.

که چېرې قاضی باوری شي چې د ټیم یو غړی یا یې دواړه د نورو مناظره کوونکو پر وړاندې د مذهب، جنسیت، توکم، ملیت، جنسي غوښتنو، عمر، ټولنیز موقف او یا ناروغۍ په څېر موضوعګانو په پام کې نیولو سره تبعیضي چلند کوي، په هغه صورت کې به د پام وړ ټیم امتیاز صفر وي.

انفرادي امتیازونه باید د لاندې محدودیتونو په پام کې نیولو سره ورکړل شي:

| نمرې | تعریف |
|---|---|
| ۹۰-۱۰۰ | **عالي** – له تیروتنې پاکه ستندرډه وینا ده چې تاسو یې له ویناوال څخه د اوریدو انتظار لرئ څو هغه د سیالیو په ورستۍ/ نیمه پای‌لوبه کې وړاندې کړي. په دغه ډول ویناوو کې د قوت ټکي ډېر او کمزورۍ هغه هیڅ نه تر سترګو کېږي. |
| ۸۰-۸۹ | له منځنۍ کچې څخه لوړه ـ ډېره ستندرډه وینا ده چې له ویناوال ټیم څخه یې د اوریدو تمه لرئ څو یې د سیالیو په غوراوې دوره کې وړاندې کړي. دغه دول وینا کې د قوت ټکي څرګند خو کمزوۍ هغه جزئي وي. |
| ۷۰-۷۹ | **د منځنۍ کچې وینا** ـ داسې وینا ده چې کمزورې او د قوت ټکي په کې مساوي وي. |
| ۶۰-۶۹ | **کمزورې وینا** ـ له منځنۍ کچې څخه ټیټه چې ښکاره ستونزې ولري او د قوت ټکي په کې ډېر کم وي. |
| ۵۰-۵۹ | **ډېره کمزورې** ـ دغسې وینا پراخې کمزورتیاوې لري او د قوت ټکي یې ډېر کم وي. |

### ۲،۵،۲. د ویناوالو شفاهي ارزونه

قاضیې باید له تصمیم نیونې وروسته مناظرې په شفاهي بڼه وارزوي.

شفاهي ارزونه باید لاندې ځانګړنې ولري:

- هغه ترتیب تشخیصوي چې ټیمونو ته موقع په لاس ورغلې ده؛
- د امتیاز ورکولو دلایل توضیح کوي، څو ډاډ ترلاسه شي چې هر ټیم تر ارزونې لاندې نیول شي؛او
- مناظره کوونکو ته رغانده فیډبک وړاندې کوي، البته په هغه صورت کې چې قاضی هغه مناسب وګڼي.

شفاهي ارزونه باید له ۱۰ دقیقو زیات وخت ونه‌نیسي.

د مجلس غړي کولی شي له قاضیانو سره د تبصرو او د هغوی د تصمیم د تفصیلي توضیحاتو په اړه خبرې وکړي، دغه ډول غوښتنې باید تل مؤدبانه وي.

### ٦,٢. کارپوهانو ته د معما لوبې په اړه سپارښتنې:

د معمالوبې قاضی د کارپوهانو په څېر دي؛ له همدې امله دلته هم د مناظرې د نورو چوکاټونو په څېر، باید کارپوهان لازم اسناد بشپړ او ارزونه وټاکي او د مناظرې ګډونوالو ته دې شفاهي فیډبک وړاندې کړي.

د کارپوهانو شمېر تلطاق وي څو ګټوونکی وټاکل شي. هغوی د سوابقو پر اساس د ټولو لوبو یو ریکارډ ساتي او د لوبې د یو شفاهي تحلیل په ترسره کولو سره د ټیمونو د قوت او کمزورتیا ټکي او همدارنګه پر هغو د برلاسي او ښه والي لارې په ګوته کوي.

د هغو اسنادو ټولګه چې په کې د کارپوهانو له خوا سوابق ساتل کېږي، کیدی شي د ټیمونو له خوا د ځاني تحلیل او د مهارتونو او پوهې د کیفیت ښه والي په موخه وارزول شي.

### ۱,٦,۲. د ستونزې دورې په اړه قضاوت:

| پروتوکول نتایج دوره مشکل | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| امضاء کارشناس | | | | | | کود کارشناس | | | | | | تاریخ | | | | | | کارشناس | | | |
| موضوع | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | تیم |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| p | i | r | p | i | r | p | i | r | p | i | r | p | i | r | p | i | r | p | i | r* | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

*__یادداشت:__ د ارزونې معیارونه: -(r – relevance ) د اړوندوالي په معنې دی او د (۰ ـ ۱۰ امتیازونو) په پام کې نیولو سره د اعلان شویو ستونزو د لنډمهال‌توب وړاندې کوونکي دی. (i – information) د اطلاعاتو د ارزښت په معنې او د رښتینو اطلاعاتو د مشبوع والي وړاندې کوونکی دی( اعداد، شمېرې، د کارپوهانو نظریې، د سرچینو لړلیک او داسې نور) (۰ ـ ۱۰ امتیازه) لري (p – presentation) د وړاندې کولو/ پرزنتیشن په معنې دی او ( ۰ ـ۱۰ امتیازونو) په درلودلو سره په په ترسره کیدو کې د روښتیا، وضاحت، جوړښت او نوښت وړاندې کوونکی دی.

### ۲،٦،۲. د پروژې دورې په اړه قضاوت:

**د پروژې دورې په اړه د قضاوت لارښود:**

د پروژې په دوره کې دټیم وروستي امتیازونو کې درې مورده شامل دي: د پروژې، د لومړي ویناوال او دویم ویناوال ارزونه.

**د پروژو ارزونه:**

۱. په هره دوره کې د ټیم له خوا د وړاندې شویو پروژو ارزونه د ۴ معیارونو په پام کې نیولو سره ترسره کېږي: اصلیت، تفصیل، اعتبار او کارنده توب. امتیازات د پروژو د کیفیت مطابق ځانګړي کېږي.

④ د هر معیار لهپاره حداکثر امتیاز«۱۰» دی.

④ حداقل امتیاز ۰،۵ دی. د «۳»، ۳،۵»، «۴»، «۴،۵» او داسې نورو امکانات هم شته، خو د « ۴،٦ » ، «۵،۸»، «۳،۲» او داسې نور توپیرونه ناممکن دي.

④ د هر معیار لهپاره حداقل امتیاز «۳» دی ( د هر ډول پروژې د وړاندېز په صورت کې حتی که کمزوری هم وي).

④ د «۰» امتیاز وړاندېز هغه مهال کېږي چې ټیم هیڅ کومه رسمي پروژه وړاندې نهکړي.

۲. د څلورګونو معیارونو ټول امتیازات سره جمع او وروستی امتیاز د «ټولنیزو امتیازاتو» په خانه کې درج کړئ

④ د پروژې حداکثر امتیاز ۴۰ دی.

④ د پروژې حداقل امتیاز ۱۲ دی.

④ د پروژو نشتون ۰ امتیاز ترلاسه کوي.

یادداشت: امتیازات له هر معیار سره مطابق او د هغو لنډیز د منلو وړ دی.

**د ويناوالو ارزونه:**

٤. د هر ټيم د ويناوالو اجراآت د درې عناصرو په پام کې نيولو سره ارزول کېږي: محتويات، جوړښت او وړاندې کول/ پرزنتيشن. د پروژې دورې د پايلو په پروتوکول کې سرليکونه د اجراآتو په پام کې نيولو سره نښه کړئ.

٥. د ويناوالو د دريو عناصرو د ارزونې پر اساس، هغه درجه بندي کړئ له ۱ درجې ( د دورې تر ټولو ښه ويناوال) تر ۴ درجو پورې ( تر ټولو کمزوري اجراآت ) او په اړوند « ځای » کې يې درج کړئ.

٦. د ويناوالو د درې گونو عناصرو د ارزونې او انفرادي درجه بندۍ پر اساس، هر ويناوال ته د خپلو اجراآتو عمومي کچې ته پام سره نمره ورکړئ. که چېرې درې گوني عناصر ونه ارزول شي، بايد بېلابېل ټکي د عناصرو د منځنۍ کچې په توگه وي او د ستونزو او نامعلومه موقعيتونو په صورت کې د لوبو عمومي تجربو ته مراجعه وکړئ.

- حداکثر امتياز«۳۰» دی.
- حداقل امتياز «۰,۵» نمرې دي.
- حداقل امتياز« ۱۵ » دی.
- که چېرې ويناوال له وړاندې کولو څخه ډډه وکړي «۰» امتياز ورکول کېږي.

٧. د پروژې نمره د ټيم د دوو ويناوالو له امتيازاتو سره په لنډه توگه وليکئ او نهايي نمره د دورې نهايي پايلو په جدول کې درج کړئ. حداکثر امتياز ۱۰۰ دي. هغه ټيم چې تر ټولو ډېر عمومي امتياز څخه برخمن وي، گټوونکی گڼل کېږي.

يادداشت: کارپوه بايد د دورې گټوونکی تيم او د ويناوالو انفرادي درجه بندي مشخصه کړي، هغه نمرې چې د ويناوال په ارزونه او هم د لوبې له وروستيو پايلو سره ورته‌والی ولري، منع گڼل کېږي.

**د پروژې په دوره کې د مباحثاتو پروتوکول:**

| ١O № | ١C № | ٢O № | ٢C № | ١O № | ١C № |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |

**د پروژې دورې د پایلو پروتوکول:**

| کارپوه | نېټه | د خونې شمېره | د ټورنمنټ شمېره |
|---|---|---|---|
| ستونزه: | | | |
| پیلوونکی ټیم | | پاي ته رسوونکی ټیم | |

**د پروژې ارزونه**

| پیلوونکی ټیم | پاي ته رسوونکی ټیم |
|---|---|
| فلسفه | فلسفه |
| قضیه | قضیه |
| میکانیزم | میکانیزم |

| نمرې | د ارزونې معیارونه | نمرې |
|---|---|---|
| | | |

| | | |
|---|---|---|
| | نوښت | |
| | تفصیل | |
| | اعتبار | |
| | اغېزناکتیا/کارنده‌توب | |
| | د نمرو لنډیز | |

| ارزیابی سخنرانان | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| O1 | | | | | | | O2 | | | | | | | اسم | C1 | | | | | | | C2 | | | | | | |
| بسیار ضعیف | ضعیف | پائینتر از حد اوسط | متوسط | خوب | منقطع | مطلوب | بسیار ضعیف | ضعیف | پائینتر از حد اوسط | متوسط | خوب | منقطع | مطلوب | سطح | بسیار ضعیف | ضعیف | پائینتر از حد اوسط | متوسط | خوب | منقطع | مطلوب | بسیار ضعیف | ضعیف | پائینتر از حد اوسط | متوسط | خوب | منقطع | مطلوب |
| | | | | | | | | | | | | | | محتویات | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | ساختار | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | ارائه/پرزنتیشن | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | نمرات | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | جایگاه | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | ملاحظات | | | | | | | | | | | | | | |

## د دورې وروستۍ پایلې

| د پیلوونکي ټیم نمرې | توپیر: (+/-) | د پای ته رسوونکي ټیم نمرې |
|---|---|---|
| | | |
| زما په نظر لاندې ټیم د دغې دورې ګټوونکی وو: | | |
| د پرېکړې دلایل عبارت دي له: | | |

د کارپوه کوډ: ____________________ د کارپوه لاسلیک: ____________________

**۳,٦,۲. د پروژې د ارزونې معیارونه:**

**د پروژو ارزونه د خصوصي نمرو ورکولو څلور پړاوونه لري او د څلورو معیارونو په پام کې نیولو سره ترسره کېږي:** نوښت، تفصیل، اعتبار او اغېزناکتیا/ کارنده توب. د هر معیار لهپاره حداکثر امتیاز ۱۰ دی چې په پایله کې ټولې پروژې ته ۴۰ امتیازه په پام کې نیول کېږي.

**د پروژې ارزونې معیارونه او اصول:**

۱. **نوښت:** په هغه سیسټم کې د واردو شویو بدلونونو له ارزښت څخه عبارت دی چې له موضوع سره تړاو لري. هره پروژه په مشخص سیسټم کې دننه د شته څېزونو په نظم کې یو لړ بدلونونه رامنځته کوي. سیسټم له عناصرو څخه جوړ بنسټ څخه عبارت دی او ټول شته یې نه شو کولی د هغه د عناصرو له ټولګې څخه راکم کړو. بنسټیز ارزښت د اړیکې او جوړښت په ماهیت کې دی. له همدې امله د پروژې لهخوا رامنځته شوي بدلونونه کیدی شي په سیسټم کې د نویو عناصرو په معرفي، پخوانیو عناصرو له منځه وړلو یا بیارغوې ( د اړیکوبدلون ورکوونکی ماهیت) پورې اړوند واوسي. کارپوه ته په خپل ذات کې د مقیاس نوښت، یا د هغه کچه او د سیسټم پر شتون او د ګړنو پر ځانګړنو یی اغېزه مهم ده. ښه طرحه په الزامي توګه ډېر نه بلکې کم بدلونونه رامنځته کوي. د پروژې لهپاره مهمه ده څو اصلي واوسي. یعنې په پام وړ توګه له ورته پروژو څخه توپیر ولري ( مشخصه وي). ځینې وختونه ګډه وډه پروژه کیدی شي د واحدو خو اساسي او مهمو بدلونونو په معرفي سره په یوه ځانګړې او اصلي پروژه بدله شي.

**اړوندوالی:** نوښت له هغو بدلونونو څخه عبارت دی چې یوازې په سیسټم کې رامنځته کېږي چې له مسألې اړیکه لري.

**د کفایت اصل:** په سیسټم کې د بدلونونو ارزښت باید له حده زیات نه وي، خو باید د سیسټم بیارغاونې ته د یوې پایلې او د کړنو د یو بدلون په توګه کافي واوسئ.

**د نمرو ورکولو معیارونه:**

۳: «حباب»: د یوې پروژې په توګه د بهرنۍ طرحې مفکوره، د محتویاتو له اړخه تشه وي، څکه چې څه په کې نه وي ( د شته حالت مطلق تکرار) «حباب» ښایي د پام وړ ښکاره شي او ښه « په زړه پورې» وي، خو له مناسب اپوزسیون سره په آسانه توګه ( چاودیدلی» شي.

۴ـ۵ : پروژه اصلي نه‌ده، زیات آنالوګونه لري، په سیستم کې جزئي بدلونونه وړاندې کوي. ځانګړنې یې په ټېټه کچه کې دي.

۶ـ۷: پروژه آنالوګ لري، د غیر معمولي عناصرو د شتون او/ د پخوانیو عناصر د اصلي ترکیب له امله خاصې ځانګړنې لري. د هغو تطبیق د سیستم د جزئي بیارغاونې وړتیا رامنځه کړي.

۸ـ ۹: پروژه د پام وړ نوښت رامنځته کوي چې د نویو او/ پخوانیو عناصرو غیرعادي ترکیب پر مټ وړاندې کېږي او پخوانۍ تګلارې د هغې بیارغاونه د امکان وړ ګرځوي. مفکورې اصلي او له لوړو ځانګړنو څخه برخمنې دي.

۱۰: دا یوه نوې مفکوره ده چې په نړۍ کې هیڅ ډول آنالوګ نه‌لري. شته سیستم یې په بشپړ ډول بدل کړي څو یو نوي سیستم رامنځته کړي. دغه پروژه نه یوازې اصلي ده، بلکې یوه بې مثاله پروژه هم ګڼل کېږي.

۲. **تفصیل** ـ د پروژې ماهیت او میکانیزم له مفصل توصیف څخه عبارت دی. ټیمونه مسوولیت لري څو د پروژې د ټولو اساسي اړخونو جزئیات تشریح کړي. دغه اړخونه کیدی شي د پروژې نظم او مهالوېش، د اړتیا وړ سرچینې ( مالي، لوژستیکي او بشري) او د هغو سرچینې چې د بنسټونو له‌خوا جلب شوي او داسې نور وي. هر یاد شوی اړخ ښایي په میکانیزم کې موجود نه‌وي. خو لازمه ده چې شتون ولري ـ د هغو عمده مفکورې نه‌شو انځورولی. اصلي ټکی دا دی چې پروژه باید « رڼه» وي. یعنې د کارپوهانو له رغانده ویناوو وروسته یې د هر اجرایي اړخ په اړه هیڅ ډول پوښتنه نه‌وي موجوده. د هرې پروژې له‌پاره د اړتیا وړ کمیت او کیفیت توپیر لري او د هغو له ایډیولوژیکو محتویاتو سره مشخص کېږي.

**د اړوندوالي اصل:** د پروژې یوازینی اړخ چې د اوسنۍ هغې لەپاره اړین دی، باید تفصیلي بڼه ولري.

**د کفایت اصل:** د مواردو شمېر باید زیات ونه اوسي او د پروژې بشپړ تحلیل او درک یعنې «روڼتیا» لەپاره کفایت وکړي.

**جزئیاتو ته د نمرو ورکول:**

۳: « ګیډړه په کڅوړه کې ده»

له همدې امله له ښاغلي قضاوتکوونکي ( قضاوتکوونکیو) څخه غواړم چې خپله رأیه زموږ د ټیم په گټه وکاروي.

**د هغو معتبرو اخذليکونو لړليک چې ورنه استفاده شوې ده:**


۱. د پارلماني مناظرو ترسره کولو لەپاره امريکايي ټولنه. قوانين، مقررات او سپارښتنې. چمتوونکی: د پارلماني مناظرو ترسره کولو لەپاره امريکايي اتحاديې مديره پلاوي، ۱۹۹۴-۱۹۹۵ کلونه

۲. عتيقه وينا/ جنرال ريد. (A.A. Takho-Godi) – ام. ۱۹۷۸ کال.

۳. (Denvin Brown Arlo)، "پارلماني مناظرې: د زدەکوونکيو لەپاره لارښود، چې کارل پاپر مناظرې د چوکاټ په توگه پېژندل کېږي"،په (http://ctc//.«۷-ru/arlo-devlin-braun-parlamentskie-debaty-putevoditel. dlya-studentov-znakomyxs-formatom-debatov-karla-poppera) لينک کې د لاسرسي وړ دی.

۴. بيل گيتس، د هاروارد پوهنتون پيليزه وينا په (http:// abv//.۲۴-com/rech-billa-gejtsa-pered. -goda/۲۰۰۷-iyunya-۷studentami-garvardskogo-universiteta) لينک کې د لاسرسي وړ ده.

۵. (Vinokur T)،د ويناوالو د ويناوو ځرگندونې – ام. ۱۹۷۹ کال، انترنتي سرچينه: (/u-menya-est-mechta.php/۱۹۹۰-۱۹۴۵www.grinchevskiy.ru/).

٦. (Ghandi M.K)، زما ژوند، ام. " OGIZ-SOCEKGIZ "، ۱۹۳۴ کلونه

۷. کارل پاپر مناظره. نوښتونه: (Tkascheva O) و (Blagodarnaya E).

۸. "مناظرې: د ښوونکي او زدەکوونکي لارښود" (د "جامعه باز" انستيتوت د خپرونو دفتر).

۹. (Duras E.A)، لوبه د فکري روزنې په توگه / د فرهنگي مطالعاتو لەپاره ميتودولوژيکې سپارښتنې –تاشکند ښار، ۲۰۱۲ کال.

۱۰. (Duras E.A) و (Nizamova M)، د اوږي کمپ په شرايطو کې په کمپ او کار سازمان/ « د ماشومانو سازمان» کار د رهبري کلپ جوړول، تاشکند ښار، ۲۰۰۲ کال.

۱۱. د منځنيو پيړيو مخينه: د پيداگوژي پوهنتون د تاريخ پوهنځي محصلاتو لەپاره لارښود / (M. L. Abramson)، (A. A. Kirillova)، (N. F. Kolesnitskiy) او نور.؛ ايډيټر (N. F. Kolesnitskiy) – دويمه نسخه، له اضافي مطالبو او بدلونونو سره – (M. Prosvyashchenie)، ۱۹۸٦ کال–۵۷۵ مخ.

۱۲. د(KLYUEV E.V ) وينا، (اختراع، ابداع، خلاقيت): د پوهنتونونو لەپاره لارښود، ام. ۱۹۹۹کال.

۱۳.(Kuznecova T.I ) او (Strelnikova I.P)، د پخواني روم سوگندليک، ام ۱۹۷٦ کال.

۱۴. تریسا مور. د ۱۱,۱۲,۱۹۷۹ نېټې نوبل جایزې په اړه وینا، په (/www. orator.biz //) پته د لاسرسي وړ ده.

۱۵. د(Mikhaylichenko N.A) وینا، ام، ۱۹۹۳ کال.

۱٦. د سقراط وروستۍ وینا. د (Agneliy) فلسفي بحث، آتن ښار، له میلاد څخه ۳۹۹ مخکې، د (Khersones Tavrichesky) لهخوا، ۲۰۰٦ کال، په (/www.proza.ru //.۲۰۰٦/۰۳/۰۸۵۱/) کې د لاسرسي وړ ده.

۱۷. (Svetenko T.V)، د ښوونکیو او زدهکوونکیو لهپاره د مناظرې په اړه لارښود، په (//. www.ru.idebate.org/sites/live/files/Svetenko_book.pdf) لینک کې د لاسرسي وړ دی.

۱۸. ستیف جابز، په ستنفورد پوهنتون کې پیلیزه وینا، په(-www. kilgor//. /traautt.livejournal.com/۷۹۹۹۴۸.html) لینک کې د لاسرسي وړ ده.

۱۹. (Florenko N)، د کارل پاپر مناظرې پروګرام د تدریس په اړه د سپارښتنو ټولګه.

## لومړۍ ضمیمه

### ۱. د مناظرې موضوعاتو لړلیک:

### د کارل پاپر مناظرې موضوعاتو لړلیک:

۱. د نن ورځې ځوانانو ژوند د پخواني نسل په پرتله ښه دی.

۲. ښځو ته باید اجازه ورکړل شي چې په اردو کې خدمت وکړي.

۳. له درد پرته/ آسانه مرګ توجیه کیدی شي.

٤. د ښوونځیو یونیفورم دې له منځه لاړ شي.

٥. مصلحتي واده د توجیه وړ دی.

٦. د نجونو او هلکانو زدهکړه باید سره بیله شي.

۷. روژنه باید وړیا وي.

۸. په ټلویزیون کې اعلانات غیر اخلاقي دي.

۹. په یو لوی ښار کې ژوند کول د کوچني کلي له ژوند څخه ښه دي.

۱۰. د عسکري مکلفیت خدمت باید له منځه یوړول شي.

۱۱. د اعدام سزاء باید له منځه یوړل شي.

۱۲. د نویو ځوانانو مرتکبینو مجازاتو زیاتوالی د توجیه وړ دی.

۱۳. له هغو کسانو څخه د حقایقو پټول چې له مرگ سره مخ دي، یو غیر اخلاقي عمل دی.

۱٤. هستوي بې وسلې کول په بشپړ ډول د توجیه وړ دي.

۱۵. فیمینزم یوه مضره ایډیولوژي ده.

۱٦. اخلاقیات له فرهنگ سره اړیکه لري.

۱۷. په کډوالۍ د محدودیتونو لګول د توجیه وړ دي.

۱۸. بډایه هېوادونه باید له بې وزلو سره مرسته وکړي.

۱۹. د سیاستوالو شخصي ژوند باید عامه بڼه ونیسي.

۲۰. د ملگرو ملتونو سازمان د دې وړتیا نه‌لري چې نړیوالو ننگونو ته رسیدنه وکړي.

۲۱. د لیسې دورې ښوونځې تاسو واقعي نړۍ ته چمتو کوي.

۲۲. د اقتصادي ودې ستونزې د چاپیریالي مسایلو په پرتله زیات ارزښت لري.

۲۳. د چاپیریال ساتنې ستونزې سرخوږی جوړوي.

۲٤. په ښوونځیو کې باید درجه له منځه یوړول شي.

۲۵. د لیسې ښوونځیو زده‌کوونکي باید د غوښتې وړ مضمون د غوراوی له حق څخه برخمن وي.

۲٦. دولتونه باید وسلو ته لاسرسی محدود کړي.

۲۷. تاریخي مطالعه علمي ارزښت نه لري.

۲۸. زندانونه باید له منځه یوړول شي.

۲۹. ځوانانو مجرمینو سره باید د لویانو په څېر چلند وشي.

۳۰. دولتونه باید د خپلو هېوادوالو له سلامتۍ څخه ساتنه وکړي.

۳۱. د ساینس او تیکنالوژۍ زیانونه د هغو د ښیگڼو په پرتله زیات دي.

۳۲. په ننۍ ټولنه کې لاهم ښځې له برابرو حقونو څخه نه دي برخمنې.

۳۳. د ښوونځیو یونیفورم ته اړتیا شته.

۳٤. د جنین سقط یو غیر اخلاقي عمل دی.

۳۵. ځايناستي والی يو اخلاقي عمل دی.

۳۶. په ننی نړۍ کې انګليسي تر ټولو ښه ژبه ده.

۳۷. بايد په پروګرامونو کې خطرناکه ورزشونه منع شي.

۳۸. هستوي انرژۍ د نورو انرژيو په پرتله ښه ده.

۳۹. زده‌کوونکي او ښوونکي بايد په ښوونځيو پورې اړوندو مسايلو کې له مساوي لاسرسي څخه برخمن وي.

۴۰. ژنتيک انجينري يو غير اخلاقي عمل دی.

۴۱. نظامي اقدامات کولی شي بين المللي ترهګرۍ کمزورې کړي.

۴۲. د ختيځې اروپا ملتونه بايد د لويديز تر نفوذ لاندې رانه شي او کولی شي خپل فرهنګ ته پراختيا ورکړي.

۴۳. انسانيت د کره علومو په پرتله مهم دی.

۴۴. دولتونه بايد د خپلو هېوادوالو له هوساينې او آرامتيا څخه ساتنه وکړي.

### د پارلماني مناظرو د موضوع‌ګانو لړليک:

۱. دغه خونه د سولې ټينګښت له‌پاره له نظامي ځواکونو څخه استفاده کوي.

۲. دغه خونه د اصلي لړکيو له ترجيح څخه ملاتړ کوي.

۳. دغه خونه به د بيان آزادي محدوده کړي.

۴. دغه خونه له درد پرته/ آسانه مرګ څخه ملاتړ کوي.

۵. دغه خونه په نه تاوتريخوالي باور لري.

۶. دغه خونه د چاپيريال ساتنې په نوم اقتصادي وده قرباني کوي.

۷. دغه خونه فکر کوي چې د ودې په حال کې ملتونه ځواکمنې بې واکۍ ته اړتيا لري.

۸. دغه خونه د هېوادپالنې پر وړاندې مجادله کوي.

۹. دغه خونه فکر کوي چې مليت پالنه يو ښه عمل دی.

۱۰. دغه خونه له پرانيستو پولو ملاتړ کوي.

۱۱. دغه خونه فکر کوي چې دبنستټپالنې تر پوښښ لاندې ملاتړ باید سرغړونه ونه ګڼل شي.

۱۲. دغه خونه له اشد مجازاتو څخه ملاتړ کوي.

**په معما لوبه کې د شاملو موضوع‌ګانو لړلیک:**

۱. ځوانان د سوداګرۍ ماشین ګڼل کېږي.

۲. « ما ته ژوند مه رازده کوئ ـ بلکې له ماسره له مالي اړخه لاښه مرسته وکړئ»

۳. آیا دولت باید له لږکیو ملاتړ وکړي؟

٤. فارغانو څخه د ملاتړ په برخه کې څه شي کولی شو؟

٥. « د ملت سلامتیا تر کومه بریده ارزښت لري؟»

٦. د لاسرسي وړ اپارتمان د پرمختیا لیدلوری ګڼل کېږي.

۷. « د زده‌کړې هیله مه‌کوئ، د واده هیله ولرئ»

۸. « زه د یو مسلک خاوند شوی یم، ماته یوازې تدریس راکړئ».

۹. د لوړو زده‌کړو مضاعف سیستم د تأیید وړ دی.

۱۰. آیا خصوصي ښوونځیو ته اړتیا شته؟

۱۱. له لېرې لارې زده‌کړې یوه معاصره ستونزه ده.

۱۲. ټولنیز کارکوونکي معاصر شیطانان دي.

۱۳. مډرن ټلویزیونونه غیر اخلاقي دي.

۱٤. « زما ژبه زما ملګرې ده»

۱٥. « راځئ دوستانه ژوند وکړو!»

۱٦. « آیا ځوانان باید تل د سړک پر سر وي؟»

۱۷. دغه مسأله د تأیید وړ ده چې د بیان آزادي د ټولنیز خوندیتوب له‌پاره محدودېږي.

۱۸. د سلیم عقل په سالم بدن کې وي.

زده کوونکی یو لوبې نه دی څو د دغه څراغ پر مټ ډک شي چې روښنایي ته اړتیا لري.

« زموږ او ستاسو د ټولو وینه یو رنګ لری!»

## دویمه ضمیمه

### ۱. د مناظرې بین المللي بنسټونه:

**په انګلیسي ژبه د خبرو اتحادیه یا (ESU):**

دغه اتحادیه یو بین المللي روزنیز خیریه بنسټ دی چې په ۱۹۱۸ کال کې د مشهور خبریال ښاغلي رانچ لهخوا تأسیس شوی دی. د یادې اتحادیې عمده هدف دا دی چې د مفاهمې/ اړیکو د واحدو مهارتونو رامنځته کولو له لارې د بېلابېلو ژبو او فرهنګونو خلک له یوبل سره یو موټي او متحد کړي. دغه سازمان په انګلستان هېواد کې ۴۰ څانګې او د نړۍ په بېلابېلو برخو کې له ۵۰ زیات پرانستې دفترونه لري چې مرکزي دفتر یې د انګلسان هېواد په لندن ښار کې دی. په انګلسي ژبه د خبرو اتحادیې یا (ESU) د مناظرې او عامه وینا په برخه کې بېلابېل روزنیز پروګرامونه ترسره کړي او د نظریو د تبادلې، سیمینارونو او روزنې په برخه کې یې بېلابېل پروګرامونه جوړ کړي دي. په همدې ترتیب سره یې له انګلیسي ژبې څخه د اغېزناکې استفادې لهپاره د نړۍ په بېلابېلو برخو کې مالي مرستې چمتو کړې.

په انګلسي ژبه د خبرو اتحادیه یا (ESU) په نړیوالو سازمانونو کې د مناظرې اتلولۍ ټورنمنټونو د وړاندې کولو په برخه کې زیات شهرت لري. د بېلګې په ډول، په ۱۹٦۲ کال کې یې د جان سمیت د خاطرو یاد لهپاره د محصلانو کلنۍ ټورنمنټ جوړ کړ چې د انګلستان پارلماني مناظرې په چوکاټ کې د انګلستان، سکاټلند، ایرلند او ویلز پوهنتونو ترمنځ ترسره شو. په همدې ترتیب په انګلسي ژبه د خبرو اتحادیه یا (ESU) په ۱۹۹۹ کال کې د بین المللي ښوونځیو د اتلولۍ یو تورنمنټ جوړ او د بین الملي ښوونخیو د مناظرۍ اتلولۍ په نوم ونومول شو، چې د لومړی ځل لهپاره د انګلستان په لندن ښار کې ترسره شو. په مهربانۍ سره(***http://www.esu.org/***) لینک وګورئ.

**د امریکا متحده ایالتونو د پارلماني مناظرو ټولنه یا (APDA):**

دغه ټولنه د امریکا متحده ایالتونو په تاریخ کې د پوهنتونونو ترمنځ د پارلماني مناظرو ترسره کولو لومړنۍ ټولنه پېژندل کېږي چې له ۱۹۸۱ کال راهیسې د یاد هېواد پارلمارني مناظرو ټولنې یا (APDA) د یو زیات شمېر اتلولیو او ټورنمنټونو کوربه دی او د ملي اتلولیو په شمول یې د امریکا متحده ایالتونو پارلمارني مناظرو په چوکاټ کې له ۴۰ څخه زیات د مناظرو ټورنمنټونه د تمویل کړي دي. په همدې ترتیب د امریکا متحده ایالتونو پارلمارني مناظرو ټولنې یا (APDA) د شمالي امریکا د مناظرو د اتلولۍ تورنمټونه یا (NADC) او د کاناډا پوهنتونونو ټولنې د کالجونو ترمنځ د مناظرو ترسره کول یا (CUSID) یې هم اداره کړي دي.

د امریکا متحده ایالتونو پارلمارني مناظرو ټولنې یا (APDA) د نړۍ په کچه د ۴۲ پوهنتونو د مناظرو کلپونه سره یو ځای کړي او د هغوي په ګډون سره د اتلولۍ کلني او اوونیز تورنمنټونه جوړوي. یاده ټوله کې د امریکایي پوهتون د مناظرې ټولنه، د ډیوک مناظره، هاملتن کالج، د پارلماني مناظرو او ویناوو ټولنه، هاروارده پوهنتون او بالاخره د ییل (Yale) مناظرې ټولنه شامله ده.

په مهربانۍ د (*http://www.apdaweb.org/*) لینک وګورئ.

**د متقابل آزمايښت مناظرې ټولنه یا (CEDA):**

دغه ټولنه په ۱۹۷۱ کال تأسیس شوې چې د امریکا متحده ایالتونو د پوهنتونونو ترمنځ د علمي او اکاډمیکو مناظرو د ترسره کولو او لوړاوی یو رهبري کوونکی سازمان ګڼل کېږي. یاده ټولنه هر کال د هېواد په کچه له ۶۰ زیات ټورنمنټونه جوړوي چې په هغو کې د ملي اتلولۍ تورنمنټ هم شامل دی او له ۱۷۵ څخه زیات انفرادي ټیمونه لري.

د متقابل آزمايښت مناظرې ټولنه یا (CEDA) د امریکا متحده ایالتونو پارلماني مناظر ټولنې یا(APDA) ره د ملي اتلولیو جوړونې په کمېټه کې غړیتوب لري او د پام وړ موضوع ګانو لهپاره لوبې او د تورنمنت قواعد مشخصوي. د متقابل آزمايښت مناظرې ټولنه یا (CEDA)له ۱۹۸٦ کال راهیسي یو زیات شمېر تورنمنټونه جوړ کړي. د ۲۰۱۳ کال اتلولي د ایمپوریا دولتي پوهنتون ټیم ترلاسه کړه. په مهربانۍ سره د (*http://www.cedadebate.org/*) لینک وګورئ.

**د کالجونو ترمنځ د مناظرو ترسره کولو لهپاره د کاناډا پوهنتونو ټولنه یا (CUSID):**

د کالجونو ترمنځ د مناظرو ترسره کولو لهپاره د کاناډايي پوهنتونونو ټولنه یا (CUSID) د امریکا متخده ایالتونو د پارلماني مناظرو ټولنې یا (APDA)سره په ګډه د کاناډا په کچه د پوهنتونو او کالجونو د ټولو تورنمنیټونو لهپاره د پام وړ موضوعګانو او چوکاټونو ته پراختیا ورکوي او هغه پلي کوي. په ۱۹۷۷ کال کې یاد سازمان په رسمي توګه راجستر او په ۱۹۷۸ کال کې یې لومړی تورنمنټ ترسره کړ. د کالجونو ترمنځ د مناظرو ترسره کولو لهپاره د کاناډا پوهنتونونو ټولنې یا (CUSID) تورنمنټونه د کاناډا په سترو پوهنتونونو کې ترسره کېږي لکه د تورانتو، مک ګیل، لویدز آنتاریوی او کوئین پوهنتونونه.

د دغې ټولنې یوه عمده دنده د یاد سازمان د غړیو ترمنځ د اړیکو ټینګښت او ساتل دی. د دغه هدف لهپاره یې په ۱۹۹۴ کال یو آنلاین پلاتفورم جوړ کړ چې د "CUSIDnet " په نوم یادېږي. دا د نړۍ په کچه لومړنی آنلاین پلاتفورم دی چې د هېواد په کچه درې ځانګې لري چې له مرکزي، لویدیزو او خیتځو هغو څخه عبارت دي.

په مهربانۍ سره د (*http://www.cusid.ca/*) وګورئ!

**د پارلماني مناظرو ملي ټولنه یا (NPDA):**

دا په واقعیت کې ډېر ځوان سازمان دی خو په عین حال کې د امریکا متحده ایالتونو د پارلماني مناظرو له ټولنې وروسته په یاد هېواد کې د مناظرو تر ټولو لویه ټولنه ګڼل کېږي چې له ۱۹۹۴ کال راهیسې یې په دې توانیدلې څو کلنې تورنمنټونه جوړ کړي چې د مارچ میاشتې په وروستیو او د اپریل میاشتې په لومړیو کې ترسره کېږي ( دا په هغه هېواد پورې تړاو لري چې تورنمنټ په کې جوړېږي) تر اوسه له ۳۰۰ څخه زیات ټیمونه حاضر شوي چې په دغه تورنمنټ کې ګډون وکړي. په ۲۰۱۳ کال کې د تورنمنټ اتلولي د کالج ویتمن ټیم وګټله.

په مهربانۍ سره (*http://www.parlidebate.org/*) لینک وګورئ.

**دریمه ضمیمه**

**د مناظرې ترسره کولو بین المللي تورنمنټونه:**

**د مناظرې هر چوکاټ په ځان پورې منحصرې کلمې، یو مسوول کس، د تنظیم کمېټه او په همدې توگه د تورنمنټونو په چوکاټ کې د سیالۍ لپاره مناسبه فضاء لري. تورنمنټونه کیدی شي ملي وي چې په هغو کې مناظره کوونکي د هېواد له بېلابېلو برخو څخه راټولېږي او هم کیدی شي چې بین المللي وي او د نړۍ له بېلابېلو برخو څخه ټیمونه پهکې برخه واخلي.**

په دې برخه کې د مناظر د مشهور تورنمنټونو لړلیک وړاندې کېږي:

**د کارل پاپر مناظرې چوکاټ:**

١. **د اس ټي پیټرزبرگ مناظرې جشنواره:**د مناظرې له هغې جشنوارې څخه عبارت ده چې له ۲۰۰٦ کال راهیسي د ښوونځیو زده‌کوونکیو ته د بین المللي ښوونځیو د مناظرې په چوکاټ کې ترسره کېږي. د یاد تورنمنټ تنظیمیوونکی د بین المللي مناظرو ټولنې روسۍ څانگه یا (IDEA) ده. دغه تورنمنټ په روسۍ ژبه ترسره کېږي. د مناظرې په اړه اوومه جشنواره په ۲۰۰۳ کال کې ترسره شوه.

په مهربانۍ سره د (http://ru.idebate.org/festivalspb) لینک وگورئ.

**په انگلستان کې پارلماني مناظرې:**

٢. **د اروپایي پوهنتون د مناظرې اتلولي یا (EUDC):** د اروپایي پوهنتونونو لپاره د محصلانو له تورنمنټ څخه عبارت ده چې د انگلستان پارلماني مناظرې په چوکاټ کې په انگلیسي ژبه ترسره کېږي. د منځنې ختیځ او مرکزي آسیا منتخب پوهنتونونه هم کولی شي په یاد تورنمنټ کې گډون وکړي. د تورنمنټ جوړونکې د اروپایي پوهنتون د مناظرې اتلولي یا (EUDC) شورا ده چې په ۱۹۹۹ کال کې یې د هالند په روتردام ښار کې د لومړني تورنمنټ د انتظام پر مټ بنسټ کېښودل شو. د جوړیدو موقعیت یې د کلنۍ اتلولۍ په پام کې نیولو سره بدلېږي. د دغې مناظري اتلولي په ۲۰۱۳ کال کې په انگلستان کې ترسره شوه.

په مهربانۍ سره (*http://www.debate-motions.info/*) لینک وگورئ.

۳. **اس پی بی یا ( SPB ) مناظره:** د محصلانو مناظرې له تورنمنټ څخه عبارت ده چې ترسره کوونکی يې د اس تي پيترزبرگ يا (SPSU) دولتي پوهنتون کلپ دی. د ياد کلپ تورنمنټ په انگليسي ژبه ترسره کېږي او د مناظرو ترسره کولو بين المللي تورنمنټونو په کټگورۍ کې شامل دی. د مناظرې تورنمنټ په ۲۰۱۳ کال کې د روسيې په اس تي پيترزبرگ ښار کې ترسره شو.

په مهربانۍ سره (/https://www.facebook.com/events/۱۹۴۵۸۳۹۳۴۰۱٦۸۵٦: **https://www.facebook.com/events/**) لينک وگورئ.

٤. کپ کولتيجن: د آزادې مناظرې له يو تورنمنټ څخه عبارت دی چې ترسره کوونکی يې د قزاقستان هېواد د « پراسات مناظر کلپ» دی. دغه آزاد تورنمنټ په روسی ژبه ترسره کېږي او دروازې يې د ټولگټو او بالتيک حوزې هېوادونو د گډونوالو پر مخ خلاصې دي. د آزادې مناظرې تورنمنټ په ۲۰۱۳ کال د قزاقستان هېواد په آستانه ښار کې ترسره شوی وو.

په مهربانۍ سره (**http://vk.com/kultegin**۲۰۱۳) لينک وگورئ!

۵. د محصلانو لهپاره بين المللي آزاد تورنمنټ "**MOST BSU**-۲۰۱۳": له هغه تورنمنټ څخه عبارت دی چې په روسی ژبه د انگلستان پارلماني مناظرو په چوکات کې ترسره کېږي. ياد تورنمنټ د " **Noviy klub obsheniya**" شرکت لهخوا تنظيمېږي. د دغه تورنمنټ دروزاې د ټولگټو هېوادونو د گډونوالو پر مخ پرانستې دي. د محصلانو تورنمنټ په ۲۰۱۳ کال د بېلاروس يا سپينې روسيې په منسک ښار کې د بېلاروس په دولتي پوهنتون کې جوړ شوی وو.

په مهربانۍ سره (**http://vk.com/most_bsu**) لينک وگورئ.

**د امريکا متحده ايالتونو پارلماني مناظرې:**

۱. د شمالي امريکا د مناظرې اتلولۍ يا (**NADC**): د بين المللي پوهنتونو له تورنمنټ څخه عبارت دی چې د امريکا متحده ايالتونو پارلماني مناظرو په چوکاټ کې ترسره کېږي. دغه تورنمنټ له۱۹۹۱ کال راهيسې په انگليسي ژبه ترسره کېږي. د دغې اتلولۍ ترسره کوونکي د امريکا او کاناډا د مناظرو ټولنې دي. د اتلولۍ دغه تورنمنټ کلنۍ ترسره کيدو موقعيت عموماً بدلېږي. د اتلولۍ مناظره په ۲۰۱۳ کال د امريکا په نيويارک ښار کې ترسره شوه.

په مهربانۍ سره (**http://en.wikipedia.org/wiki/North_American_Debating_Championship**) لينک وگورئ.

۲. آسيايی اتحادیې مناظرې اتلولي يا (**AUDC**): د آسيايي پوهنتونونو ترمنځ له اتلوليو څخه عبارت ده چې له ۲۰۰۵ کال راهيسي په انگليسي ژبه ترسره کېږي. د دغه ډول تورنمنټونو چوکاټ عموماً د امريکا

متحده ایالتونو د پارلماني مناظرو قالب وي. ترسره کوونکې یې ذ آسیایی اتحادیې مناظرې اتلولي یا (AUDC) شورا ده. د دغو اتلولۍ کلنۍ ترسره کیدنې ځای عموماً بدلېږي. د مناظرې اتلولۍ په ۲۰۱۳ کال کې د فلپین هېواد په کویزن ښار کې ترسره شوې وې.

په مهربانۍ سره (۳.org/node/۲۰۱۲http://mmuuadc) لینک وګورئ.

۳. قراقستان هېواد د سوداګرۍ بین الملي اکاډمۍ مناظره یا (IAB): کپ د څلورو اصولو لهپاره دی. د مرکزي اسیا د مناظرې یو ستر تورنمنټ دی چې له ۲۰۰۹ کال راهیسي ترسره کېږي. چې ترسره کوونکې یې د قراقستان هېواد د سوداګرۍ بین الملي اکاډمۍ یا (IAB) شورا ده. دغه تورنمنټ نه یوازې دا چې د امریکا متخده ایالتونو، بلکې د انګلستان د پارلماني مناظرو په چوکاټ کې هم ترسره کېږي. دغه تورنمنټونه په روسیه کې په انګلیسي او قزاقي ژبو ترسره کېږي. د مناظرې تورنمنټ په ۲۰۱۰۳ کال کې د قزاقستان په الماتای ښار کې ترسره شو.

په مهربانۍ (/۴۹۹۵۰http://ru.idebate.org/events) لینک وګورئ.

**د معما لوبه:**

۱. د "معما" بحثونو د کلپونو په اړه جمهوریت غوښتوونکیو اجماع: د جمهوریت غوښتوونکیو له کلنیو تورنمنټونو څخه عبارت ده چې له ۲۰۰۸ کال راهیسي عمومیت لري. عمده ترسره کوونکې یې د« کیلاجک اووزی» ځوانانو نوښت مرکز او د ازبکستان د فرهنګ او هنر بنسټ اجماع څخه عبارت دي. د معما لوبې په چوکاټ وروستی تورنمنټ په ۲۰۱۲ کال کې د ازبکستان او روسیې هېوادونو کې په انګلسي ژبه ترسره شو. د جمهوریت غوښتوونکي شپږمه اجماع په ۲۰۱۲ کال کې ترسره شوه.

په مهربانۍ سره (www.dilemma.uz) لینک وګورئ

۲. والیکپ یا (Valley Cup): د معما لوبې په اړه له یو آزاد حوزوي تورنمنټ څخه عبارت دی چې د اندیجان، نمنګان او قریګانا حوزو د ځوانانو نوښتونو مرکز « کیلاجک اووزی» د څانګو لهخوا ترسره کېږي. د دغه تورنمنټ د ترسره کیدو مفکوره په ۲۰۱۰ کال کې د معما لوبې د ګډونوالو ترمنځ رامنځه شوه چې په خپل نوښت یې دوه نور تورنمنټونه په ۲۰۱۰ کال کې په ازبکي، روسۍ او انګلیسي ژبو د انګلستان په اندیجان ښار کې ترسره کړي وو.

په مهربانۍ سره (www.dilemma.uz) لینک ته مراجعه وکړئ.

## څلورمه ضمیمه

**د مناظرو ترسره کوونکي اکاډمۍ او ښوونځي:**

۱. **کپ ژالجیریس، د بین المللی مناظرو روزنیزه ټولنه یا (IDEA)**: د مناظرې له یوې اکاډمۍ څخه عبارت ده چې له ۲۰۱۰ کال راهیسي د بین المللي مناظرو روزنیزې ټولنې له‌خوا تنظیمېږي. د مناظرې په اکاډمۍ کې زده‌کوونکي هم شاملېږي. په بین المللي ښوونځیو کې د انګلستان پارلماني مناظرو په چوکاټ کې د قضاوت‌کوونکیو او استادانو له‌پاره تورنمنټونه او سیمینارونه جوړېږي. دغه سیمینارونه او تورتمنټونه په روسی ژبه وي چې په ۲۰۱۳ کال کې د لیتوانیا په ویلنیوس ښار کې ترسره شو.

په مهربانۍ سره (*http://vk.com/ideazalgiris*) لینک وګورئ.

۲. **د "معما" بحثونو د ښوونځیو کلپونه**: له هغو موسمي ښوونځیو څخه عبارت دي چې له ۲۰۰۹ کال راهیسي ترسره کېږي. تنظیموونکي یې د «کیلاجک اووزی» په نوم د ځوانانو نوښتونو مرکز دی. د ښوونځي په پروګرام کې د « معما» په چوکاټ کې دګېونوالو، کارپوهانو او مناظره کوونکیو د روزنیزو فرصتونو برابرول شامل دي، روزنیزه ژبه او تورنمنټونه یې په ازبکي، روسی او انګلیسي دي. د اوړي ښوونځي په ۲۰۱۲ کال کې د « کیلاجک اووزي ـ ۲۰۱۲» روزنیز کمپ په چوکاټ کې د ازبکستان هېواد په کاشکا دریا حوزه کې ترسره شوی وو.

۳. په مهربانۍ سره (*www.kelajakovozi.uz*) لینک وګورئ.

٤. فوق العاده ویناوې( پخوانۍ و اوسنۍ):



د سقراط وروستۍ وینا:

فلسفی، اجنیلي بحثونه[1]:

انیت ـ یو یوناني بډای، د سترې چرمګرۍ کارخانې مالك او له هغو ډیموکراټانو څخه وو چې له میلاد څخه ۴۰۱ کال مخکې کې یې د (Thirty Tyrants) له سلطې څخه د آتن په آزادولو کې ونډه ترلوده.

میلیت ـ یو یوناني مداح او د مشهور شاعر میلیوتس پتفا زوی وو چې سقراط یې محکمې ته راکش کړ او د هغه پر وړاندې یې قسم یاد کړ.

لیکون –یو یونانی ویناوال وو.

سقراط ـ د سوفرونیسکوس الوپیکی او فیناریتی زوی وو.

د آتن محکمه ـ ۳۹۹ کله له میلاد مخکې

انیت: سقراط! ستا ګناه ښکاره ده او منصفه پلاوی دې پایلې ته رسیدلی چې تاسو محکمه کړي. تاسو د خپلو ویناوو له امله د خلکو د فاسدیدو او خدایانو د تزلزل لامل شوی یاست. هغه خدایان چې قوانین یې د دغه ښار د ویاړ لامل شوي دي.

میلیت: تاسو سقراط نه یوازې دا چې په خدایانو عقیده نه‌لرئ، بلکې خلك مو په فساد اخته کړي او بې لارې کړي مو دي او په عقایدو کې مو یې شک او تردید رامنځته کړی دی.

لینکون: آیا کولی شئ قاضي ( د ښار تر ټولو واک لروونکی استازی) او درنو او عدالت غوښوونکیو خلکو ته د ځان په اړه څه وواياست؟

سقراط: په څرګنده توګه لیدل کېږي چې یو شمېر پوهانو له مانه زده کړې کړې او دا په واقعیت سره احمقانه ده چې زه ستاسو پر وړاندې ولاړ یم.

---

[1] *© Copyright: Агнелий, ٢٠٠٦ г. Афины. ٣٩٩ год до нашей эры. Херсонес Таврический. ٢٠٠٦ год. Интернет –источник: www.proza.ru/٢٠٠٦/٠٣/٠٨-٥١/*

انیت: سقراط! تاسو پوهېږئ چې مؤلف میلیت ستاسو پر وړاندې دوسیه چمتو کړې او وادې وریدل چې هغه په دې اړه یې قسم یاد کړ.

سقراط: د پولیکرات ـ سوفیست وینا چې په دې اړه یې لیکلې! زه له چا سره ملاقات کووم، له عالیقدر انیتا سره ، دغه روزونکي د پولیکرات په توګه دی. ما په آزاده توګه له خلکو سره خبرې کړې خو هغه چېرې دی؟ هغه دلته نشته؟ آیا زما غږ اورئ؟

ملیت: ښه سقراط !موږ تاسو ته غوږ نیولی.

سقراط : غواړم تاسو ته د پوهې (episteme) په اړه ووایم نه دا چې ستاسو مفکوره (doxa alethes) له پامه وغورځووم.

میلیت: موږ په دې اړه په استدلال سره ما مه بې لارې کوه.

**سقراط:** زه یو سوفیست نه‌یم څو ستاسو د افکارو تسلسل اخلال کړم، البته نتیجه ګیري د عجیبو کلمو په رامنځته کولو سره کېږي چې حتی کیدی شي یوه ورځ په یوه توره او ظلمت شپې بدله کړي، د هغو تدریس د لیرناین هایدروا او هراکلس په څېر د هغه د سر پرې کیدو لامل شول او له هغه څخه دوو نویو فکرونو سر راپورته کړ، هغوی ورسره ډېر خبرې ونه‌کړې او ځانونه یې هوښیار او سم وښودل.

ما هڅه کړې چې د هغوی له ملګرو سره عاقلانه او نیک چلند ولرم. څو زما پوهښتنو ته په ځواب ورکولو سره پوهه ترلاسه کړي

او ملیت! ستا وینا، موږ به وګورو چې یوازې د وخت ډېره به ستاسو پر سر وټکول شي. هغه څه چې د هیرکولس هایدرا پر وړاندې ترسره شول. خو زه ګورم چې یو زیات شمېر استازي او غلي ناست شیطانان د دې لامل شوي چې تاسو ما محکمې ته راکش کړئ. زه د تلو له‌پاره کم وخت لرم. زما غږ واورئ. ما تل ویلي ....

**میلیت:** تاسو روزل شوې یاست، سقراط!

**سقراط:** نه، ښاغلی میلیت! ما هڅه کړې چې د هغوی له ملګرو سره عاقلانه او نیک چلند ولرم. څو زما پوښتنو ته په ځواب ورکولو سره پوهه ترلاسه کړي. او ما له خپلو یو زیت شمېر ملګرو څخه چې بحثونه رهبري کوي، زده کړي. آیا کولی شئ پر هغوی هم قضاوت وکړئ.

**میلیت:** خبر واوسئ

سقراط: ښاغلی ملګریه! هڅه به وکړم، خو فکر کووم چې زما ټول عمر له تاسو مخکې د هغه د توجیه لهپاره کافی نهدی. په ماشومتوب کې مې داسې غږ واورید چې کله به مې ناسمه لار خپله کړه، وبه یې ودرولم. هغه زما پر وړاندې ډېره مهرباني او شرافت کاوو. ماته یې نه ویل چې په ژوند کې څه باید وکړم ، بلکې یوازې یې خبرداری راکاوو.

**میلیت:** او دا یو خدایی غږ وو؟

سقراط: زه د پایتیا کاتب نهیم چې تاسو ته ووایم چې د پوهې او عقل لهپاره د چا غږ رهبري کوولم. نه یوازې عام خلک بلکې د دلفي معبد زه د بشر تر ټولو پوه کس ګڼلی یم او وایي چې هغه له روزنې سره ډېره مینه لري. او ما ته د اوپولو حیثیت لري ـ آیا په نړۍ کې داسې څوک شته چې د سقراط په پرتله ډېره پوهه ولري؟ تاسو ټول د معبد د پوښتنې ځواب لرئ؟ زه د هغه په څېر له معماوو ډک یم.

**دیتي وویل ـ** عالم سوفوکالي له نورو پوه دی، خو سقراط د نړۍ له ټولو انسانانو هوښیار دی. زه څنګه د یو ناپوه او نالوستي کس په توګه په دې وتوانیږم چې دغه کلمې درک کړم؟ ما فکر وکړ ـ ښایي خدای په دې اړه سم نه وي ویلي او زه به وکولی شم هغه ته قناعت ورکړم چې دلته نور انسانان هم شته چې د دغو کلمو مستحق دي. دغه پوښتنې او ځوابونه د هغه څه لهپاره دلیل دی چې نن ورځ زه تاسو مخکې دلته قرار لرم. اهه، آیا زه اړ نه ووم څو د معقولو دلایلو په اړه څېړنه او هڅه وکړم څو په ساده توګه په دغه تعقل باندې پوه شم! دا ستاسو ګناه نهده چې زه مو ملامتووم، بلکې ګناه زما ده. زه اړ نه ووم چې د نه انکار وړ څیزونو په اړه بحث وکړم. زه د مرسیا په څېر یم! کله چې یوه د نه انکار وړ پدیده موږ ته ښه یا بد راسپاري، موږ اړ یو چې هغه په درناوي سره ومنو. په دې اړه بحث چې کوم شی ښه او عالی دی، ستاسو کومه ډالۍ به ما هغه ته لا ور نېږدې کړي.

**میلیت:** تاسو غواړئ ووایئ چې بد غوراوی له وړې پاتې کیدو څخه ښه دی؟ او تاسو دغه لار غوره کړې ده؟

**سقراط:** نه، میلیت! زه غواړم ستاسو د درک په اړه اعتراض وکړم، ستاسو استادان په دغه تعقل کې بریالي شوي. ما خپل عقل درک کړی چې پایتیا ته یې وویل چې زه د پوهې ترلاسه کولو په هڅه کې یم، ځکه چې له هغه پرته په څه نه پوهېږم، خو اوس ډېره ناوخته ده.

**ليکون:** سقراط! څنګه ياست، د تعقل په تمه ياست که څنګه؟!

**سقراط:** ما په خپلو کلمو کې تېروتنه ونه مونده، ليکون! زه ستاسو په څېر يو عام خوښې ويناوال نه‌يم او تاسو ته مې وينا نه ده چمتو کړې، حتی د ليزايم له‌خوا هم ما ته ليکل شوې ده.

**ميليت:** زه مو په اړه د تعامل او کړنو په پام کې نيولو سره قضاوت کووم، د هغو کلمو پر بنسټ چې تاسو يې دلته څرګندوئ.

**سقراط:** خو ما خدايي خبرې ( لوګوس) وکړې، يوازې مې له ( ريما) کلمې څخه استفاده نه ده کړې، خو زه به اوسمهال د دغه ښار له‌پاره له اسراره ډک شعار په څېر ( د غږ نابغه) نه ووم؟

**ميليت:** موږ د څه ډول اسرار په اړه خبرې کوو؟

**سقراط:** په مهربانۍ سره ماته غوږ ونيسئ، ښاغلی شاعر! تاسو ما د دې له‌پاره محاکمه کوئ چې زه ځان ته يو څوک وايم او ډېرې تجربې مې ترلاسه کړي دي.، خو آيا عاقل تاسو ياست؟ او ستاسو پوهه د باثباته او يو موټي نړۍ په اړه حقيقت لري. زه د مصر د خدای له‌پاره چې نيمايي خلک او پروتيوس يې په اړه فکر کوي او هغه درک کوي.. تاسو پر هغه څه چې غواړئ ما ته ثابت کړئ،نه پوهېږئ؟ د شپې په تياره کې تاسو له يوې ورځې څخه روښانه ياست. که چېرې تاسو په تيارې کې واوسئ، غواړئ ما، زما ژوند او کړنې څنګه ووينئ؟ خو ستاسو له‌پاره زه د شپې کلمه لرم او تاترتاروس. تاسو د ژېوسد لور اولادونه پيژنئ. چې نومونه يې تر خدايه رسېږي ( تيوس نيوسيس)، زه د سوفرونيسکوس الوپيکي په نوم د ساده معمار او مجسمه جوړونکي زوی يم. د يو ماشوم په توګه چې په غرونو کې را لوی شوی يم، تل مې ډېر کندې او سمڅې ليدلي، هلته مو له سرګردانيو او سر خوږيو سروکار وو او ديوالونه په نمجن قشر باندې پوښل شوي وو. ځينې وختونه مې د ويرې احساس کاوو، ځکه چې هغوی ته د ورځې رڼا له لارې نېږدې کيدم او ما په توره تېره کې خزانه ونه ليده. سړه او کردجنه هوا به مې په مخ لګيده. خو پلار مې په سمڅو کې د پام وړ ډېرې موندلې چې په ځمکه کې به پټې وې. هغه ماته يوه ساده لوبه رازده کړې وه. له همدې امله زه تر ځمکې لاندې تيارو څخه نه ويريدم. خو ټولې هغه مې په پام کې نيولې. پلار مې راته ويلي وو چې د سيورې پر وړاندې دې سترګې پټې کړه او د ديوال کيفيت په اړېکې سره درک کړه. او که سترګې دې تر ښو لاندې پټې وي او د لمر وړانګو پر وړاندې ويودې وي، هغه پرانيزه نو پوهېږې هغه څه چې وينې له سترګو دې پټ وو. يوه رڼا ورځ او د شپې تياره. او زه غواړم له تاسو وپوښتم چې آيا هڅه مو کړې هغه څه چې پټ څېزونه ور باندې نه پوهېږې، ووينې؟ د ورځې په ترڅ کې تيارو سمڅو ته تګ به تاسو په پرانستو سترګو ووياړئ، ځکه تاسو ځان مخکښ

ګنئ او په همدې ترتیب عاقل. زه د هغه پټ درک پرمټ چې لرم یې پوهېږم او هغه د تل لهپاره هغه وتاړه، په تیارو کې هغه ورک شو او لاړ. له هغه وروسته یې خپلې سترګې پرانستې او هغه څه یې ولیدل چې ما ته له مخکې نا آشنا وو.

**لیکون:** تاسو په دې اړه خبرې کوئ چې باید تشوالی مو درک کړو.

**سقراط:** نه؛ او تاسو به ونه توانېږئ چې په خپله ووایئ چې څه ته اړتیا لري، له همدې امله تاسو او هغه تش دی، نو وبه نتوانېږئ چې هغه ډک کړئ.

**لینکون:** آیا رښتیا تاسو په تیارې کې یاست؟

**سقراط:** جالب کم عقلان به زما خبره ناسمه ګڼي او هغوی به خوشاله وي. له ټولو وروسته هغوی کولی شي د هغو د ښیګڼو په اړه پرېکړه وکړي.

**لینکون:** تاسو د پروتاګوراس په اړه خبرې کوئ؟ له ټولو وروسته هغه وویل، یو نارینه ـ د هر څه پیمانه ده.

**سقراط:** نارینه په رښتیا سره د هر څه پیمانه ده، خو په هغه صورت کې چې د مشهور (لوګوس) له فکري پانګې څخه برخمن وي چې انسان (جسم او صورت) هغه د واقعي وجود په توګه پیدا کړی ( سوماتا تیس اویسیاس) چې د ماهیت له اړخه ډېر ټولیز او جامع دی. ټوله تقوا او ښه څیزونه د انقضاء نېټه لري ( اپوروي)، لکه د څمکې کرې د وړانګو تېریدل. او وړانګې یو بشپړې ښې درلودونکې شعاع سره راځي ( کرې) او هغه د څمکې دننه په شکل او لوګو سره لېږدوي، د هغې پیمانې وړاندې کوونکې ده چې هغه ته لوړوالی ورکوي.

**میلیت:** سقراط! آیا تاسو په دا ډول استدلالونو سره خپل سر نه خوږئ؟

**سقراط:** ښایي مګر ستاسو په ژور درک او تعقل سره.

**انیت:** که وغواړې د تعقل په اړه درته درس درکووم!

**سقراط:** او یا کم له کمه به داسې ښکاره کړئ چې د عقل غوندې ښکاره شي.

**لیکون:** ستا په نظر تعقل څه شی دی؟

سقراط: ما مخکې په دې اړه وويل، خو تا زورواکي ليکون ته يې تکراروم. تعقل د انتضاء( تأييد) حقيقي بڼې، روح او منطقي تفکر څخه عبارت دی چې د يو کس لهخوا درک کېږي. دا په واقعيت کې يو له مفهومه ډکه پوهه او د يو کس د تفکر د يوې برخې درک دی.

**ميليت:** تياره ستاسو خبرې دي!

**سقراط:** ميليت! آيا باور لرې چې هغه ښکلا ښايي يوه له دغو څخه وي؟

**ميليت:** په احتمالي توگه دا د (يوپوتيزس) بنسټ ته راگرځي، هغه کلمه چې تاسو درک کړې څه ده؟

**سقراط:** ډېر ښه او له مهربانۍ ډک

**ميليت:** خو يو غله او قطاع الطريق ته د هغو وژل داسې دی چې مناسب کار وي.

**سقراط:** ميليت! آيا باور لرئ چې تل پاتې خدايانو موږ ته ژوند راکړی؟ او خدايان له ښيگڼو ډک دي.

**ميليت:** هو.

**سقراط:** او ژوند ښه دی؟

**ميليت:** شک نشته.

**سقراط:** او په خپل ذات کې ښه دی؟

**ميليت:** هو.

**سقراط:** خو د بل چا ژوند اخېستل يو نامناسب کار دی کنه؟ حتی که د گټې لهپاره وي.

**ميليت:** هو، سقراط.

**سقراط:** نو ـ ژوند هر څه دی ( تواولون) او په خپل ذات کې يوه ستره ډالۍ ده. خو ولې ډېره معموله ده چې خلک د هغه په قدر نه پوهېږي؟ آيا دليل يې دا دی چې سرچينه يې د ليدو وړ نه ده او موږ ته د خدای له لورې د نه توجيه وړ ډالۍ ده؟ هغه د هغو ذراتو په څېر ده چې د هغو تياره پر ډېرو او شنو نباتاتو باندې د ښکاريدو وړ نهده. او کله چې لمر راوخيژي، د ټولو افکارو په څېر د درک وړ او يا زموږ ته د تر ټولو ښه ليدلوري په توگه د ليدو وړ گرځي. او هرڅوک به وواييي چې حتی يو گل چې ډېر عادي ښکاري، په هغه ساعت کې به فوق العاده وي او د دې ارزښت به ولري چې تر ټولو ښې الهې ته وړاندې شي. او د نه جلا کيدو وړ يو عالي

لیدلوری دی چې زموږ په منځ کې شته ده. یوه ستره نښه ( یو غږ) چې ماته یې څو خله د پوهې ترلاسه کولو لار راښوولې او داسې ښکاري چې زموږ له نړۍ څخه بهر ژوند کوي، یو ښه احساس دی چې سالم تفکر په کې قرار لري( نایس)

**میلیت:** تاسو بیا هم د نوي خدای په اړه خبرې کوئ چې در ته ارزښت لري او یا معقول درته ښکاري. زه د تعقل په اړه درته ویلی شم چې تعقل زموږ لهخوا بلکې نه زموږ د نیکونو لهخوا دی، هغه کسان چې موږ ته د خدایانو پېژندنې او عبادت ور څخه میراث پاتې دی. تاسو خلکو او خدایانو باندې ملنډې وهئ او هغوی احمق گڼۍ. ایا تاسو د هغو څېزونو په اړه خبرې کوئ چې هغه نهشئ لیدی او موږ هغه ډالۍ کوو؟

**سقراط:** زما پوهه راته ډاډ راکوي. ایا تاسو پوهېږئ چې هغه زیاتې کلمې چې د بېلابېلو ملتونو ترمنځ د څیزونو او شاعري په اړه یو گډ قضاوت ته رسیدلي او همدارنگه د خدای په اړه. د ژیوس آمون پر خلاف؟ له همدې امله په المپیا کې د ژیوس آمور په نوم یو برج پورته کېږي. آمون د رب النوع ( آمویون) په توگه  ژیوس ته. نه د هغه د ملنډو ( تقلید) په توگه. او  تاسو پوهېږئ چې خدای  د خپل پیغمبر د مصر آمون له لارې څه وویل، که چېرې د آتن خلکو هغه غوښتی وای، نو ولې هغوی په وچه او اوبو کې له لیسیی دایمونیایانو سره په جگړه کې نه بریالي کیدل. نه له هغه تفکر څخه بهر چې د آتن خلک له پوهاوي او پوهې څخه جلا او د خدای پر وړاندې ژمن وي او هغوی په آرامه عبادت کوونکیو باندې بدل کړئ، په داسې حال کې چې عبادت کوونکي غلي وو او د هغوی دښمنانو خبرې کولې، هیڅکله د هغې په پراخه تنوع کې اخلال او جلاوالی رامنځته نهشو.

**میلیت:** آیا غواړئ ووایئ چې زیات خدایان شته دي؟

**سقراط:** زه په خدایانو باور لرم، میلیت! خو نه وایم چې آیا د ژیوس آمون خوله اوکه د آمون ژیوس خوله

**لیکون:** ډېرې پوهې تا ته څه نه دي در زده کړي!

**سقراط:** دا د ډېر څه په اړه د پوهاوي معنې نه ورکوي، یلکې د دې د پوهاوي لهپاره هڅه ده چې څه شی اصلیت لري ( ایکینو توپروتون) او د ( ایدوس) د حقیقت ظهور ټولې ښې له یوبل سره اړوندې دي اوکیوی).

**میلیت:** ستاسو روحیه د یو ښوونکي په توگه د ستاینې وړ ده.

**سقراط:** زه ښوونکی نه، بلکې یو روزونکی یم.

**میلیت:** راته ووایه چې ولې د ټولگې په اړه د یو جزء په توگه خبرې کوې.

**سقراط:** تاسو په خپله پوهېږئ. د درد او کړاو په اړه همغږي له يو بل سره ترلو څانګو څخه برخمنه ده، خو له بېلابېلو غږونو سره ټول هغه يو بنسټ لري، له همدې امله ښايي هغوی په يوه ټولګه کې رامنځته شوي وي او په دې نړۍ کې ټول نور څېزونه هم همداسې.

**ميليت:** تاسو سقراط غواړئ چې د ښکلا په اړه دلايل راوړئ چې غوږونه او روح آراموي. خو موږ ستاسو په ربښتونولۍ باور نه لرو! آيا هغه څه چې د هنر په توګه ګڼې، د دې لهپاره نه څرګندوئ چې د تتاربښ دښمن شيطاني موخې ته مشروع پوښښ ورکړي؟ آيا دا حقيقت نهلري او تاسو زموږ د ښار لهپاره خطرناک نه ياستئ؟ له ټولو وروسته، تاسو نه شئ کولی حتی په خپل کور کې دغه پوښتنه ځواب کړئ چې څه بشپړ او څه ښه دي او دا چې موږ څه ته اړتيا لرو څو د هغه لهپاره مبارزه وکړو. څنګه کولی شو پرته له دې چې هغه مو ورک کړي وي، ښه غوره کړو چې زموږ لهپاره يوه نيکي راوړي؟

**سقراط:** د ( کالوس) ښکلا ترلې کڅوړې نه تزئينوي، ښکلا نه شي کولی يو ناوړه شي تزئين کړي. په داسې حال چې ډېری يې له عشق او مينې څخه سرچينه اخلي او په ښکاره توګه د بدلون وړ دي. خو حتی له شيطان صفته خلکو سره هم چې ښيګڼې د يو ماسک په توګه کاروي، ښکلې ښکاري. خو يوازې د ښې او بشپړې پرانستې لهپاره له ټولو موخو سره پرانستل کېږي. دغه مسأله دېته ورته ده چې موږ د خټين ديوال جوهر واخلو، هغه د پاچا په تاج کې کېږدو او پر هغه مزين تاج کې به يو ارزښتاک تاج واوسي. خو ډېری خلک د ښکلا په هدف باندې نه پوهېږي او ډېري وختونه نه شو کولی د ښکلا هدف په بشپړ ډول او له کوم دليل پرته ترلاسه کړو. خو قانع کوونکی دليل هم له هغه پرته نه شي ترلاسه کيدی. خو د سترو رهبريو په اړه څرنګه چې وې، په واقعيت کې تر ټولو عالي څېزونو ته د تفکر الهام ورکول دی. څرنګه مې چې وويل، تفکر له يو واحد شخص څخه سرچينه اخلي، هغه کس چې په ژوند کې ټول څېزونه په تعادل کې ږدي او انتظار کوي چې هغه لا منسجم او همغږي کړي. له همدې امله ترسره کيدی شي چې فوري ښيګڼې د مهربانۍ په نشتون کې رهبري کړي. هغه څه چې داسې نهښکاري چې ښکلي او جذاب وي. خو يو واحد کس کولی شي په موږ کې د بشپړوالي حس را ژوندی کړي، البته د خپلو سمو اقداماتو په انځورولو سره يو زيات شمېر څېزونه له موږ څخه لېرې کولی شي چې زيات وزن لري او له يوې کيسې سره څخه بشپړېږي چې په هغې د پوهې ترلاسه کولو لار محدوده وي. تاسو وليدل چې څنګه دياپسما معبد اور واخيست او منار د لوګي جريان خالصه روښنايي او د نهپايښت وړ نري لوګی روښانه ښکاره کاوو. سالم فکر د دې وړتيا لري چې موږ ته مبهم څه راښکاره کړي خو يو واحد شخص او يو زيات شمېر کسان چې وکولی شي نورو ته الهام ورکړي.

اجازه راکړئ چې توضیح ورکړم نه دا چې د لاکونیاییانو په څېر د کلماتو پر مټ. خو د ټولیز پوهاوی لهپاره لازم دی څو هغه درک او تجزبه او تحلیل کړئ.

**میلیت:** خو تجرید شوي او نامعقوله ښکاري؟

**سقراط:** که چېرې یې پر وړاندې ژمن ونه اوسئ او له یو جریان څخه زېږنده او یو اړخیزه نهوي، مړ کېږي عیناً لکه دا چې پر موم بیاخلی ( تایپوس) چاپ کړئ، ډېر ژر به تخریب شي، البته هغه مهال چې له هغوی څخه د ( ایدوز) طرېقې په کلکه او جامده ډبره باندې واخېستل شي.

**انیت:** سقراط، په رښتیا سره چې تاسو ویده یاستئ.

**سقراط:** انیتا، تاسو او ستاسو د تفکر طریقه وایي چې زه د خیلانونو په اړه خبرې کووم، څرنگه چې دي، دغه خیالونه د روح تلپاتې خاطرې دي.

**انیت:** او تاسو څه په یاد لرې؟

**سقراط:** زه د ( یوپوتیزس) دلیل د ( نوموس قانون) د سوپریستولوگو خدای معبد گڼم. او د هغه په بستر کې یو سړک او سین د هغه د لومړني توري ( Y) په توگه. دغه تگلاره په دوو لوریو انشعاب کوي. وگورئ تاسو قیمتي جامې اغوستي. ستاسو څېره او بدن له ارزښت څخه ډک ښکاري. چې اي کاشکې تاسو په همدې کچه حقیقت ته باوري وای. خو کله چې جسم ځمکې ته راکش کېږي، وبه گورئ چې پر ځمکه د لویدو له امله به روح د نه درمنلې وړ ټپونه او نښې ولري. دغه ډول خلک که چېرې په ژوند کې پوهه ونهلري، ساړه تارتاروس ته ځي، په سین کې دننه یوه ژوره تیاره کې، هغه روح چې غواړي له قاضی مخکې او له مرگ وروسته له ملامتۍ دلیل پرته راڅرگنده شي او په تاوده باد کې خوشې شي چې زړه یې د تل لهپاره د پسرلي او اوړي په غوټیو سمبال وي. خو تاسو کنهگاره نه یاست زېږیدلي آیا ماشومان له وخت مخکې گنهگاره او تږي تولد کېږي؟ آیا هغوی ته په حمام کې تکلیف نه ورکول کېږي؟ هغه وخت چې هغوی او نورو ته ناعادلانه وي؟ ولې هغوی له مهربانه عمر او ځواک څخه برخمن دي؟ آیا دا د دې لهپاره دي چې هغوی معقول حالت ته قدم ږدي؟ آیا تاسو دغه څه احساسوئ؟ ـ دا یوه کمزورتیا او ناتواني ده. ماشومان کمزوري دي او مینې او پالنې ته اړتیا لري. خو مهربانه دي، ځکه چې لا یې په روح کې څه شته چې خدایي حس کړي او نه غواړي موږ ته زیان ورسوي. خو موږ ته یې د آزادۍ درک په اړه مینې او محبت لهپاره فکر او حساس راستولی چې په خپل ذات کې د نه جلا کیدو وړ دی او هغه مفکورې یې چې هغه ته ورکړي، د هغو کارونو پر مټ چې ترسره کوي یې راوباسي او ستاسو فکر بدلوي. نو دا یو گونگ او د نه درک وړ پوهه ده چې ځای یې په کې نیولی

دی. نو آیا ژوند بشپړ او د ماهیت له پلوه ابدی دی؟ له همدې امله ما په کره توگه تاسو مطالعه کړي یاست چې په دې اړه په څه نه پوهېږئ څو هغه په ابهام حالت کې په ټولنیز ډول درک کړئ.

**میلیت:** سقراط: تاسو بیاځلي د هغه څه په اړه خبرې کوئ چې د ښکلا درس درکوي، خو ډېر ټکان ورکوونکې ده! تاسو په هغو کربښو گرځئ چې په پراخه بڼه په پلنو سړکونو کې دي!

**سقراط:** اهه، څومره ښکلې او په زړه پورې، د میلیتوس ځوان زویه! زه ـ د هیراکلیتوس کلمو د مثال یو ممثل ـ او یو تر ټولو هوښیار انسان له څېرې، تعقل، ښکلا او داسې نورو سره د ښادۍ له خدای سره پرتله کېږي. همدا لامل دی چې هڅه کووم څو د دغه ښار وگړي د ځوانانو او زړو په شمول قانع کړم چې ځان له خدای مخکې هوښیار ونه گڼي، هغو خلکو ته چې ما خدمت کړی، خو رښتیا وایم له هغو مخکې او خالصه روحه، خو کاشکې هغوی ما ته غوږ ونیسي چې د هغوی جرئت، پانگه او نور څیزونه یې د هڅونې لهپاره وهڅووم.

**انیت:** خو زموږ موندنې ښیي چې ته موږ تورنوې؟ همداسې نهده، مینوس ته، په داهس کې طلایي میله او یا د ژیوس یو زوی؟

**سقراط:** نه، زه دا کار نهکووم. څنگه تاسو ته ووایم؟ زه د نه لیدو وړ او روڼ باد خوښووم. ځکه چې هر هغه چې په مخه ورځي، له ځانه سره یې وړي. زه گورم چې تاسو یو ډول انسان یاستي، انیتا!.

**میلیت:** ته په رښتیا سره لیونی یې! ستاسو معذرت په کوم ځای کې دی؟

**سقراط:** زه تاسو گورم میلیت! چې له موسی سره اوږدمهاله سیالۍ لرې، عیناً کله چې فامیرید تاسو ړانده کړئ، خو کاشکې ما له اپولو څخه یوه ډالۍ ترلاسه کړې وای چې لیدلی مې وې مناسبه ده کنه. دا د (cittern) په څېر یوه ډالۍ ده چې غږ یې د یو چا په زړه کې غږ چوپ کوي او کاشکې په دې توانیدلی چې د تفکر په عمق کې دننه کیدلی لکه د هاس په تیارې کې آرفیوس، اوس به زه د خلکو لهخوا د ډالۍ په توگه ټوټې ټوټې شوی وای عیناً لک بکچای دیونیوس.

**میلیت:** سقراط، دا امکان نهلري! ستاسو معروف شرافت چېرته دی؟

سقراط: شاعره! ما ته غوږ مه نیسه، ته به ما درک نهکړې، گرانه ملگریه! هغه کس چې خپل غږ یې د خلاصون لهپاره پورته کړ! پر ما باور ولره، معاصر شاعران لیکي، چې د ښکلا نسبت خدایانو او اتلانو ته کېږي خو هغوی ډېری ځان نه درک کوي، ځکه چې د هغوی نغمې پژواک او د شاعرۍ ټول هنرونه له ځانه سره لري او غږوي یې. خو دا چې هغوی لیواله نه دي د کاذبې خوشالۍ پر ځای ډېره پوهه ترلاسه کړي، نو له (aedy)

به مراقبت وکړي. هغه څوک به چې په مدحه کې د غږ، ژړا او ځورنې تر ټولو ناوړه بڼه ونه ځنډوي. په داسې حال کې چې خپل شریفانه هنر یې پوښلی دی. فیلسوفان، پوهان او قانون‌پوهان شته چې له هغوی نه تقلید وکړي، د شعور په پرتله یې پوهه او د ښیګڼو په پرتله به یې وړتیا زیاتې وي. او ډېری زیانونه به په خپله هغوی ته متوجه وي او څرګندونې به یې درک کړي. خو واین چې له دغه غیر معمولي خوند سره یې څښېږ، په واقعیت سره تاسو د کونیون ( هیملاک زهر) سرته پورته کوئ. تاسو میلیت زه تورن کړم چې نوی خدای ته مخ اړوی، خو زه د آبر عبادت نه کووم! ارسطوفانیس پر ما د نا هیلۍ له امله ملنډې ووهلې. زه خدای هر چېرته وینم. خو نه شم کولی دا څرګنده کړم چې د هغه یو لمس وړ انځور توضیح کړم. ما ماته خوړې او حواس مې ګډوډ شوي. له همدې امله تاسو ته هوښیار نه ښکارم. اما په هر څه کې چې د ماهیت له اړخه ثابت وي، ستر تفکر ګورم، خو  په معکوسه بڼه .

میلیت:  خو د اوبو ـ څپې له پوسیدون څخه د غوایي انځور نه لرې؟ او نور خدایان هم د هغه توکم په نړۍ کې خلق کړی دی.

**سقراط**: زه په دې نه پوهېږم میلیت! خو په دې پوه یم چې ربښتوني خواږه معبودان ښې ارواح ته مطلوب دي، خو د نارینه‌وو په توګه، له هغه پرته هغوی د نړۍ په پرېښودو سره مایوسه کېږي، ځکه د هغوی بدن د (sarcophagus) په څېر د ډېرو تر یوې تختې لاندې ویده دی چې پېژندل شوې روح کمزورې کوي او زه ګورم چې که د دغې ډېرې د لېرې کولو  مخنیوی ونه کړو، دغه ګور د انساني پوهې په پرتله یاد لوښی ګواښي.

**لینکون**: آیا ته لیونې شوې یې سقراط؟ عیناً د کیبیللي فلوتست په څېر؟

سقراط: لینکون، تاسو د خلکو د جنون په اړه وړاندوینه کوئ، په ځانګړې توګه د مرګ په اړه، خو زه ډېر زوړ یم. مرګ مې د باد په څېر مخکې ته الوزي، اجازه راکړئ چې خپله وروستۍ خبره وکړم او بیا به د تل له‌پاره غلی شم.

انیت: خپلې خبرې پایته ورسوئ، سقراط!

**سقراط**: زما پیروانو! درنو ملګرو، زما روزنکیو! هیڅکله د عقل جامې مه اغوندئ ... هیڅکله ښوونځی مه جوړوئ او روزنه مه ترویجوئ، ستاسو ښوونځي به وتړل شي، ستاسو فعالیتونه به ورټل شي، ظالمانو او شیطانو لیوانو ته درس مه ورکوئ، او د ژوند په اړه څه مه زده کوئ. حتی دا چې خلک به په سترو لوګوسونو ( کلمو، دلیل) باندې بدل شي ـ انساني او غیر انساني پاچاهان د نړۍ له ملاتړه برخمن وي، هغوی به هڅه وکړي څو هغه وهڅوي چې سم ښکاره شي. خو نه هغوی، اما کله چې وغواړي هغوی ته د خپلو څرګندونو

په توګه د پوهې شفاهي لیک واستوي، هغوی به وځوروي او  سزاء به ورکړی. ښایي هم د زهر څښکلو، سوځولو یا د دار پر مټ اعدام شي. زه هیلمن یم ژر تر ژره د هغه انځور وګورئ. دا چې هغه پیدا شوی دی، تمه لرم چې دا به هغه ته د مینې په څېر وي. او هغه به له ماسره دوستانه ملاقات وکړي. یوازې خدای پوهېږي چې څوک ښه ده چې پاتې شي. دا چې هغوی ځانونه داسې ګڼي چې پېژندل کېږي او له دې څخه تیښته کوي څو له دې ډېر وپوهېږي چې هغه کولی شي هغه ته ژوند ورکړي، له دغو ټولو خبرو وروسته له تل پاتې خدای پرته نور ټول خدایان نشته ...................

**میلیت:** سقراط د سوفرونیسکوس الوپیکي و فیناریتي زویه! تاسو د دغه حقیقت له امله چې زموږ خدایانو ته ارزښت نه ورکوئ او و نورو نویو خدایانو پر معرفیت باور لرئ، ګنهګار وپېژندل شوئ، تاسو په داسې حال کې چې د لاریونونو ملاتړو او د مشهور آتن عاقلانه پالیسیو ته درناوی لرئ، په خپلو خبرو سره خلک فاسدوئ او زموږ ګران هېوادوال په ابهام کې اچوئ. ګنهګار وپېژندل شوئ.

**مارتین لوتر کنګ "زه یو خیال لرم[۲]":**



ډېر خوشاله یم چې نن د هغه څه په اړه درسره یوځای یم چې زموږ تاریخي مسیر په اړه یادونه کوي او زموږ د ملت په تاریخ کې د آزادۍ غوښتنې د سترې ننداریې په توګه به ثبت شي.

پنځه کاله مخکې یو ستر امریکایي توکمي چې موږ نن د هغه تر سیوري لاندې ژوند کوو، یوه آزادي غوښتونکې اعلامیه لاسلیک کړه. دغه حیاتي فرمان موږ د یوې ډیوې په توګه نیګرو میلیونونو  غلامانو ته الهام  ښوونکې وو چې د بې عدالتۍ د وژونکیو وړانګو له امله سوځېدل  او موږ ته یوه روښانه او خوندوره ورځ وه چې د غلامۍ د ظلم تورو شپو  ته یې د پای ټکی کېښود.

خو له هغه نه سل کار وروسته لاهم  نیګرو خپله آزادي نه ده ترلاسه کړې. سل کاله وروسته هم د نیګرو بدمرغه ژوند لاهم د تجرید او  تبیعض په ځنځیرونو تړلی دی. سل کاله وروسته هم د مادي شتمنیو ستر سمندرګي د بې وزلۍ په لېږې پرته جزیره کې اوسېږي. سل کاله وروسته هم د امریکایي ټولنې له اندیښنو څخه ځورېږي او ځان په خپل ملک کې د یو تبعیدي کس په توګه ویني .. له همدې امله موږ دلته راټول شوي یو چې یو ناوړه او له شرمه ډک وضعیت انځور کړو.

---

[۲] نېټه:د ۱۹۶۳ کال د اګست۲۸مه. انټرنېټي سرچینه: (-http://www.huffingtonpost.com/ ۲۰۱۱/۰۱/۱۷/i-have-adream-speech text_n_۸۰۹۹۹۳.html)

موږ په يو ډول سره د خپل ملت په پلازمينه کې راټول شوي يو چې يو چک نغدې پيسې ترلاسه کړو. کله چې زموږ د جمهوريت معمارانو د اساسي قانون پاروونکې کلمې او د خپلواکۍ اعلاميه ليکله، هغوی يو موعود يادداشت لاسليک کړی وو چې هر امريکايي وګړی ورنه ګټه پورته کوي. دغه يادداشت په واقعيت کې يوه ژمنه وه چې په هغه کې د تور پوستو او سپين پوستو په شمول د ژوند د ټولو انسانانو آزادي مشروع حق او خوشالۍ تضمين شوې وه.

نن ورځ ټولو ته روښانه ده چې امريکا په دغه موعود يادداشت کې په بې دريغه توګه پاتې راغلې ده، ځينې اتباع يې د رنګ له امله ځورېږي. امريکا پر دغه سپيڅلي مکلفيت د وياړ پر ځای د نيګرو خلکو ته يو نامطلوب چک وکړ، داسې چک چې د بياورکړې په توګه ګڼل کېږي. « ناکافي تمويل». خو موږ دغه باور ردوو چې د عدالت بانک ماتې خوړې ده. موږ دغه باور ردوو چې د دغه ملت د فرصتونو په ستره خزانه کې کافي پيسې نشته. له همدې امله موږ راغلي يو چې دغه نغدي چک ترلاسه کړو ـ يو چک چې زموږ د غوښتنې په پام کې نيولو سره عدلي خونديتوب او د آزادۍ خزانه راکړي. همدارنګه موږ دې سپيڅلي ټکي ته رسيدلي يو چې امريکا ته د نن ورځې دغې جدي موضوع په اړه يادونه وکړو. دا د دې وخت نه‌دی چې د تدبير او سوکه حرکت نسخې په تجويز سره له دې موضوع څخه تېر شو. بلکې د دې وخت دی چې د ډيموکراسۍ ژمنې پوره کړو. اوس د دې وخت رارسيدلی چې له تيارو او تجريد څخه خلاصون ومومو او د روښنايي او ربښتوني عدالت پر لور وخوځېږو. اوس د دې وخت رارسيدلی چې خپل ملت د بې عدالتۍ له تغر څخه پورته او د ورورلۍ قرمز ټغر پر لور ورته لارښوونه وکړو. اوس د دې وخت رارسيدلی چې د خدای ټولو بنده‌ګانو ته واقعي عدالت ډالۍ کړو.

> موږ بايد د تل لپاره خپل مبارزه وياړ او دسپلين له لوړې کچې سره جاري وساتو

دا به زموږ ملت ته جدي ښه ولري چې د دغې شيبې فوريت وګوري. دا به تر هغه چې د برابرۍ او آزادۍ الهام ښښوونکی مني شاهدان ونه اوسي د مشروع نيګرو د ناخوالو سوځنده اوړی نه وي. ۱۹۶۳ کال په واقعيت کې يو پای نه، بلکې يو پيل دی. هغه خلک چې هيله لري نيګرو له دغه لړو څخه خلاصون ومومي څو له آرامتيا او چټکې ودې څخه برخمنه شي، البته په هغه صورت کې چې خلک له معمول سره سم کاروبار ته مخه کړي.

تر هغه چې نيګرو ته د اتباعو حق ورنه کړل شي، امريکايان به هيڅکله د ترقي او هوسيايني مخ ونه ويني. زموږ د ملت د آزادۍ غوښتنې او بنسټ اېښودنې دغه باد به تر هغه دوام ومومي چې د عدالت ځلانده لمر نه وي راختلی.

خو ځینې څه شته چې زه یې باید خپلو خلکو ته چې د عدالت د ټینګښت لهپاره راولاړ شوي، بیان کړم. موږ باید د خپل حقه ځای د ترلاسه کولو په ترڅ کې د خپلو ناخوښه اقداماتو لهپاره ګنهګار ونه ګڼل شو. راځئ د دې په لټه کې ونه اوسو چې خپله د آزادۍ غوښتنې تنده د انزجار او نفرت ګیلاس په څښلو سره ماته کړو.

موږ باید د تل لهپاره خپله مبارزه د ویاړ او دسپلین له لوړې کچې سره جاري وساتو. موږ باید اجازه ورنه کړو چې نوښتي لاریونونه مو په فزیکي شخړو بدل شي. موږ باید په ځلونو په لوړاستقامت سره مبارزه وکړو او خپل فزیکي ځواک له معنوي هغه سره همغږی کړو. هغه نوې حیرانوونکي نظامي روحیه چې د نیګرو ټولنه پیاوړې کوي، باید داسې لور ته رهبري نه شي چې د ټولو سپین پوستو باور له لاسه ورکړو. د یو زیات شمېر سپین پوستو وروڼو لهپاره چې نن له موږ سره دي، څو درک کړي چې د هغوی آزادي هم په نه شلیدونکې بڼه زموږ له آزادۍ سره تړاو لري.

موږ نه شو کولی په یوازې ځان سره حرکت وکړو.

که چېرې حرکت هم وکړو، باید داسې نوښت خپل کړو چې پربنسټ یې تل پر مخ ولاړ شو. موږ نه غواړو شاته وګرځو. ځینې خلک شته چې د مدني حقونو له ملاتړو پوښتنه کوي« تاسو به څه وخت قناعت وکړئ؟» زموږ ځواب دا دی تر هغه چې د نیګرو خلک د پولیسو د ظالمانه او ناوتریخچو کړنو قربانیان وي، موږ به قناعت ونه کړو. تر هغه چې په خپل بدن کې د سفر سرېیا حس کوو او یا هم د ښار په هوټلونو او د سفر په ترمینلونو کې درانه بارونه پورته کوو، هیڅ کله به قناعت ونه کړو. تر هغه چې له کوچینو کلیو څخه لویو هغو ته د نیګرو خلکو په لومړنۍ بڼه ګډوالۍ دوام ومومي، موږ به هیڅ کله قناعت ونه کړو. تر هغه چې زموږ ماشومان خپل حالت ته راونه ګرځي او نوم اېښودونکیو ( یوازې د سپین پوستو لهپاره) له لوري د هویت له امله سپکاوی پای ونه مومي، موږ به هیڅ کله قناعت ونه کړو. تر هغه چې د نیګرو خلک په میسي سیپي ایالت کې د رأیې ورکونې له حق څخه بې برخې وي او نیویارک ایالت کې د نیګرو قبیلي پورې اړوند یو کس په دې باور وي چې هغه هیڅوک نهلري، چې ورته رأیه ورکړي موږ به هیڅ کله قناعت ونهکړو او بالاخره تر هغه چې بې عدالتۍ د اوبو په څېر روانه وي او په پر ځای یې عدالت د څپانده سیند په څېر روان نه وي، موږ به هیڅ کله قناعت ونه کړو.

> که چېرې حرکت هم وکړو، باید داسې نوښت خپل کړو چې پر بنسټ یې تل پر مخ ولاړ شو.

زه له دې بې خبره نه‌یم چې ستاسو یو شمېر په داسې حال کې دلته راغلي یاست چې نوی د محکمې او سترو کړاوونو له جریانونو څخه راوتي یئ. یو شمېر مو نوی له زندانونو څخه راخوشې شوي یاست، یو شمېر مو له داسې سیمو راغلي یاست چې هلته مو د آزادۍ غوښتنې هڅې د پولیسو د ظلمونو له کبله د زور زیاتي له توپاني ستونزو سره مخ دي. تاسو په واقعیت کې روزل شوي کارپوهان یاست چې د نوښت او ابتکار له امله مو زیات زیانونه لیدلي دي، په مینې او لیوالتیا سره د هغه کار دوام چې هیڅ مزد هم نه‌لري، په واقعیت کې د آزادۍ غوښتنې هڅې دي.

میسیي سیپي ایالت ته بیاځلي تګ، الابام ایالت ته بیاځلي تګ، سویلي کارولینا ایالت ته بیاځلي تګ، جورجیا ایالت ته بیاځلي تګ لویسیانا ایالت ته بیاځلي تګ،زموږ شمالي ښارونو کلیو او بانډو ته بیاځلي تګ د دې په درک سره چې وضعیت کیدی شي دومره بدلون وکړي او بدلون به هم وکړي، واقعاً توګه زړه بایلوونکی دی.

راځئ په خپلو کلیو کې بدبختیو ته اجازه ورنه کړو.

نن غواړم درته ووایم چې قدرمنو! سره له دې چې موږ نن او سبا له ډېرو ستونزو سره مخ یو، خو زه لاهم په سر کې یو ستر خیال لرم. دا هغه خیال دی چې په ژوره توګه د امریکا په خلکو کې ریښې لري.

زما خیال دا دی چې یوه ورځ به دا ملت راپورته شي او د خپلې رښتونې وفا معنې به حس کړي، « موږ دغه حقایق په خپل ذات کې د شواهدو په توګه وړاندې کوو: چې ټول انسانان په یوشان ډول پیدا شوي دي»

زما خپال دا دی چې یوه ورځ به د جوجیا ایالت سرې غونډیو باندې د پخوانیو غلامانو او د هغوی د مالکانو زامن د دې وړتیا ولري چې پر یو میز له یوبل سره کیني.

زما خیال دا دی چې یوه ورځ به له میسي سیپي ایالت هم څخه د عدالت او آزادۍ غږ اوچت شي چې اوس د بې عدالتۍ او ظلم په لمبو کې سوځي .

نن ورځ یو ستر خیال په سر کې لرم.

زما خیال دا دی چې څلور کوچني اولادونه مې په داسې یو ملت کې ژوند وکړي چې د رنګ او پوستکي له اړخه نه ، بلکې د شخصیت له اړخه تر قضاوت لاندې ونیول شي.

دا سې یوه ورځ به وي چې په الاباما ایالات کې د سخت زړو توکم پالو پر ځای یو داسې والي ولرو چې د تعادل کلمو په کارولو او د بې عدالتۍ پر ملغاء ګرځو باندې خوله پرانیزي، یو ورځ به همدلته په الاباما کې تور پوستي نجونې او هلکان د دې وړتیا ولري چې له سپین پوستو هغو سره د دوستۍ لاسونه ورکړي.

زما خیال دا دی چې یوه ورځ به ټول کلي او بانډې پرمختګ وکړي او غونډیو او غورونو له سرونه به زرغون، نري ځایونه به پلن ، کږې او بې نظمه لارې به مستقیمې او د معبود ځلا به روښانه شي. او ټول خلک به چې هر رنګ لري، د هغه ننداره وکړي.

ز‌ه نن یو ستر خیال لرم.

> **زما خیال دا دی چې څلور کوچني اولادونه مې په داسې یو ملت کې ژوند وکړي چې د رنګ، پوست له اړخه هغوی باندې قضاوت و نشـي، بلکې د شخصیت له اړخه تر قضاوت لاندې ونیول شي.**

دا زموږ هیله ده. دا زما هیله ده چې زه ورسره بیاځلي سویل ته لاړ شم. موږ به دغه ډول هیلې ترلاسه کړو څو د ناهیلۍ له ستر غره څخه د امید یو کاڼی ترلاسه کړو. د دغې یو هیلې په لرلو سره به د دې وړتیا ولرو چې د خپل ملت جنجالمن اختلافات د وروري په زړه بایلوونکي غږ بدل کړو. د دغسې هیلې په پاللو سره به د دې وړتیا ولرو چې له یوبل سره کار وکړو، له یوبل سره عبادت او دعا وکړو، له یوبل سره مبارزه وکړو، له یوبل سره زندان ته لاړ شو او له یوبل سره د آزادۍ غوښتنې غږ پورته کړو. د دغو مسایلو درک به د دې لامل شي چې یوه ورځ ربښتونې آزادۍ ترلاسه کړو.

او دا به هغه ورځ وي چې د خدای ټول بندګان په یو نوي مفهوم سره دا سرود ولولي« زما هېواد ته او یوازې ته، د آزادۍ ګرانې ځمکې، چې زه ستا له پاره سندرې وایم. داسې ملک چې زما نیکونه په کې خښ دي، داسې ملک چې ماته یې د یو سپیڅلي ځای حیثیت راکړ، اجازه راکړه څو د هر غره په لمن کې د آزادۍ زنګ وکړنګووم!»

که چېرې غواړئ چې یو ستر ملت شئ، باید دا په حقیقت بدل شي، له همدې امله اجازه راکړئ چې د هامشایر د استثنایي غونډیو له څوکو څخه د آزادۍ زنګ وکړنګول شي

اجازه راکړئ چې د پنسلوانیاله لوړو څخه د آزادۍ زنګ وکړنګول شي!

اجازه راکړئ چې د کولارادو له واورو ډکو ډبرو څخه د آزادۍ غږ راپورته شي !

اجازه راکړئ چې د کالیفورنیا ایالت غونډیو له منځه د آزادۍ غږ راپورته شي !

اجازه راکړئ چې د جورجیا ایالت له ډبرینو غرونو څخه د آزادۍ غږ راپورته شي !

اجازه راکړئ چې د تینیسي ایالت له زړه راښکوونکیو غرونو څخه د آزادۍ غږ راپورته شي !

اجازه راکړئ چې د میسي سیپي ایالت غونډیو او لمنو څخه د آزادۍ غږ راپورته شي !

اجازه راکړئ چې د هر غره له لمنې څخه د آزادۍ غږ راپورته شي!

او بالاخره کله چې دغسې پیښ شو کله چې موږ دېته اجازه ورکړه چې د آزادۍ زنګونه وګړنګول شي، کله چې مو اجازه ورکړه دغه زنګونه له هر کلي، هرې بانډې، هر ایالت او هر ښار څخه وکړنګول شول، په هغه صورت کې به د دې وړتیا ولرو چې هغه ورځ خپلواکۍ ولمانځو چې په هغه کې د تور پوستو، سپین پوستو، یهودو او ....... او کاتولیک په ګډون د خدای ټول بندګان د دې وړتیا ولري چې یوبل ته د دوستي او وروري لاسونه ورکړي او د نیګرو د پخواني روحانیت کلمې په ژبه رواړي « بالاخره آزادي، بالاخره آزادي، له خدای څخه مننه، بالاخره زموږ خپله آزادي ترلاسه کړه[۳]"

**تریسا مور**

**د نوبل جایزې ورکړې په محفل کې د یوې وینا یوه استثنایي برخه[٤]:**



او موږ چې دلته راغلي یو، داسې خلک یو چې میندو او پلرونه مو موږ غوښتلو، که چېرې زموږ والدینو دا کار ترسره کاوو، نو موږ به هم اوس دلته نه وو.

زموږ ماشومان هغه څوک دي چې موږ یې غواړو او مینه ورسره لرو. خو د میلیونونو نورو لهپاره به څه وایو، یو زیات شمېر خلک په هندوستان کې د خپلو ماشومانو په اړه ډېرې اندیښنې لري او په همدې توګه په افریقا کې هم یو شمېر کسان د خپکو ماشومانو په اړه اندېښمن دي چې یو زیات شمېر یې خپل ژوند له

---

[۳] ځینو هغه د امریکا متحده ایالتونو د شرافت او اخلاقو رهبر ګڼه او ځینو له هغه څخه کرکه کوله او د هغه د غږ بندولو لهپاره یې له هیڅ ډول هڅې څخه مخ نه اړاوو. او د دې لهپاره دا یوازینۍ لار وه چې غوره کړې یې وه.

د ۱۹٦۸ کال د اپریل په درېیمه نېټه مارتین لوتر کنګ د ممشب د ٦ زرو وګړو کې چې په یوه غونډه کې راټول شوي څو له هغو خلکو ملاتړ کوي چې تر برید لاندې نیول کېږي، ډاکټر کنک دا درک کړې وه چې د هغه ژوند له خطر سره مخ دی خو د امریکایآنو په راتلوونکې یې باور درلود. چې هیڅ کله به اجازه ور نه کړي خلک د پوستکي رنګ له امله سره بیل شي، د هغه وینا په دې خبرو سره پایته ورسیده: « هیڅ شی زه نه یم اندیښمن کړی او له هغه کارونه پښیمانه نه یم چې ترسره کړي مې دي» بله ورځ هغه د یو سپین پوستې لهخوا ووژل شو.

٤ دغه وېنا ۱۹۷۹ کال په ډسمبر کې وړاندې شوه او د « وېیره، په واقعیت کرکه نه، بلکې ډول بې تفاوتي ده» عبارت لهپاره یې شهرت وموند: انټرنیټي سرچینه:(*http://www.orator.biz/*).

لاسه ورکوي چې ښايي لاملونه يې خوارځواکي، لوږه، او داسې نور وي. خو له بده مرغه په ميليونونه نور يې خپل ژوند په هدفي ډول د ميندو د غوښتنو له‌پاره له لاسه ورکوي.

نن دغه پديده د سولې پر يو ستر گواښوونکې پديدې باندې بدله شوې ده. د دې له‌پاره چې يوه مور وکولی شي خپل ماشوم ووژني، څه شی ما ته دا احساس راکوي چې زه تا ووژنم او يا هم دا چې تاسو ما ووژنئ، دا هيڅ توپير سره نه لري.

او دغه څه چې د هندوستان خلکو له‌پاره يې غواړم، په واقعيت کې هغه څه دي چې ټولې نړۍ ته يې هيله لرم. راځئ ماشوم د پاملرنې پر محراق بدل کړو او روان کال د ماشوم په نوم ونومو: مورې د ماشومانو له‌پاره څه ترسره کړي؟ ما د کال په پيل کې وويل چې هر ځای دغه مسأله مطرحه کووم او تاسو ته مې وويل: راځئ روان کال په داسې يو کال بدل کړو چې په هغه کې له هر زېږيدلی ماشوم او هغه چې لا نړۍ ته نه دی راغلی، هرکلی وکړ او هغوی وغواړو. نن ورځ د کال په پای کې قرار لرو، آيا په رښتيا سره په دې توانيدلي يو چې له ماشومانو څخه هرکلی وکړو او د هغوی هيله وکړو.

مورې د جنين سقط پر وړاندې مبارزه کوو، مورې په زرگونو ژوندونه ژغورلي دي. مورې خپل غږ ټولو کلينيکونو، روغتونو او د پوليسو مرکزونو ته رسولی ـ په مهربانۍ سره ماشومان له منځه مه وړئ، مورې ماشوم غواړو.

... زه په دې باور يم چې مورې رښتوني ټولنيز کارکوونکي نه يو، ښايي د خلکو له نظره به ټولنيز کارونه ترسره کړو خو په رښتوني ډول د خلکو په زړونو کې مو ځای تش دی. د هغه معبود له‌پاره چې ۲۴ ساعته يې عبادت کوو.

مورې ۲۴ ساعته په همدې حالت کې يو، هم تاسو او هم زه. تاسو هم هڅه کوئ څو مو په کورنۍ کې د خدای جضور وي، په يوه کورنۍ کې چې يو ځای سره دعا کوي او يا هم يو ځای ژوند کوي.

او زه فکر کووم چې مورې په خپله کورنۍ کې بم او ټوپک ته اړتيا نه‌لرو، څو هغه د سولې له‌پاره وران کړو. ـ يوازې بايد له يوبل سره يوځای شو، له يوبل سره مينه وکړو او په دې ترتيب سره هر کور ته سوله، خوشالي او د حضور پيياوړتيا ډالۍ کړو. په دې توگه به مورې وتوانېږو چې د نړۍ په هره برخه کې پر شيطاني افکارو برلاسی شو.

پريمانه عذابونه او نفرته او بالاخره پريمانه بدبختۍ شته او کولی شو په خپلو دعاگانو او قربانيو سره له خپلو کورونو څخه پيل وکړو، مينه له کوره پيلېږي. او دا هغه څه نه ده چې يوازې په ژبه وويل شي، بلکې مينه هغه څه ده چې بايد په عمل کې يې ثابته کړو.

دا په خدای پاک پورې اړه لري ـ دا چې څومره کولی شو، مهمه نه ده، ځکه هغه بې نیازه دی، خو دا چې تر څه حده کولی شو مینه او عشق په عمل کې پیلی کړو، ډېر ارزښت لري، موږ نورو ته د خدمت له لارې، د خپل خدای لهپاره څه کړي دي؟

... او د دې جایزې پر مټ چې ما د سولې په نوم ترلاسه کړې، هڅه کووم څو هغو خلکو ته کورونه جوړ کړم چې د کور له نعمت څخه بې برخې دي، ځکه باور لرم چې مینه له کوره پیلېږي او که موږ وکولی شو، اړو کسانو ته کورونه جوړ کړو ـ باور لرم چې د مینې لمن به پراخه شي.

او موږ به د دې په درک سره د دې وړتیا ولرو چې سوله راولو. تل هڅه وکړئ چې بې وزلو کسانو ته د خوشالۍ خبر واوسئ، لومړی هغه بې وزلو ته چې زموږ په کورونو کې ژوند کوي او له هغه وروسته د هېواد بې وزلو او بالاخره د نړۍ په کچه.

د دې لپـــاره چې د دغه کار ترسره کولو وړتیا ولرو، زموږ د خویندو ژوند باید له دعاوو سره وي، هغوی باید له خدای سره تړاو ولري څو د درک او ښښلو وړتیا ترلاسه کړي.

دا چې ننۍ نړۍ کې ډېرې ستونزې شته دي ـ او زه دا احساسوم چې یوځل بیا به د خدای له نصیب څخه بې برخې ونه اوسو ـ آیا موږ واقعاً دلته د رحمت، نعمت او همدارنگه د خلکو د کړاونو او عذابونو د شریکولو لهپاره حاضر شوي یو.

نه یوازې په بې وزلو هېوادونو بلکې د نړۍ په ټولو برخو کې، له لویدیز څخه مې د بې وزلۍ لمنې ټولول ستونزمن کار وموند. کله چې زه یو وړی کس له ځمکې راپورته کووم او یو قاب وریجې او یوه ټوټه ډوډۍ ورته ورکووم، د هوساینې احساس کووم او داسې انگیرم چې د بې وزلۍ تږغر مې ټول کړی دی.

خو غلی ناست کس چې فکر کوي هغه څوک نه غواړي، څوک ورسره مینه نه کوي، یو وحشت ځپلي او داسې کس چې له ټولنې څخه رټل شوی وي ـ دغه ډول بې وزلي ډېره ناوړه ده او دغه چاره مې ډېره ستونزمنه وموندە.

په لویدېز کې زموږ خویندې په دغسې خلکو کې کار کوي. نو تاسو باید موږ ته دعا وکړئ څو وکولی شو د خوښۍ خبر موږ واوسو. خو هیڅکله دغه کار له تاسو پرته نه شو ترسره کولی. تاسو مکلف یاستئ چې دغه کار مو په خپلو هېوادونو کې ترسره کړئ.

تاسو باید بې وزله کسان درک کړئ، ښایي زموږ خلک دلته مادي یا نور څېزونه ولري، خو فکر کووم چې موږ ټول باید خپلو کورونو ته وگورو. څومره ستونزمنه به وي چې په هغو کې یوبل ته موسکا ومومو او همدا موسکا په واقعیت کې د مینې پیل گڼل کېږي.

زه هيڅکله دا نه هېروم چې مودې مخکې د امريکا متحده ايالتونو د بېلابېلو پوهنتونونو ۱۴ تنو استادان راغلي وو. هغوی په کلکته کې زموږ کور ته رغلل .. هغوی يوازې د خدای د رضا لهپاره له کوره وتي او زما کور ته رغلي وو. موږ د مينې په اړه خبرې وکړې، د ترحم په اړه، له هغه وروسته يې يو له ما نه پوښتل: مورې، ما ته څه ووايه چې هغه په ياد ولرم او ما ورته وويل: په خپله کورنۍ کې يوبل ته موسکا وکړئ او يوبل ته وخت ځانگړی کړئ. له هغه وروسته يو بل کس وپوښتل: ايا تاسو متاهل ياستئ او ما ورته وويل: هو، اما دا مې ډېر ستونزمنه ومونده چې خدای ته موسکا وکړم، ځکه چې ځينې وختونه هغه داسې ښکاري چې له ما نه زيات څه غواړي.

دا په رښتيا سره يو واقعيت دی او دا هغه شيبه ده چې مينه پيل شي ـ کله چې موږ وغواړو او لاهم وکولی شو هغه په خوښۍ سره ورته ورکړو. سم داسې چې نن مې يادونه وکړه. ما وويل که چېرې د بل هيڅ شي لهپاره جنت ته لاړه نهشم، د خپلو ټولو اشتهاراتو له امله جنت ته لاړه شم، ځکه چې هغو زه او زما اخلاص راپارولی، زه يې قرباني کولو ته چمتو کړې يم او په رښتيا سره په دې توانيدلي چې جنت ته په دننه کيدو کې له ماسره مرسته وکړي.

فکر کووم دا مهمه ده چې ژوند وکړو، موږ خدای له ځانه سره لرو او ټول پر هغه گران يو.

که يوازې دا وغواړو چې خدای له موږ سره مينه ولري او زه فرصت لرم چې له نورو سره مينه ولرم، څرنگه چې هغه له ما سره مينه لري، نه د سترو بلکې په کوچنيو څېزونو په ورکولو سره، په لويې مينې سره، هغه مهال به ناروی د عشق او مينې کور وي.

او څومره ښه به وي چې د سولې مرکز له دې ځايه سرچينه واخلي او د يو ماشوم د ژوند نيکبختي چې نړۍ ته نه دی راغلی، له همدې ځايه پيل شي.

که چېرې تاسو د سولې په نړۍ کې پر يوې روښانه ډيوې بدل شئ، نو د سولې جايزه به د ناروې په خلکو پورې اړه پيدا کړي.

د خدای په امن کې واوسئ!



**ستیف جابز:**

**"وړې پاتې کیدل، په واقعیت کې احمقانه ژوند کول دي[٥]"**

ویاړم چې نن د نړۍ یو تر ټولو ښه پوهنتون کې مو د فراغت په جشن کې ترخنګ یم. زه هیڅکله له پوهنتون څخه نه یم فارغ شوی، که حقیقت ووایم، دا یوازینی فرصت دی چې د فراغت په دغو مراسمو کې ګډون کووم، نن غواړم چې د خپل ژوند په اړه درته درې کیسې وکړم. یوازې همدا، یو یې هم ستر کار نه‌دی، یوازې درې کیسې درسره شریکووم او بس.

**لومړۍ داستان د ټکي له نښلیدو څخه عبارت دی.**

ما له شپږو لومړیو میاشتو وروسته د زید کالج پرېښود، خو له ۱۲ میاشتو وروسته بېرته ورته راستون شوم تر دې چې په بشپړ ډول مې پرېښود، نو ولې مې هغه پرېښود؟

ما مخکې له دې چې نړۍ ته راشم، پیل کړی. زما مور ځوانه فارغ التحصیله وه او واده یې نه‌وو کړی چې پرېکړه یې وکړې څو ما په فرزندۍ واخلي. هغې له ماسره ډېره مینه درلوده چې د کالج د یوې فارغې له‌خوا په فرزندۍ ونیول شم. له همدې امله ټول چمتووالي نیول شوي وو څو د زېږون پرمهال د یو وکیل او د هغې د میرمنې له‌خوا په فرزندۍ ونیول شم. خو کله چې زه نړۍ ته راغلم، هغوی په وروستۍ شیبه کې پرېکړه وکړه، څو هغه ماشوم چې دوی یې په فرزندي نیسي، باید نجلۍ وي. له همدې امله زما مور او پلار چې د انتظار په لیست کې وو، نیمه شپه یې د ټیلفون له لارې له چاسره اړیکه ونیوله او له هغه یې وغوښتل چې « موږ یو غیر منتظره ماشوم لرو، آیا تاسو یې غواړئ؟» هغوی وویل « هو» له هغه وروسته زما مور په دې حقیقت پوه شوه چې مور یې هیڅ کله له پوهنتون څخه نه وه فارغه شوې او پلار یې هم هیڅ کله له پوهنتون څخه نه وو فارغ. هغه د فرزندي ورکولو سند له لاسلیک څخه ډډه وکړه. څو میاشتې وروسته، کله چې مور او پلار مې ژمنه وکړه چې زه به یوه ورځ پوهنتون ته ځم، مور مې خپل فکر کړ.

او ۱۷ کاله وروسته زه په کالج کې شامل شووم. خو ما یو کالج په ساده‌ګۍ سره غوره کړ چې کابو د ستانفور پوهنتون په کچه قیمتي وو او زما د مور او پلار ټول پس انداز یا سپما چې هغوی له کارګرې طبقې څخه وو

[٥] دغه وینا د ۲۰۰۵ کال د جون په ۱۴ وړاندې شوه، د ستنفورد پوهنتون د پیلېزې وینا په توګه ونومول شوه. انټرنیټي سرچینه: (*http://kilgor-trautt.livejournal.com/۷۹۹۹٤۸.html*).

د کالج پر زده کړه لګیده. له شپږو میاشتو وروسته مې په هغه کې هیڅ ارزښت ونه موند، زه نه پوهیدم چې څرنګه خپل ژوند تنظیم کړم او هیڅ داسې مفکوره مې نه درلوده چې کالج به څنګه مرسته راسره وکړي څو په دې اړه پرېکړه وکړم. او هلته مې ټولې هغه پیسې چې مور او پلارمې د ژوند په اوږدوو کې سپما کړې وې، لګیدې. له همدې امله مې پرېکړه وکړه چې کالج پرېږدم او په دې باور شوم چې هر څه به ښه شي. هغه مهال مېتېر ته په کتو یوه ډېره وېرونکې او تر ټولو مهمه پرېکړه وه چې تر اوسه مې کړې وه. همغه شیبه چې ما کالج پرېښوده، کولی مې شوای په هغه ټولګې کې چې لیوالتیا مې ورسره نه وه، دننه نه‌شم او په دې توګه هغه ټولګې ته دننه شم چې ورسره مینه لرم.

**هم تاسو نه‌شي کولی ټکي په راتلوونکي مسیر کې له یوبل سره ونښلوئ، بلکې یوازې دومره کولی شئ ټکي په تېر مسیر کې له یوبل سره وصل کړئ.**

هغه مهال رید کالج ښایي په هېواد کې د خوش نویسۍ تر ټولو ښه نصاب وړاندې کاوو. د پوهنتون په ټولو برخو کې هر پوستېر او د الماریو پرمخ هر سټېکر په ښکلې ښه په لاس لیکل شوي وو. د دې له‌پاره چې ما کالج پرېښی وو، او اړ نه ووم چې ټولګې په نورماله توګه تعقیب کړم، پرېکړه مې وکړه څو د خوشنویسۍ یو ټولګې ونیسم څو هغه زده کړم. ما د (serif) او (an serif) په اړه د بېلابېلو تورو ترمنځ د واټن توپیرونو په باره کې او دا چې څه شی د عالي ټایپوګرافي لامل کېږي، زده کړل. چې ښکلی، تاریخي او له هنري اړخه ظریف وو، داسې چې علم نه‌شوای کوالی هغه ته لاسرسی ومومي او ما هغه په ډېره زړه پورې ښه ترلاسه کړل.

د هغوی هیڅ کوم یو حتی په ژوند کې د عملي استفادې له‌پاره هیله ښښوونکي نه وو، خو لس کاله وروسته کله چې ما لومړنی مکنتاش کمپیوټر طرحه کړ، ټول هغه ما ته راستانه شول او موږ ټول هغه په مک کې طرحه کړل. دا له ښکلې ټایپوګرافۍ سره لومړنی کمپیوټر وو. که چېرې ما په کالج کې د خوشنویسۍ ټولګی نه وای نیولی، نو هیڅ کله به مک له متناسبو واټنونو سره فونټونه یا جلاجلا فونټونه نه درلودای. او دا چې وینډوز یوازې مک کاپي کاوو، د دې احتمال وو چې هیڅ کوم شخصي کمپیوټر هغه نه وای درلودلی. که چېرې ما کالج نه وای پرېښی، هیڅکله به د خوشنویسۍ دغه ټولګی ته نه‌وای تللی او ښایي شخصي کمپیوټرونو د نن ورځې فوق العاده ټایپوګرافي نه وای درلودلی. البته کله چې زه په کالج کې ووم، ما ته د راتلوونکیو ټکیو اتصال ناممکن وو. خو لس کاله وورسته کله چې زه خپل تېر ته ګورم، هغه راته ډېر څرګند دي.

بیا هم تاسو نه‌شي کولی ټکي په راتلوونکي مسیر کې له یوبل سره ونښلوئ، بلکې یوازې دومره کولی شئ ټکي په تېر مسیر کې له یوبل سره وصل کړئ. له همدې امله باید باور ولرئ چې ټکی به په یو ډول سره

ستاسو له راتلوونکې سره ونښلول شي. تاسو باید په یو څه باور ولرئ ـ فکر، برخلیک، ژوند، ماحول، خپل بل هر څیز. دغې تګلارې هیڅ کله دا جازه نه ده ورکړې چې زه ناکام شم او د دې لامل شوې چې دا هر څه بدلونونه زما په ژوند کې راڅرګند شي.

**زما دویم داستان د مینې او له لاسه ورکولو په اړه دی.**

زه طالع‌من ووم ـ ما هغه څه چې د ژوند په لومړیو کې خوښېدل چې ترسره یې کړم ترلاسه مې کړل. زه چې کله ۲۰ کلن ووم له اوږ سره مې د مور او پلار په ګاراژ کې اپل پیل کړ. موږ زحمت وباسه او په ۱۰ کلونو کې اپل زموږ دوو تنو او یو ګاراژ پر مټ په یو ۲ میلیارد ډالري شرکت بدل شو چې ۴۰۰۰ کارکوونکي یې درلودل. یوازې یو کال مخکې موږ تر ټولو ښه تولید د مکنتاش په نوم بازار ته وړاندې کړ، زه نوی ۳۰ کلن ووم او له کاره اېستل شوی ووم. څنګه یو کس کولی شي له یو شرکت څخه چې په خپله یې پیل کړی، اخراج شي؟ ښه، څرنګه چې اپل پراختیا ومونده، ما یو کس وګماره چې فکر مې کاوو ډېر با استعداده دی او له ما سره شرکت پرمخ بیولی شي. په لومړي کال کې هر څه ښه پر مخ تلل، خو له هغه وروسته د راتلوونکي په اړه زموږ لیدلوریو بدلون وموند او بالاخره مو سره شخړه وکړه. کله چې موږ شخړه وکړه، زموږ مدیره پلاوي له هغه څخه پلوي وکړه. له همدې امله زه په ۳۰ کلنۍ کې له شرکت څخه واېستل شووم. او ویلی شم چې په عام محضر کې واېستل شووم. هغه څه چې په ټول ژوند کې ما ورباندې تمرکز درلود، له منځه لاړل او دا راته ډېر ویجاړوونکې مسأله وه.

> یوازینۍ لار چې کولی شئ په بشپړ ډول رضایت ولرئ، دا ده، کوم کارونه چې ترسره کوئ، پر لوی والي یې باور ولرئ

تر څو میاشتو پورې په رښتیا سره نه پوهیدم چې څه وکړم. داسې احساس مې کاوو چې د پانګوالو راتلوونکی نسل مې ناهیلی کړی دی. ځکه چې ما هغه دانه چې راته راغورځول کیده، په ځمکه وغورځوله. نو له دیوید پکارد او باب نایس سره مې خبرې وکړې او هڅه مې وکړه څو د خپلو کړنو له امله عذر وړاندې کړم. زه په یو سترې عامه ماتې باندې بدل شوی ووم او حتی په دې فکر کې ووم چې له کلي وتښتم. خو یو څېز په آرامۍ سره په ما کې جوړښت مونده. لا مې له هغه څه سره چې ترسره کول، مینه درلوده. په اپل کې د بدلونونو راتلل، زما په یاد حس کې یوه ذره هم نه وو بدل کړی. زه رد شوی ووم خو لامې هم له هغه سره مینه درلوده، له همدې امله مې تصمیم نیول پیل کړل.

ما هغه مهال دا درک کړې وه خو له اپل څخه وتل زما د ژوند تر ټولو مهمه پېښه وه، د بریا دروندوالی له یو بیاځلي پیلوونکي روښناتیا سره چې د هر څه په اړه کم ډاډ لري، بدل شوي وو. او ما ته یې اجازه راکړه چې د ژوند تر ټولو نوښتگر پړاو ته گام کېږدم.

د پنځو کلونو په ترځ کې مې یو شرکت د (NeXT) او بل مې د (Pixar) په نوم پیل کړل او د یوې په زړه پورې ښځې مینوال ووم چې وروسته مو سره واده وکړ. د « تای ستوری» په نوم د نړۍ تر ټولو لوي انیمشن کمپیوټري فیلم « پیکسار» مې چمتو کړ چې اوس مهال په نړۍ کې تر ټولو بریالی استدیویي انیمیشن دی. د حالاتو په یو فوق العاده بدلون سره نیکست اپل شرکت وپیره. زه بېرته اپل ته راستون شوم او هغه تیکنالوژۍ چې موږ په نیکست کې جوړه کړې وه، اوس د اپل په اوسني چوکاټ کې ده، زه اوس له لارین سره یو گډ ژوند او بریالۍ کورنۍ لرم.

> **ټولې د باندینۍ هیلې، ټول غرور، او له خجالتۍ او ناکامۍ څخه ټوله ویره ـ دغه څېزونه د مرگ پر وړاندې له پښو غورځي او یوازینۍ څېز چې په رښتیا سره ډېر مهم دی، پر خپل ځای پاتې کېږي.**

زه بشپړ ډاډ لرم چې که له اپل څخه نه وای واېستل شوای، هیڅکله به دغه پیښې نه وای رامنځته شوې. دا یو ډول بد خونده درمل وو چې فکر کووم ناروغ ورته اړتیا درلوده. ځینې وختونه مو ژوند پر یوې خښتې په سر ولي، باور مو له لاسه مه ورکوئ، ما پر دې قناعت کړی چې یوازینی شی چې زه یې اړ کړم څو دوام ورکړم دا وو چې څه مې چې ترسره کول، خوښیدل مې. تاسو باید هغه چې خوښېږي مو ترلاسه کړئ. او دا ستاسو د دندې او ملگرو په اړه صدق کوي. کار مو د ژوند تر ټولو ستره برخه ده. او یوازنۍ لار چې تاسو یې پر مټ نېکبخته کیدی شئ، دا ده چې باید داسې کار ترسره کړئ چې په نظر مو ښه درځي. او د سترو کارونو ترسره کیدو یوازینۍ لار د هغه څه ترسره کول دي، چې خوښېږي مو. هر څه ستاسو په زړه پورې اړه لري. کله چې مو ومونده، هغه به درک کړئ. او د هرې عالي اړیکې په څېر د هر کال په تېریدو سره ښه او لاښه کېږي، نو تر هغه مو چې هغه ترلاسه کړې نه وي، تعقیب یې کړئ، هیڅکله آرامه مه کینئ.

**زما دریېیم داستان د مرگ په اړه دی.**

کله چې ۱۷ کلن ووم د یو نقل قول په اړه مې مطالعه وکړه چې داسې وو: « که چېرې تاسو هره ورځ ژوند داسې تېر کړئ چې گواکې وروستۍ ورځ مو ده، داسې ورځ به راورسېږي چې گمان به مو په حقیقت بدل شي» دغې وینا زه په شدیده توگه تر اغېزې لاندې راوستی ووم. له هغه وخته تر اوسه ۳۳ کاله تېرېږي. هر سبایي په هینداره کې گورم او له ځانه پوښتم: « که چېرې مې نن د ژوند وروستۍ ورځ وي، آیا هغه څه به

ترسره کړم چې نن یې پلان لرم؟» او کله چې په څو پرله پسې ورځو کې یې ځواب « نه» وي، نو باید دا درک کړم چې باید څه ته بدلون ورکړم.

د دې په رایادولو سره چې ډېر ژر به مړ شم، ما ته تر ټولو ښه وسیله وه او ویې شوای کولی د ژوند په سترو پرېکړو کې مې ستر رول ولوبوي. ځکه چې کابو هر څه ـ ټولې د باندینۍ هیلې، ټول غرور، او له خجالتۍ او ناکامۍ څخه ټوله ویره ـ دغه څېزونه د مرګ پر وړاندې له پښو غورځي او یوازینی څېز چې په رښتیا سره ډېر مهم دی، پر خپل ځای پاتې کېږي. د دې په رایادولو سره چې یوه ورځ به مړ شئ، په واقعیت کې تر ټولو ښه طریقه ده چې پوهېږم تاسو د دغه تصور په دام کې له نښلیدو څخه وژغوري چې ګواکی یو شی به له لاسه ورکړئ. تاسو له مخکې بربنډ یاستئ. نو هیڅ داسې دلیل نشته چې د خپل زړه غږ تعقیب نه کړئ.

کابو لس کاله مخکې په ما کې د سرطان ناروغۍ تشخیص شوه. د سهار ۷:۳۰ بجې مې یو سکن ترسره کړ چې په څرګنده توګه یې په پانقراض کې د یو تومور ښکارندوی کوله. زه حتی نه پوهیدم چې پانقراض څه دی، ډاکټرانو راته ویل چې کابو سرطان ته ورته دی چې درملنه یې ناممکنه ده او زه باید له درې کاله او شپږ میاشتو څخه د زیات ژوند انتظار ونه‌لرم. معالج ډاکټرانو راته سپارښتنه وکړه څو کور ته لاړ شم او خپلې چارې تنظیم کړم، په واقعیت کې دا یو کوډ دی چې ډاکټران یې مرګ ته د چمتووالی له‌پاره کاروي. دا په دې معنې ده چې باید هڅه وکړئ څو خپلو ماشومانو ته هغه څېزونه چې فکر یې کوئ، په راتلوونکیو ۱۰ کلونو کې یې ووایئ، په څو محدودو میاشتې کې ووایاست. دا په دې معنې ده څو ډاډ ترلاسه کړئ چې ټولې دروازې مو پر مخ تړلي دي، باید د امکان تر حده د کورنۍ له‌پاره آسانه وي. دا په واقعیت کې ستاسو د خدای پامانۍ معنې ورکوي.

ما ټوله ورځ له دغه کس سره تېره کړه له هغه وروسته ماښام مهال مې یو بیوپسي ترسره کړه، څرنګه چې هغوی اندوسکوپ زما په ستوني کې دننه کړ او له معدې څخه یې کولمو خوا ته تېر کړ. ستنه یې پانقراس ته دننه کوله او څو توموري ټوټې یې ور څخه لېرې کولې. زه یې بې هوښه کړی ووم. خو میرمن مې چې هلته وه، راته وویل چې هغوی حجرې په مایکرویکوپ کې وکتلې او ډاګټرانو وویل چې دغه ډول د پانقراص سرطان ډېر نادره خو د جراحي عمل له لارې د درملنې وړ دی. ما جراحي عملیات ترسره کړل چې اوس روغ رمټ یم.

دا تر ټولو نېږدې شیبه وه چې له مرګ سره مخ شوم او هیلمن یم چې دغه نېږدې شیبه به د راتلوونکیو څو لسیزو له‌پاره وي. دا چې ما له دغه حالت سره ژوند کاوو، اوس کولی شم تاسو ته لازیات ډاډ درکړم چې ما ته مرګ یوه ګټوره خو په بشپړ ډول فکري پدیده وه:

په واقعیت کې هیڅوک دا هیله نه‌لري چې مړ شي. حتی هغه کسان چې غواړي جنت ته لاړ شي، نه غواړي چې هلته د رسیدو له‌پاره مړ شي. او په عین حال کې، مرګ زموږ او ستاسو ګډ هدف دی. تر اوسه هیڅوک په دې نه‌دي توانیدلي چې ورنه وتښتي او دا به همداسې وي. ځکه چې مرګ په زیات احتمال سره یوازې د ژوند تر ټولو ښه اختراع ده. مرګ په واقعیت کې د ژوند د بدلون عامل دی. مرګ زړه پدیده پاکوي څو نوی ځای ورته پیدا شي. اوس‌مهال تاسو نوي یاست خو داسې ورځ به راورسېږي چې تاسو هم په تدریجي بڼه زاړه او پاک شئ. په معذرت سره چې ډېرې ډراماټیکې خبرې کووم، خو ټولې خبرې مې په بشپړ ډول رښتیا دي.

ستاسو وخت محدود دی، نو د نورو کسانو په څېر هغه په ژوند کولو باندې مه ضایع کوئ. د ګونګو مفکورو په دام کې مه راګیر کېږئ چې په واقعیت کې د نورو افکارو له پایلو سره ژوند کول دي. اجازه مه ورکوئ چې د نورو د نظریو غږ مو پر داخلي غږ برلاسی شي. تر ټولو مهمه دا چې له زړورتیا څخه پیروي وکړئ او له خپل زړه او خیال سره برخمن واوسئ. هغوی په یو ډول سره له مخکې نه پوهېږي چې تاسو به په راتلوونکې کې په رښتونې ډول څه شی شئ، نور هر څه په دویم مقام کې قرار لري.

کله چې زه ځوان ووم، د « د ځمکې کرې کتلاک» په نوم یو زړه بایلوونکې خپرونه وه چې زموږ د نسل له‌پاره یې د انجیل ارزښت درلود. یاده خپرونه د ستیوارت برند په نوم مؤلف له‌خوا په میلنو پارک کې چې له هغه ځای سره یې دومره واټن نه‌وو، تألیف شوې وه او هغه دا چې دغه خپرونه په شاعرانه ادا ګانو سره ښکلې کړې وه. په واقعیت کې د ۱۹٦۰ کال وروستۍ لسیزه وه، مخکې له دې چې شخصي کمپیوټرونه او ډسکټاپونه اختراع شي، دا ټول څېزونه د ټایپسټانو، قیچي ګانو او پولارويد کمرو پر مټ چمتو کیدل. یاده خپرونه لکه ګوګل په چاپي پاڼو کې وه، ۳۵ کاله مخکې دا چې ګوګل جوړ شي؛ یوه مطلوبه او له لوړو او عالي مسایلو او وسایلو څخه ډېره خپرونه وه.

ستیوارت او د هغه ټیم د ځمکې کرې کتلاک یو زیات شمېر نسخې خپرې کړې وې او له هغه وروسته چې له تاریخي اړخه یې خپل ارزښت له لاسه ورکړ، هغوی یې څو نوې نسخې خپرې کړې. هغوی دغه کار د ۱۹۷۰ کال په منځنۍ لسیزه کې ترسره کړ او زه ستاسو په عمر کې ووم. د وروستۍ نسخې په پشتي یې د کلیوالي سیمو د یو سړک سهارنی انځور چاپ شوی وو. انځور له داسې ځای څخه وو چې که تاسو زړور یاست، له هغه ځایه به تیر شئ. تر هغه لاندې دغه جمله لیکل شوې وه: « وږی پاتې کیدل په واقعیت کې احمقانه ژوند کول دي». دا د هغوی د خدای پاماني پیام وو او په دې جملې سره یې خپله خپرونه پایته ورسوله. « وږی پاتې کیدل په واقعیت کې احمقانه ژوند کول دي». په حقیقت کې داسې جمله وه چې ما تل

هغه له ځانه سره درلوده او اوس چې تاسو له پوهنتون څخه فارغېږئ، څو یو نوی ژوند پیل کړئ، زه یې تاسو ته هیله کووم.

« وړی پاتې کیدل په واقعیت کې احمقانه ژوند کول دي».

له پاملرنې څخه مو یوه نړۍ مننه.

**بیل گیتس:**

**د هاروارد پوهنتون د محصالانو په فراغت غونډه کې وینا[٦]:**



د شبکو نړۍ، د پوهنتون رییس ښاغلی باک، د پوهنتون پخوانی رئیس ښاغلي رودینستاین، د پوهنتون راتلوونکی رئیس ښاغلي قاوست، د هاروارد همکارۍ بورډ غړیو، د څارونکیو بورډ، استادانو، میندو او پلرونو او په ځانګړې توګه درنو فارغانو!

زه له ۳۰ کلونو راهیسې په دې تمه یم چې دغه جمله په ژبه راوړم:

« پلار جانه، ما به تل درته ویل چې بېرته به راشم او ډیپلوم به له ځانه سره راوړم»

غواړم له هاروارد پوهنتون څخه د دغه ویاړ له امله مننه وکړم. راتلوونکی کال به زه خپله دنده بدله کړم ... او دا به په واقعیت کې یو عالي اقدام وي چې په خپلو لنډو سوانحو ( سي وي) کې د لیسانس دورې ډیپلوم درج کړم.

زه نن فارغان د دې لهپاره هڅووم چې د ډیپلوم ترلاسه کولو لهپاره یې یوه لنډه لار تعقیب کړي. د ځان په اړه غواړم ووایم چې ډېر خوشاله یم. چې کریمسون ماته د « هاروارد پوهنتون تر ټولو بریالی فارغ» خطاب وکړ. فکر کووم دا ما ته په ټولګي کې د اول نومره ګۍ درجې د ترلاسه کولو حیثیت لري .. او ما د هغو کسانو په استازیتوب چې ناکام شوي، تر ټولو ښه کار ترسره کړی دی.

خو زه همدارنګه غواړم د داسې کس په توګه وپېژندل شم چې د دې لامل شوم څو ستیف بالمر د اقتصاد پوهنځي پرېږدي. زه په واقعیت کې یو ناخوښی اثر یم او په همدې دلیل ماته بلنه راکړل شوې څو ستاسو

---

[٦] *Речь была произнесена ٧ июня ٢٠٠٧ г. Интернет-источник:* ***http://abv٢٤.com/rech-billagejtsa-pered-studentami-garvardskogo-universiteta-٧-iyunya-٢٠٠٧-goda***

د فراغت په مراسمو کې ګډون وکړم. که چېرې مې ستاسو د دریځ په اړه خبرې کولای، ښایي ستاسو کم شمېر به نن دلته حاضر ویئ.

هاروارد نن زما لهپاره یوازې یوه فوق العاده تجربه وه. اکاډمیک ژوند په واقعیت کې زړه بایلوونکی وو. ما په داسې ټولګیو کې ګډون کاوو چې حتی په هغو کې مې نوم نه وو ثبت کړی. د لیلیې ژوند هم زړه بایلوونکی دی. زه د کوریر هاوس په رادکلیف کې اوسیدم. تل به مې یو زیات شمېر ملګرو شپه په لیلیه کې له ماسره تېروله او پر مهمو موضوعګانو به مو بحثونه کول. ځکه چې هغوی ټول پوهیدل چې به سهار وختي له خوبه پاڅیدو ته په اندېښنه کې نه ووم. همدا وه چې د ټولنې ضد ګروپ رهبر وټاکل شوم . موږ له یوبل سره د یوې تګلارې له مخې نېږدې شوي وو چې پر بنسټ یې د ټولنیزو کسانو نه منل مو تأییدول.

رادکلیف د ژوند لهپاره ښه ځای وو. هلته ښځې ډېرې وي او د هغه ځای ډېری کسان عالمان او ریاضي پوهان وو. دغه ټولنیز ترکیب زما لهپاره ښه فرصت وو، آیا پوهیدی چې موخه مې څه ده، ما دلته یو غمجن درس زده کړ چې ستاسو چانس زیاتوي. خو بریا مو نه تضمینوي.

له هاروارد څخه زما یو ستره خاطره د ۱۹۷۵ کال د جنوري میاشت وه، کله چې له کوریر هاوس څخه مې د آلبوکویرک له یو شرکت سره چې د نړۍ د لومړنیو شخصي کمپیوټرونو پر جوړولو یې پیل کړی وو، ټیلفوني اړیکه ونیوله او وړاندېز مې وکړ چې پر هغوی سافټ ویرونه وپلورم.

زه اندېښمن ووم چې هغوی به دې ته متوجه نه شي ځکه چې زه د لیلیې یوه محصل یم او زما اړیکه به پرې کړي. خو د دې پر ځای هغوی وویل: « موږ بشپړ چمتووالی نه لرو، یوه میاشت وروسته راشه او له موږ سره وګوره» او دا یو ډېر په زړه پورې کار وو. ځکه چې ما لا سافټ ویر نه وو لیکلی. له هغې شیبې وروسته مې شپه او ورځ پر همدې پروژې کار وکړ چې اضافي عاید یې درلود او د دې لامل شو چې په کالج کې د خپلو زدهکړو دوام ته د پای ټکی کېږدم او له مایکروسافت شرکت سره یو د پام وړ نوی سفر پیل کړم.

هغه څه چې مې د هاروارد په اړه ډېر په یاد پاتې، دا دي چې منځنۍ انرژۍ او پراخ ذکاوت په منځ کې راګیر ووم دغې چارې کولی شوای راته ډېره ګواښوونکی، پاروونکی او حتی کله هم ډېره زړه ماتوونکي واوسي. خو ما چې تل کوم وخت هاروارد کې تېر کړی، هغه ملګري مې چې موندل او بالاخره هغه مفکورې مې چې وربادنې کار وکړی، دا ټول د دې لامل شول چې د پام وړ بدلونونه را پهکې راشي.

خو تېر ته په یوې ځغلندې کتنې سره ... د یوې پښیمانۍ ستر پېټۍ لېږدوم.

ما هاروارد پرته له دې چې په نړۍ کې د ناخوښو نابرابریو څخه بشپړ پوهاوی ولرم، پرېښود. او پر دې بريالی نه شووم چې د روغتيا او شتمنۍ په برخو کې وحشتناکه توپيرونه او هغه فرصتونه چې ميليونونه انسان يې د ناهيلۍ پر ژوند محکومول، په سمه توګه درک کړم.

په اکتشافاتو کې ستر بشري پرمختګ دا نه، بلکې د نابرابرۍ په راکمولو کې له دغو اکتشاقاتو څخه د استفادې څرنګوالی دی، آيا کولی شو له ډيموکراسۍ څخه په استفادې عامه ځواکمن تعليمات، کيفيت لرروونکي روغتيايي مراقبتونه او پراخ اقتصادي فرصتونه، د دغو نابرابريو راکمولو کې د انسات سترې لاسته راوړنې وګڼو.

ما پوهنتون د هغو ميليونونو ځوانونو په اړه له کمې تجربې سره پرېښود چې له هغوی سره په دغه هېواد کې د تحصيلي فرصتونو چمتووالي په برخه کې چل شوی وو. او زه د هغو ميلويونو انسانانو په اړه په هيڅ نه پوهېدم چې مخ پر ودې هېوادونو کې له بې وزلۍ او ناوړه ناروغيو سره لاس او ګريوان دي.

څو لسيزې وخت يې ونيوه چې دا ټول مې درک کړل.

تاسو فارغ التحصيلان په بېلابېلو وختونو کې هاروارد پوهنتون ته داخل شوي ياست. تاسو د هغو محصلانو په پرتله چې مخکې راغلي وو، د نړۍ د نابرابريو په اړه په زيات څه پوهېږئ. په هغو کلونو کې چې تاسو دلته تېر کړي ، زه هيلمن يم چې دا فرصتونه مو موندلي څو په دې اړه فکر وکړئ چې څنګه کولی شو د ټيکنالوژۍ د چټکې ودې په دغه عصر کې بالاخره دغه دول نابرابريو ته رسيدنه وکړو او وکولی شو هغو ته حل لارې ومومو.

يوازې د مباحثې په اړه فکر وکړئ چې په اوونۍ کې څو ساعته او څو ډالره په مياشت کې شته عواملو ته د مرستې لهپاره شته دی او د هغو غوښتوونکي ياستئ څو دغه وخت او پيسې داسې ځای ولګوئ چې د خلکو د ژوندانه په ژغورلو او ښهوالي کې د پام وړ اغېز ولري. تاسو به هغه چېرته ولګوئ؟

د ميليندا او ما پر وړاندې هم همدا ننګونه وه: موږ څنګه وکولی شول له هغو سرچينو څخه په استفادې سره چې په واک کې يې لورو، د لازياتو خلکو لهپاره ښه کار ترسره کړو.

د دغې پوښتنې په اړه د بحثونو په ترځ کې ميليندا او ما د هغو ميليونونو ماشومانو په اړه يوه مقاله ولوسته چې هر کال د نړۍ په بې وزله هېوادونو کې خپل ژوند د هغو ناروغيو له امله له لاسه ورکوي چې موږ مودې مخکې هغه په دغه هېواد کې له منځه وړې ده، لکه شرى، ملاريا، سينه بغل، تور زيړی، ژيړه تبه او داسې

نورې. یوه ناروغي چې ما یې هیڅکله نوم نه وو اوریدلی، روتاوایروس ده چې هر کال د نیم میلیومان ماشومانو د مړینې لامل گرځي ـ دا هیڅ یوه په امریکا متحده ایالتونو کې نشته.

موږ د دغې مقالې په لوستلو سره شدید ټکان وخوړ. موږ وپتیله چې که میلیونونه ماشومان د مړینې په حال کې وي او کولی شو هغوی وژغورو، نو نړۍ باید د دغو ناروغیو د کشف او د هغو لهپاره د درملو چمتو کول په خپلو لومړیتوبونو کې راوي. خو هیڅکله د دې کار شاهدان نه وو. حتی له یو ډالر څخه په کم ارزښت سره. داسې مداخلې وې چې کولی یې شوای ژوندونه وژغوري، خو له بده مرغه چمتو نهشوې.

په هغه صورت کې چې تاسو په دې باور وئ چې هر ژوند یو شان ارزښت لري. دا به ډېره دردوونکي وي چې زده یې کړو، یوازې یو شمېر ژوندونه دغه ارزښت لري چې باید وژغورل شي او یو شمېر نور له دغه ارزښت څخه برخمن نه دي. موږ له ځانونو سره وویل: « دا سمه نه ده خو که سمه وي، دا کار د دې ارزښت لري چې زموږ د مرستو په لومړیتوبونو کې راشي»

له همدې امله مو خپل کارونه په داسې طریقې سره پیل کړل چې هر څوک دلته شته، هغه به پیل کړي. موږ وپوښتل: « نړۍ څنگه کولی شي د ماشومانو د مړینې ننداره وکړي؟»

ساده خو تریخ ځواب دی. بازار د دغو ماشومانو ژوند ژغورلو ته ارزښت ورنه کړ او دولتونو له هغوی سره مالی مرسته ونه کړه. له همدې امله ماشومانو ځانونه له لاسه ورکړل. ځکه چې میندې او پلرونو یې په بازار کې له قدر او په سیستم کې له هیڅ ډول آواز او غږ څخه برخمن نه وو.

خو موږ او تاسو له دواړو هغو څخه برخمن یو.

زموږ په مرستې سره د بازار ځواک کولی شي د بې وزلو لهپاره ښه کار وکړي، البته په هغه صورت کې چې د پانگونې یو نوښتگر نظام ته پرمختیا ورکړو، په هغه صورت کې چې موږ وتوانېږو د بازار ځواک لاسرسي ته پراختیا ورکړو، څو د خلکو یو لویه برخه وکولی شي ورنه گټه پوره کړي او یا هم کم له کمه خپل ژوند ته دوام ورکړي او په دې توگه په دې توانیدلي وي څو له هغو سره چې له تر ټولو بدو نابرابرۍ څخه ځورېږي، مرسته وکړي. په همدې ترتیب موږ کولی شو د نړۍ د ټولو هېوادونو پر دولتونو فشار راوړو څو هغوی د خپلو مالیه ورکوونکیو پیسې په داسې ښه وکاروي چې وکولی شي د مالیه ورکوونکیو ارزښتونه په سمه توگه منعکس کړي.

که چېرې موږ وکولی شو داسې تگلارې تشخیص کړو چې د بې وزلو اړتیاوو ته په داسې طریقو سره رسیدنه وکړي چې له سوداگریز اړخ څخه گټور وي او سیاستوالو ته رأیه ورکړي، په واقعیت کې به په نړۍ کې د

نابرابرۍ کمولو لهپاره د یوې پاینښت وړ تګلارې بنسټ کېږدو. دا یوه دوامداره دنده ده او هیڅ کله پایته نه شي رسیدی. خو د دغې ننګونې پر وړاندې د خوب وینې لهپاره له پوهاوي سره هڅه په واقعیت کې نړۍ بدلوي.

زه هیلهمن یم چې غواړو دغه کار ترسره کړو. خو هغو کسانو ته چې په دې برخه کې متردد او بې باوره دي، او تل وایي چې د دغه کار لهپاره هیڅ لاره نشته، وایم « بې عدالۍ له پیله له موږ سره شته او تر پایه به راسره پاتې شي، ځکه چې خلک .. د دې ......... پروا نه لري» زه په بشپړ ډول د دغه لیدلوري مخالف یم.

پوره باور لرم، دومره مراقبت کوونکي فرصتونه لرو چې نه پوهېږو له هغو سره څه وکړو.

موږ ټول دلته په همدې چاپیریال کې یو وخت ناوخت د یوې انساني فاجعې شاهدان یو، چې زړونه مو ماتوي. خو لا تر اوسه مو په دې اړه څه نهدي کړي، نه د دې لهپاره چې پام مو ورته نهدی کړی، بلکې د دې لهپاره چې موږ نه پوهیدو چې څه ترسره کړو. که چېرې موږ پوهیدای چې څنګه مرسته وکړو، ښایي مرسته مو کړې وای.

د بدلون پر وړاندې اصلي خنډ، په واقعیت کې نه پاملرنه نه، بلکې له حده زیاته پیچلتیا ده.

د دې لهپاره چې مراقبتونه په عمل کې پلي کړو، اړتیا ده څو لومړۍ یو ستونزه وګورو، له هغه وروسته هغې ته حل لارې ولټوو او غواقب یې وارزوو. خو دا د پروسې پیچلتیا ده چې ددغو پام وړ خنډونو د درې ګونو پړاوونو پر وړاندې رامنځته کېږي.

حتی د انټرنیټ او ۲۴ ساعته خبرونو په رامنځته کیدو سره، لاهم یو پیچلی کار ښکاري څو داسېعمل وکړو چې خلک وتوانېږي، ستونزې په عمل کې وګوري. کله چې یو الوتکه سقوط کوي، چارواکي له ځنډ پرته یو مطبوعاتي کنفرانس جوړوي او ژمنه کوي چې څېړنې کوي. د سقوط لامل مومي او په دې ترتیب سره په راتلوونکې له ورته پیښو څخه مخنیوی کوي.،

خو که چارواکي په رښتوني ډول په دې برخه کې ضادق وي، هغوی به ووایي: « د هغو کسانو له ډلې څخه چې نن په ټوله نړۍ کې د هغو پیښو له امله خپل ځانونه له لاسه ورکوي چې د مخنیوي وړ دي، ۰,۵ سلنه یې په دغه الوتکه کې وو، موږ هوډ لرو چې له هر ډول ممکن اقدام سره د دغې ستونزې د حل لهپاره د داسې پیښو مخه ونیسو چې ۰,۵ سلنې خلکو ژوند یې واخیست.

ستره ستونزه د الوتکې سقوط نه بلکې د میلیونونو خلکو د وقایې وړ مړینې دي.

له بده مرغه د دغو ډول مړینو په اړه زیاته مطالعه نه کوو، رسنۍ هغه د نویو پیښو په توگه تر پوښښ لاندې نیسي. خو د مرگ په حال کې د میلیونونو کسان لیدل نوی شی نه‌دی. له همدې امله پر مخینې تمرکز کوي. هغه څه چې له پامه غورځول یې آسانه دي. خو حتی کله چې موږ هغه وگورو، او یا یې په اړه مطالعه کوو، ډېره ستونزمنه ده چې په خپلو دغو سترگو ستونزو ته وگورو. که چېرې وضعیت ډېر پیچلی وي، چې ونه شو کولی ورته رسیدنه وکړو، دا به ستونزمنه وي چې ځور یې وگورو. له همدې امله لېرې پرتو سیمو ته کتنه کوو.

که په رښتیا سره وکولی شو یوه ستونزه وگورو، دا په واقعیت کې هغې ته د رسیدو لومړی گام دی. موږ به د دې وړتیا ولرو چې دویم گام پورته کړو: د هغو خنډونو او پیچلتیاوو په له منځه وړلو کې چې پر وړاندې یې شته، مناسبې حل لارې ومومو.

که چېرې په رښتیا سره غواړو له خپلو مراقبتونو څخه ډېره استفاده وکړو، په هغه صورت کې د حل لارو موندل یوه اړینه چاره ده. که چېرې موږ هر وخت د یو بنسټ یا یو کس پر وړاندې روښانه او ثابت ځواب ولرو، کولی شو ډاډ ترلاسه کړو چې د نړۍ په کچه هیڅ مراقبت نه ضایع کېږي. خو پیچلتیا دغه اقدام ستونزمنوي څو د ټولو هغو کسانو له‌پاره چې مراقبتونه وړاندې کوي، یو عملي مسیر وټاکي. او ددغه چاره د دې لامل کېږي چې د یادو مراقبتونو ارزښت وننگوي.

د دغه ډول پیچلتیاوو له منځه وړلو ته د وړاندوینې وړ څلورو پړاوونو له لارې مناسبې حل لارې موندل کیدی شي: د هدف ټاکل، د اغېزناکې تگلارې ترلاس لاندې نیول، د یادې تگلارې له‌پاره د مطلوبې ټیکنالوژۍ پېژندل او بالاخره له تر ټولو هوښمندې ټیکنالوژۍ استفاده چې له مخکې نه یې په واک کې لورو ـ که څه هم هغه یو ځانگړی شی وي، لکه درمل او د پشه خانې او داسې نورو په څېر یو ساده څېز.

د ایډز ناروغۍ اپیډمی په دې برخه کې د یوې ښې بېلگې په توگه یادولی شو. البته اصلي هدف همغه د ناروغۍ له منځه وړل دي. د اغېزناکې تگلارې تر لاس لاندې نیول په واقعیت کې یوه وقایه ده. مطلوبه او ایده اله ټیکنالوژۍ کولی شي یو واکسین وي چې وکولی شي په یو واحد دوز سره د دایمي معافیت لامل شي. له همدې امله دولتونونه، د درملو د تولید شرکتونه او د نړۍ ستر بنسټونه کولی شي د یاد واکسین په اړه څېړنو ته زمینه برابروي. خو د هغوی کار به په احتمالي توگه له یوې لسیزې څخه زیات وخت ونیسي. له همدې امله موږ باید له هغه څه څخه په استفادې سره چې په واک کې یې لرو، عمل وکړو ـ او د مخنیوي

تر ټولو ښه تګلاره چې همدا اوس يې په واک کې  لورو دا ده چې له خلکو سره مرسته وکړو څو له خطرناکو چلندونو او  کړو وړ څخه ډډه وکړي.

د دغه هدف په تعقیب سره، څلور پړاویز دوران بیاځلي پیلېږي. دا یوه بېلګه ده. مهم ټکی دا دی چې هیڅکله باید خپل کار او فکر ونه دروو ـ او هیڅکله هغه کار ترسره نه کړو چې موږ په شلمه پیړۍ کې د ملاریا او توبرکلوز ناروغیو پر وړاندې ترسره کړی او هغه د پیچلتیا پر وړاندې له تسلیمدو او د میدان له پرېښودو څخه عبارت دي.
د ستونزې له کتو او یو ټولیزې تګلارې له ترلاس لاندې نیولو وروسته وروستی ګام مو د کار د عواقبو او پایلو کچ کول او د بریاوو او ناکامیو شریکول دي، څو نور ستاسو له هڅو څخه درس واخلي.

د اړتیا وړ احصائې مو په واک کې دي. باید د دې وړتیا ولرئ څو وښیئ چې یو پروګرام میلیونونو ماشومانو ته واکسین چمتو کوي. باید د دې وړتیا ولرئ چې د هغو شمېر ماشومانو کمښت وښیئ چې د ناروغیو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي. دغه چاره نه یوازې د پروګرام ښه‌والي له‌پاره ارزښت لري، بلکې د  شرکتونو او دولتونو د پانګونې د جلب بهیر کې د همکارۍ له‌پاره هم مهمه ده.
که چېرې وغواړئ خلک وهڅوئ چې په دغه چاره کې ګډون وکړي، باید ډېرې شمېرې او اعداد په عمل کې وښیئ او مکلفیت به ولرئ چې پر بشري ټولنه د خپلو فعالیتونو عواقب منعکس کړئ څو خلک دا احساس وکړئ چې په زیان منوونکیو کورنیو کې د یو ژوند ژغول څومره ارزښت لري.
زما په یاد دي چې څو کاله مخکې داووس ته لاړم او د نړۍ په روغتیايي پلاوي کې مې ګډون وکړ څو د هغو مواردو په اړه خبرې وکړم چې باید د خلکو د ژوند ژغونې په برخه کې ترلاس لاندې ونیول شي. د میلیونونو انسانانو ژوند! یوازې د هغو لیوالتیاوو په اړه چې د یو کس د ژوند له ژغورنې څخه یې ترلاسه کوئ، یوه شیبه فکر وکړئ ـ له هغه وروسته هغه په میلیونونه ځله ضرب کړئ ... خو دا تر ټولو ستړیا لرونکی پلاوی وو چې تر اوسه مې په کې ګډون کړی دی. دومره ستړی کوونکی چې حتی زغمل یې راته ستونزمن وو.
هغه څه چې د دې لامل شول څو دغې ځانګړې تجربې ته پاملرونه وکړو، دا ده چې زه سم همغو ورځو کې له یو محفل نه راغلی ووم چې په ترڅ کې مې یې د سافټ ویر دیارلسمه نسخه معرفي کړه او خلکو په شور او ځوږګ سره د هغه پر وړاندې غبرګ پورته کړ. زما ډېر خوښېږي چې خلک د سافټ ویر په اړه په احساساتو راولم، خو ولې نه شم کولی د  خلکو  د ژوند په ژغولو کې ډېر احساسات راوپاروم؟

نه شئ کولی خلک احساساتي کړئ، مګر دا چې له هغوی سره د مرستې وړتیا ولرئ، عواقب یې وګورئ او هغه احساس کړئ، بالاخره دا چې څنګه کولی شو دغه کار ترسره کړو، په واقعیت کې یوه پیچلې پوښتنه ده.

له دې سره سره زه هیلمن یم، هو، نابرابری د ژوند له پیله له موږ سره شته، خو هغه نوي وسایل چې موږ یې د دغو پیچلتیاوو په له منځه وړلو کې په واک کې لرو، له لومړي سره له موږ سره نه وو، دا بشپړ نوي وسایل دي او کولی شي له موږ سره مرسته وکړي څو له خپلو مراقبتونو څخه اعظمي استفاده وکړو او همدا دلیل دی چې کیدی شي زموږ راتلوونکې له تېر څخه ډېر توپیر ولري.

په اوسني عصر کې خلاقیت او نوښت د ورځې په تېریدو سره معرفي کېږي او پرمختیا مومي، لکه: د بیولوژیکي،کمپیوټري، د انټرنیت او داسې نورې ټیکنالوژۍ. دا ټول موږ ته د دې فرصتونه برابروي چې تر اوسه د بې وزلۍ او د وقایې وړ ناروغیو له امله د مړینې ستونزو د پایته رسولو په برخه کې زموږ په واک کې نه وو.

له نن څخه پوره شپېته کاله مخکې جورج مارشال دې پایلې ته ورسید او یو پلان یې وټاکه څو اروپایي ملتونو ته چې نوي له جګړې څخه راوتي وو، مرسته وکړي. هغه وویل: « فکر کووم چې یوه ستونزه دا ده څو ستونزه په واقعیت کې یوه ستره پیچلتیا ده او هغه کتلوي حقایق چې د چاپي رسنو او راډیوګانو له لارې خلکو ته رسېږي، په حقیقت کې د هغه کس لهپاره چې د سړک پر سر ژوند کوي، دا ډېره ستونزمنوي. څو د اوضاع په اړه څرګنده او کره ارزونه ولري. شته واټن ته په پام سره دا ډېره ناممکنه ده چې د نړۍ له ټولو مهمو پیښو څخه پوهاوی ولرو او هغه درک کړو»

د مارشال له وینا دېرش کاله وروسته، په داسې حال کې چې ټولګیوال مې له ما پرته فارغ شوي وو، داسې ټیکنالوژۍ را پیدا شوه چې نړۍ یې کوچنۍ کړه او هغه یې په یوه پرانستې فضاء کې د لیدو وړ چې دومره لېرې نهده، بدله کړه.

د کم لګښته شخصي کمپیوټرونو رامنځته کیدل د یوې پیاوړې شبکې د رامنځته کیدو لامل شول چې د زده کړې او اړیکو ټینګښت لهپاره یې ښه فرصتونه چمتو کړل.

د یادو شبکو جادیي وړتیا نه یوازې په دې کې ده چې واټنونه یې له منځه یوړل، بلکې کولی شي هر کس ستاسو ګاونډ ته راولي. په همدې ترتیب توانیدلي چې د روښانه ذهنیتونو په شمېر کې هم د پام وړ زیاتوالی

راولي. چې له هغو څخه په استفادې سره کولی شو پر عینې ستونزې ګډ کار وکړو او هغه د نوښت او خلاقیت درجې لوړې کچې ته ورسوو.

دا په داسې حال کې ده چې د نړۍ په کچه په هرو پنځو تنو یو کس دغې ټیکنالوژۍ ته لاسرسی لري. دا په دې معنې ده چې یو زیات شمېر خلک له دغه نوښت ګر ذهنیت څخه د باندې پاتې دي. او دا د لوړو استعدادونو، عملي ذکاوتونو او اړوندو تجربو خاوندان دي چې له بده مرغه د خپلو استعدادونو د ودې او له خپلو رغانیزو مفکورو څخه د استفادې په برخه کې هیڅ ډول ټیکنالوژي په واک کې نه‌لري.

موږ اړ یو چې د امکان تر بریده نړیوال دغه ډول ټیکنالوژۍ ته لاسرسی ولري، ځکه چې یاد پرمختګونه کولی شي په هغو برخو کې چې انسانان د دې وړتیا لري څو له یوبل سره ستر انقلابونه رامنځته کړي، مرسته وکړي. دا نه یوازې ملي دولتونو بلکې د پوهنتونونو، شرکتونو، کوچنیو سازمانونو او حتی خلکو ته زمینه برابروي چې ستونزې او تګلارې وګوروي او د خپلو هڅو عواقب اندازاه کړي، همدارنګه هغې لوړې، بې وزلۍ او ناهیلۍ ته چې جورج مارشال ٦٠ کاله مخکې یادونه کړې، رسیدنه وکړي.

هاروارد پوهنتون د کورنۍ غړي: دلته همدا چاپیریال د نړۍ د سترو فکري استعدادونو یوه ستره ټولګه ګڼل کېږي.

د څه لپاره؟

په دې کې هیڅ شک نشته چې استادانو، فارغانو، محصلانو اود هاروارد پوهنتون ګټه اخیستوونکیو له خپلو وړتیاوو څخه دلته او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خلکو ژوندانه د ښه‌والي په برخه کې اغېزناکه استفاده کړې ده، خو آیا موږ نه شو کولی لازیات کارونه وکړو؟ آیا هاروارد پوهنتون د دې وړتیا نه لري چې له خپلو وړتیاوو څخه د هغو کسانو د ژوند په ښه‌والي برخه کې چې حتی هیڅ نومونه یې نه دي اوریدلي لازیاته استفاده وکړي؟

اجازه راکړئ چې د پوهنځیو له رئیسانو او استادانو څخه چې دلته په هاروارد پوهنتون کې دي، د فکري رهبرانو په توګه وغواړم: دا چې تاسو نوي استادان ګمارئ، نوې جایزې ډالۍ کوئ، تحصیلي نصاب ارزوئ او د علمي درجې او رتبو مواصفات ټاکئ په مهربانۍ سره له ځانه وپوښتئ:

آیا خپل تر ټولو ښه افکار د خپلو سترو ستونزو د حل له‌پاره ځانګړي نه کړو؟

آیا هاروارد پوهنتون باید خپل استادان ونه هڅوي څو د نړۍ تر ټولو بدې نابرابرۍ له منځه یوسي؟ آیا د هاروارد پوهنتون محصلان باید د نړۍ په کچه د بې وزلۍ د ژورتیا په اړه ... د نړۍ په کچه د لوږې خپریدو

... د خوندي ښکلاک اوبو نشتوالي ... له ښوونځیو څخه د نجونو د بې برخې کیدو ... هغه ماشومان چې له درملنې مخکې د ناروغۍ له امله خپل ځانونه له لاسه ورکړي، ونه روزل شي؟

آیا د نړۍ شتمن خلک باید د بې وزله او محرومو وګړیو د ژوند په اړه پوهاوی ونه لري؟

دا ټولې پوښتنې په حقیقت کې لفاظي نه‌دي بلکې داسې ورځ به راورسېږي چې تاسو په خپلو پالیسیو سره د هغو پر وړاندې ځواب ووایئ.

هغه ورځ چې په پوهنتون کې شامل شوم، مور مې ډېر ویاړ کاوو. تل بې راباندې فشار راووست چې نورو ته ډېر کار وکړم. له واده څخه مې څو ورځې مخکې یو ستر محفل جوړ کړ چې په هغه کې هغې په لوړ غږله میلیندا سره زما د واده په باره کې لیک لوست چې هغې ته لیکل شوی وو. مور مې هغه مهال په سرطان اخته وه او زیات په تکلف وه، خو د خپل پیام وړاندې کولو له‌پاره یې له یو بل فرصت څخه استفاده وکړه او د لیک په پای کې یې څرګنده کړه: « له هغوی څخه باید ډېره تمه وشي چې هغوی ته یې څه ورکړي دي».

کله چې په پام کې ولرئ چې زموږ له‌پاره دلته راټول شوي یاست، څه درکړل شوي دي. البته د استعداد، امتیاز او فرصت له اړخه. هغه مهال به ووینئ چې د هغه څه په اړه هیڅ محدودیت نشته چې نړۍ یې له موږ څخه انتظار کوي.

په هغه سن کې چې یم، غواړم هر فارغ دلته په جلا جلا توګه وهڅووم څو یوه مسأله حل کړي، یوه پیچلې ستونزه، یوه ژوره نابرابرۍ درک او یاده برخه کې په یوه کارپوه بدل شي. که چېرې تاسو هغه ته د مسلکي ودې د پاملرنې په مرکز کې ځای ورکړي، ډېره به فوق العاده وي. خو اړ نه یاست چې دغه کار د دې له‌پاره ترسره کړئ چې له ځانه یو ډول عواقب پر ځای پرېږدئ. کولی شئ په اوونۍ کې د څو ساعتونو له‌پاره د انټرنیټ له مخ پر زیاتیدونکې ځواک څخه استفاده وکړئ څو لازیات معلومات ترلاسه کړئ. نور کسان چې درسره همفکره دي، تشخیص کړئ، خنډونه وګورئ او بالاخره له ستونزو څخه د وتو له‌پاره حل لارې پیدا کړئ.

اجازه مه ورکوئ چې پیچلتیاوې مو ودروي، بلکې هڅه وکړئ چې تل فعال واوسئ، سترې نابرابرۍ له منځه یوسئ، دا به ستاسو د ژوند تر ټولو ستره تجربه وي.

تاسو فارغ التحصلان دا مهال ستر زړه راښکوونکي یاست، کله چې له هاروارد پوهنتون څخه فارغېږئ، داسې ټیکنالوژۍ ته به لاسرسی پیدا کړئ چې زموږ هم دوره کسانو هیڅ کله هغه په واک کې نه درلوده. تاسو د نړۍ له نابرابرۍ څخه پوهاوی لري، چې موږ ورڅخه بې برخې وو. او د دغه پوهاوي په درلودلو سره په

طبيعي توګه له يو پوهاوی درلودونکي وجدان څخه برخمن یاستئ. خو که له دې سره سره تاسو هغه خلک هېر کړئ په خپلو کمو هڅو سره کولی شئ د هغوی ژوند بدل کړئ، په هغه صورت کې به په یقین سره چې د وجدان له عذابه وځورېږئ. تاسو زموږ په نسبت ډېر څه لرئ، تاسو يې بايد ژر پيل کړئ او د اوږدې مودې له پاره ور ته دوام ورکړئ.

په هغه پوهاوي او تجربې سره چې تاسو يې لري، نو ولې نه غواړئ هغه ترسره کړئ؟

هيلمن يو چې له ۳۰ کلونو وروسته تاسو هاروارد پوهنتون ته راوګرځئ او د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې په خپلو استعدادونو او انرژۍ سره مو ترسره کړي دي. تمه لرم چې نه يوازې د خپلو مسلکي لاسته راوړنو، بلکې د دغه اصل په پام کې نيولو سره هم د ځان په اړه قضاوت وکړئ چې څومره توانيدلي ياست د نړۍ ژورو نابرابريو ته رسيدنه وکړئ ... او بالاخره د دې پر بنسټ آن په دې اړه قضاوت هم وکړئ چې څومره توانيدلي ياست له هغو کسانو سره چې له تاسو نه يو نړۍ لېرې ژوند کوي او له انسانيت پرته درسره هيڅ ډول مشترکات نه‌لري، چلند او رسيدنه کړې ده.

ستاسو د تلپاتې بريا په هيله.

## شپږمه ضميمه

**د مناظرې اصطلاحات:**

**استدلال (Argument)**: له ارگومنتوم لاتينې کلمې څخه اخېستل شوی او له قضاوت ( د اړوند دريځونو له ټولگې) څخه عبارت دی چې په هغه کې توجيه کول د قضاوت دريځ ( يا نظريې) نه بېليدونکي جزء گڼل کېږي. د کارپاېر او پارلماني مناظرې د هغو استدلالونو له ډلې څخه دي چې د هغوی له دريځ څخه ملاتړ کوي.

**د معما لوبې په اړه استدلال(Argument in Dilemma game)**: له هغه استدلال څخه عبارت دی چې په واقعيت کې د وړاندېز شوې پروژې د وړتياوو ښيگڼې وړاندې کوي.

**تر ټولو ښه ويناوال (Best-speaker)**: له هغه موقف څخه عبارت دی چې د قضاوت کوونکيو د لوړو نمرو په ورکولو سره د مناظره کوونکي لهخوا د مناظرې ټورنمنټونو د مقدماتي دورې بهير کې ترلاسه کېږي.

**مناظره (Debate)**: د شخړو پر وړاندې د رسيدنې لهپاره له يوې رسمي تگلارې څخه عبارت ده چې په کې دواړه لوري له يوبل سره په تعامل له يو ځانگړي ليدلوري څخه استازيتوب کوي څو يو درېيم گړی ( قضاوتکوونکی، کارپوه، د مجلس حاضر کسان او داسې نور) قانع کړي.

**په پارلماني مناظرو کې تقابل (Dichotomy in the Parliamentary debates)**: د دولت او اپوزسيون د کرښو له پرتلهييزې تحليلي تکلارې څخه عبارت دی چې په پام کې ده په پای وينا کې ورنه استفاده وشي.

**ثبوت (Proof)**: د منطقي قضاوتونو او د حقايقو توجيې له ټولگې څخه عبارت دی چې د هر ډول معقولو او اړوندو قضاوتونو له لارې وړاندې کېږي.

**د اطلاعاتو ټکی (Point of information)**: په واقعيت کې داسې يوه پوښتنه ده چې په پارلماني ټاکنو او معما لوبو کې د مقابل اړخ لهخوا مطرحه کېږي او داسې يوه تبصره ده چې د بيانيې پر وړاندې ترسره کېږي چې بايد له ۱۵ ثانيو څخه زيات وخت ونهنيسي.

**د کارل پاپر مناظرې قضیه(Case in Karl Popper debate)**: د ( نظر اختلاف) طرحې په اړه له مدارکو او شواهدو څخه عبارت ده چې د اجراء وړ به وګرځي او د فرمان، معیارونو او اصلي استدلالونو تاکوونکی وي چې د لومړی ځل لهپاره د ټیمونو لهخوا د وړاندې شوې بیانیې او د ویناوالو د وینا پر مهال مطرحه کېږي.

**د معما بولې قضیه (Case in Dilemma game)**: د پروژې له سرلیک څخه عبارت ده چې له یوې مشخصې جملې څخه په استفادې د وړاندېز شوي پلان ماهیت وړاندې کوي.

**د پارلماني مناظرو قضیه (Case in the Parliamentary debates)**: له وړاندېزې شوې لایحې/ دریځ څخه عبارت ده چې د دولت د لومړني ټیم لهخوا وړاندې کېږي.

**کلیدي کلمې (Keywords)**: له هغو کلمو څخه عبارت دي چې د موضوعګانو د طرحې او د لوبې د حدودو په اړه د تعریف وړاندې کولو پر مهال په پام کې نیول کېږي.

**معیار (Criterion)**: له یوناني (Κριτήριον) کلمې څخه اخېستل شوی او د تشخیص، قضاوت او ستندړډو وسایلو معنې ورکوي. یا په بل عبارت د مشخصاتو ( حد اقل) پر وړاندې د هر څه د ارزونې لهپاره تصمیم د قاعدې، سرچینې او نښې څخه عبارت دی چې غوښتل شوي وي او یا هم هغه هدف چې یاد ټیم یې د ترلاسه کولو غوښوونکی وي.

**د پارلماني مناظرې متقابله قضیه (Counter case in the Parliamentary debates)**: د لومړي مخالف ګروپ له وړاندې شوې لایحې او دریځ څخه عبارت ده.

**میکانیزم (Mechanism)**: د پروژې د تګلارو په اړه له تفصیلي توضیحاتو او« پروژه به څنګه پلې شوې؟» پوښتنې ته له ځواب څخه عبارت دی. د بېلګې په ډول د دغې پروژې تمویل، بشري سرچینې او داسې نور به له کومه ځای تأمین شي.

**غیر رسمي مناظرې (Informal debates)**: د ورځني ژوندانه، بې نظمو او بې قانونه مناظرو څخه عبارت دي.

**د کارل پاپر مناظرو کې متقابلې پوښتنې(Cross-questioning in the Karl Popper debate)**: د درې دقیقه‌یي پوښتنو له څلورو دورو څخه عبارت دي چې د یو ټیم ویناوال یې مطرحه کوي او دویم ویناوال یې ځوابوي.

**د معما لوبې ستونزه (Dilemma game)**: له یوې پیچلې مسألې څخه عبارت ده چې مطالعې او حل لارې ته اړتیا لري.

**د معما لوبې پروژه(Project in Dilemma game)**: د ستونزو د حل له‌پاره له یو پلان څخه عبارت ده چې د فلسفې، قضیې او میکانیزم په څېر جوړښتي عناصر لري.

**د معما لوبې او پارلماني مناظرو اعتراض (Dilemma game)**:. د مناظرې چوکاټ د نقض ( « د لوبې اعتراض») او یا له مخالفانو سره د ناوړه چلند ( شخصي اعتراض»په اړه د لوبې د لوړپوړي قضاوت کوونکي د بیاکتنې له غوښتې څخه عبارت دی.

**د کارل پاپر مناظره کې د نظر اختلاف/ د قضیې رد (Rebuttal in the Karl Popper debate)**: د مخالفانو د وړاندې شویو استدلالونو د رد له لارې د اصلي دریځ په اړه له بیاکتنې څخه عبارت دی.

**په پارلماني مناظرو کې د نظر اخلاف/ د قضیې رد (Rebuttal in the Parlimentary debates)**: د لومړی وزیر او د اپوزسیون د رهبر د پای ویناوو له سرلیک څخه عبارت دی ***Supporting speech in the***

**په پارلماني مناظرو کې ملاتړې ویناوې (Supporting speech)**: د لومړی وزیر او د اپوزسیون د رهبر د پای ویناوو له بل سرلیک څخه عبارت دي.

**د پارلماني مناظرو ځانګړی او تخصصي پوهای/ پوهه ( Specialized ‘special’ knowledge in parliamentary debates)**: د دولت په قضیې پورې اړوندو تفصیلي حقایقو څخه عبارت ده چې له قضیې سره ښکاره اړیکه نه لري او له هغه پرته ټیم نه شي کولی د اپوزسیون له خوا رد شي.

**په معما لوبه کې ځانګړې اصطلاح‌ګانې**(Specific terms in Dilemma game):.له ځانګړیو اصطلاح‌ګانو څخه عبارت دی چې په پروژه کې کارول کېږي او د لاندې درک له‌پاره ورته اړتیا ده.

**شته حالت (Status quo)**: له (status quo) لاتینې کلمې څخه اخېستل شوی چې مفهوم یې هغه شته حالت یا موقعیت دی چې موږ په کې قرار لرو. یا په بل عبارت د چارو اوسنی وضعیت دی. په پارلماني مناظرو او معما لوبو کې له هغه دریځ یا موقعیت څخه عبارت دی چې په هغه کې ټولنه، هېواد او داسې نور (احصائیوي اطلاعات، شته قانون اسناد او داسې نور) په یوه واحده وړاندې شوې حل لاره کې په پام کې نیول کېږي.

**د وخت کنټرولوونکی (Timekeeper)**:.هغه کس دی چې د ویناوالو د وینا وخت کنټرولوي.

**تکرار/تضاعف (Tautology)**: له (Ταυτολογία) مرکبې یوناني کلمې څخه اخېستل شوی چې (ταυτο) د عین څیز په معنې او (λόγος) د « افکارو، دلیل او وینا» په معنې دی. یا په بل عبارت له یو لفظي شخصیت څخه عبارت دی چې د ورته کلمو نا برابر شوی تکرار وړاندې کوي چې له عین مفهوم څخه برخمنې وي، تکرار/ تضاعف په پارلماني مناظرو کې د تعریف له اړخه د قضیې له تأیید او حقیقت منلو څخه عبارت دی.

**حقیقت پالنه (Truism)**: د انګلسي ژبې له « حقیقت یا سم» یا (True) له کلمې څخه اخېستل شوې چې له ګډې پوهې او درک څخه عبارت ده او په واقعیت کې هغه حالت دی چې په کې هیڅ ډول ابهام شتون ونه لري.

**په پارلماني مناظرو کې حقیقت پالنه (Truism in the Parliamentary debate)**: له هغې قضیې څخه عبارت ده چې پر وړاندې یې قانع کوونکي استدلالونه ناممکن وي.

**فیدبک (Feedback)**: د مناظرې په پای کې د مناظرې او د لوبې ګډونوالو د ویناوو بهیر ښه‌والي په موخه د قضاوت کوونکي ( قضاوت کوونکیو) د شفاهي نظریو له وړاندې کولو څخه عبارت دی.

**د معما لوبې فلسفه**(Philosophy in Dilemma game): له هغه هدف یا ارزښت څخه عبارت ده چې پروژه وربانديې ولاړه ده.

**د پارلماني مناظرو فلسفه** (Philosophy in the Parliamentary debates): د نړیوالو ارزښتونو هدف څرګندولو اصلي مفکورې څخه عبارت ده چې کولی شئ له هغو څخه په استفادې د موضوع ګانو او دریځونو د څرګندولو له لارې د وړاندې شویو ستونزو لهپاره وړاندېز شوې حل لارو ته لاسرسی ومومئ.

**رسمي مناظره** (Formal debate): هغه مناظره ده چې د قوانینو پر بنسټ ترسره شي او د مخالفو لیدلورو د نظر له اختلاف څخه ډاډ ورکړي.

**د مناظرې چوکاټ** (The format of the debate): د مناظرې له طرزالعمل څخه عبارت دی چې په هغه کې د قوانینو ټولګه ( د لوبغاړو شمېر او د هغوی مسوولیتونه، د ویناوو محدودیت، د قضايي ارزونې یو سیستم او داسې نور موارد) شامل دی.

**دمناظرې فرهنګ یا مناظره پالنه** (Debatizm):

**د پارلماني مناظرو قضیه کې متقابل انحصار** ( Mutually exclusive in the case of parliamentary debates): د موردي مخالفت په اړه له هغه معیار څخه عبارت دی چې په واقعیت کې منعکس شوی وي او ونه شوی کولی هغه له یوې دولتي قضیې سره هممهاله اجراء کړو.

**مناظره فرهنګ یا مناظرې پالنه** (Debatizm): له هغو ټاکل شویو څرګندونو څخه عبارت ده چې د مناظره کوونکیو لهخوا په پام کې نیول شوی وي.

**د معما لوبې ناسم تعبیر**(Misrepresentation in Dilemma game): د مخالفانو له کلمو څخه له ناسم تعبیر او یا له حقیقت څخه لېرې مطلب له وړاندې کولو څخه عبارت دی.

**د مناظرې بېلابېلو چوکاټونو کې ټاکل شوي د نظر اختلافونه(Designated clashes in different formats of debate)**: د مخالفانو لهخوا وړاندې شویو پوښتنو پر وړاندې له ځواب‌وینې څخه عبارت دی. د مفکورو، طرحو، اصولو، حقایقو او لیدلورو ترمنځ مستقیم تضاد.

**په پارلماني مناظرو او معما لوبو کې نوی فکر ( New thought in the Parliamentary debates and Dilemma game is)**: د مخالفانو د استدلالونو پر وړاندې د پای وینا او نویو یا هغو استدلالونو له معرفي څخه عبارت دی چې پخوا نه دي اوریدل شي.

**په پارلماني مناظره کې د فلسفې ترویج/ پیاوړتیا ( Promote the philosophy in the Parliamentary debate)**: د لوبې په پیل کې د هغو ټیمونو د موخو او ارزښتونو په اړه د ویناوالو د ویناوو په اړه له بحث وړ ټکیو څخه عبارت ده چې تل د لوبې په پیل کې ور باندې ټینګار کېږي.

**د پارلماني مناظرې کې د قضیه توضیح(Explain the case in the Parliamentary debates)**: د څوک، څه، څنګه، ولې او څه؟ پوښتنو پر وړاندې ځواب او پلان ټولو جوړښتي عناصرو له تفصیلي څرګندولو څخه عبارت ده چې باید د وړاندې شوي وړاندېز پر بنسټ ترسره شي.

**په پارلماني مناظرو او معما لوبه کې د دریځ بدلون ( Shifting the position in the Parliamentary debates and Dilemma game)**: په دویمه / پای وینا کې له مخکې اعلان شویو مقررو په مخالفت کې د قضیې/ پروژې د مطالعې له بدلون څخه عبارت دی.









U N
D P

*Empowered lives.*
*Resilient nations.*

United Nations Development
Programme Afghanistan
UNDP Country Office
Post Box No. 5
UNOCA Complex, Jalalabad Road
Kabul, Afghanistan
www.af.undp.org

**Follow UNDP Afghanistan on**

Twitter.com/UNDPAF
Facebook.com/UNDPinAfghanistan
Youtube.com/UNDPAfghanistan